بسم الله الرحمن الرحيم

سریزه

****

دنړۍ په ټولو سيالو ژبو کې پښتو ژبه هغه سيالمنده او بډايه ژبه ده چې د دې ژبې ويونکي واړه مېلمه پاله،وطنپاله،او قوم پاله وګړي شمېرل کېږي. خو ! له بده مرغه چې پښتانه هيڅا دغه سترو سياليو ته په آرامه نه دي پرې ايښي همېشه يې د پښتنو – پښنو ته تيرې تولولي دي –دا چې د افغانستان د نورو قامونو تر نيوکو لاندې را نه شو ګاونډيو هېوادونو هم پښتانه او افغانان د آرامه ژوند سيوري ته نه دي پرې ايښي.
دغه ستونزې د هېواد په ګوټ ، ګوټ کې د هر افغان پرمخ د درندې سپېرې سبب وګرځېدې –او په دې درې لسيزو کې د هېوادبې شمېره وګړي دمسافرت او هجرت ښامار وخوړل-څوک يې په دښتو ،سمندرونو ،او غرونو کې د پنا اخيستلو په موخه نورو هېوادونو ته د تللو په سبب دخواړه ژوند له بهرې څخه بې بهرې کړل . او تر ننه يې ميندې او خويندې دراتللو لارې ته د ژوند ترخې شپې لنډوي ، خو تر کومه ؟او ولې؟د هېواد ددغو ستونزو د هوارې له پاره ډېرو رسنيو ته ضرورت دی تر څو- وکولای شي دغه ستونزې دليکوالۍ، او شاعرۍ په ښه هېواد والو ته ورسوي. او د حالا تو له منشور نه يې اګا کړي –په دغه بنياد او بنسټ ((پيلوزی)) او ((بورا)) مجلې هم د رسنيو يوه برخه ده چې د هېواد تاريخي ارزښتونه ، قبيلوي جوړښتونه ، د اسلام رکنونه ، ادبي سر چينې ،هنر پالنه،دهېواد وتلې څېرې، دهېواد ستونزې ، او د وګړو فريادونه د ناورينينو له-لاسه يې د ليک دود ببلګې او برخې دي –دغه دروند او ستر کار يواځې په څو کسانو پورې خاصه نه ده –دې لارې ته د-ډېرو ليکوالوادبيبانو او شاعرانو-اړتيا ده دا د ټولو مشترک کار دی چې دې رسنيو سره مالي او زاني پانګونه وکړي – تر څو وکولای شو چې دغه دوه ادبي مجلې تر ډېره حده مخ په وړاندې يوسو او تاندې يې وساتو. تر څو د هېواد والو تاريخي او ثقافتي ارزښتونه خوندي پاتې شي.

- پيلوزی پېژندنه ــــــ پښتو ژبه يوه بې کچه او بډايه پانګه ده زمونږ ډېر بې بها پښتو توري او لغتونه شته چې تر ننه پورې مونږ ترې نا خبره پاتې يو ((پيلوزی)) هم د پښتو ژبې يوه پخوانۍ او کليوالي لحجه ده چې مونږ يې اصل له ((رڼا)) سره په تله کې اچوو – او د معنی په لحاظ يې سمبول مشال يا رڼايي ده –رڼا هم دعلم او پوهې سرچينه ده.چې د ادب لارويو ته يې تل سپرغۍ ور الوځي –دا په اصل کې زمونږ دهېواد په ښکلو غرونو کې يو ډول ((لرګی)) دی چې اکثره وګړي يې د ((شونتۍ)) په نامه پېژني او د ((دري)) يا ((فارسي)) ژبې ويونکي يې د ((چراغ چوپ)) په نامه پېژني او يو شاعر هم په دې اړه داسې وايي.

زه دې شونتۍ په رڼا درغلمه نه وبربدم
خو تا وړه غوندې ډيوه له ډاره ماته کړله

اسلامي لارښود

دبیت الله تاریخ او جوړول

ابراهیم (ع) به کله ، کله د الله تعالی په اجازه د شام څخه په ګړندي براق مکې ته راتللو یو ځل چې راغی الله (ج) ورته حکم وکړ تاسې دواړه پلار اوزوی زما کور جوړ کړئ کله چې ابراهیم علیه اسلام مکې مکرمې ته را ورسېده نو د اسمعیل علیه اسلام زمزم ته نږدې شو د ونې لاندې په جونګړه جوړولو بوخت ؤ کله یې چې خپل مهربان پلار ولیده ورته پاڅېده او زیات احترام یې وکړ ابراهیم علیه اسلام اسمعیل علیه اسلام ته وویل چې ما ته الله تعالی حکم کړی چې پلار او زوئ بیت الله جوړ کړئ اسمعیل علیه اسلام ور ته وویل چې د الله (ج) حکم په ځای کړه زه به زیاته مرسته در سره وکړم دواړو کلنګ په لاس ولاړ ؤ مګر هغوی نه پوهېدل چې بیت الله په کوم ځای کې جوړ کړي. راځئ چې (علي رضي الله عنه ته غوږ شو) فرمایلي یې دي: کله چې الله تعالی ابراهیم (ع) ته د بیت الله د جوړولو حکم وکړ نو د اسمعیل (ع) او د بي بي هاجرې په ګډون له کوره ووتل کله چې مکې ته ورسېدل نو هلته یې یوه سپینه وریځ ولیده له همدې وریځې څخه اواز پورته شو چې ای ابراهیمه ! زما د سیوري پر اندازه او اندول بیت الله جوړ کړه ابراهیم علیه اسلام په هماغه ځای د بیت الله شریف جوړول شروع کړل. تاریخي روا یاتو ثابته کړې چې په دې ځای د بیت الله پخوانی بنسټ موجود وو ابن عباس (رض)د (واذیرفع اباهم القوعد) په تفسیر کې ویلي دي چې د بیت الله بنسټونه د ابراهیم (ع) څخه پخوا موجود وو امام عبدارازق پخپل مسند کې ویلي چې عطاء (رض) فرمایلي چې کله الله تعالیٰ آدم (ع) د جنت نه را ښکته کړ د ملائیکو له ملاقات څخه محروم شو زیات خفه او غمژن وو الله تعالیٰ ته یې پخپلو دعاګانو او لمونځونو کې شکایت وکړ الله تعالی ور ته حکم وکړ چې ته له هندوستان نه مکې ته روان شه تر دې چې مکې ته ورسېد په مکه کې یې الله تعالی د جنت د یاقوتو څخه یو یاقوت نازل کړ او د نننۍ بیت الله پر ځای یې کېښود هغه یې خپل کور وټاکه او ادم (ع) ته یې حکم وکړ چې له دې کور څخه طواف کوه ادم (ع) د الله تعالیٰ په حکم له دې کور څخه طواف شروع کړ او زیاته مینه یې ورسره پیدا شوه او د ملایکو د فراق غم یې هېر شو له دې نه وروسته د ده ټولې اولادې د دې کور طوافونه کول دا کور تر هغې پورې موجود ووتر څو چې د نوح (ع) طوفان راغی له دې عمله الله تعالیٰ دغه یاقوت بېر ته اسمان ته پورته کړ کله چې الله تعالیٰ ابراهیم (ع) پیغمبر کړ هغه ته یې حکم وکړ چې دغه کور بېر ته جوړ کړه لکه چې فرمایي ((واذابو انا لا براهیم مکان البیت)) همدا رنګه ابن عباس (رض) ویلي چې الله تعالیٰ د ځمکې او د اسمان پیدا ینبت نه دوه زره کاله مخکې بیت الله د اوبو سر تیار کړی وو او بیا یې د بیت الله تل څخه نوره ځمکه خوره کړه ځکه ورته (ام القری) ویل کېږي. په تفسیر ابن کثیر کې یو روایت داسې راغلی مجاهد ویلي چې الله تعالیٰ د مخلوق د پیدا ینبت نه دوه زره کاله مخکې بیت الله پیدا کړی ده او ارکان یې تر اوومې ځمکې پورې رسېدلي او لیث بن ابي سلیم هم له مجاهد نه همدې ته ورته روایت لیکي چې د بیت الله تادابونه تر اوومې ځمکې پورې رسېدلي دي. اذرقي د مکې په تاریخ کې لیکي چې سلطان ذولقرنین هم د بیت الله څخه طواف کړی د ابن عباس (رض) په روایت کې دا هم راغلي چې ټولو پیغمبرانو د بیت الله څخه طوافونه کړي دي. ابراهیم (ع) او اسمعیل (ع) دواړو د الله تعالیٰ په حکم په ښوول شوي ځای بانديې د بیت الله کار شروع کړ – اسمعیل (ع) به ډبرې راوړې او ابراهیم (ع) به لږولې کله چې دوی دواړو بنسټونه کېښودل په لړ کې یې درکن مقام ته ورسېدل ابراهیم (ع) اسمعیل (ع) ته وویل ورشه زویه یوه ښکلې ډبره راوړه هغه روان شو یوه ښکلې ډبره یې راوړه په همدې وخت کې جبریل (ع) دالله په حکم هغه یاقوت چې د نوح (ع) له طوفانه یې اسمان ته پورته کړی وو بېرته راوړ چې اوس ورته حجر الاسود وایي همدغه یاقوت یې د الله تعالی په حکم په دیوال کې کېښود اسمعیل (ع) چې ډبره راوړه وې کتل چې بله بره یې له پلار سره وه وویل چې دا ډبره چا راوړې هغه وویل چې دا هغه چا راوړه چې له تا نه ډېر ځواکمند دی حضرت جبریل (ع) پلار او زوی په ډېره مینه او صداقت دبیت الله کوټه جوړوله د جوړولو په وخت کې په یوه ډبره ودرېده د ابراهیم (ع) د پښو چاپ نن ځلور سوه کاله ورسته هم ښکاري چې دې مقام ته مقام ابراهیم وایي او حاجیان هلته دوه رکعاته لمونځ ادا کوي.

اسلام د ښېګړو دين

((دوست))

((زنا کاري))

اسلام د نارينه او ښځينه پۀ منځ کې دنکاح حلال اړيکې ټينګوي او دښځې او مېړۀ کور جوړ وي او د هغې لپاره يې خپل بنسټونه او بريدونه ټاکلي دي.خو ناروا د زنا اړيکې کبيره ګناه ګڼي، پۀ کلکه يې مخنيوی کوي، غندي يې او پۀ سختۍ او ټينګار يې منع کوي. الله تعالی فرمايي: ((وَلاَ تَقْرَبُواْ الزِّنَى إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاء سَبِيلاً))[1] ((او زنا ته مۀ نږدې کېږئ دا بې شکه څرګنده ګناه او ناوړه لار ده)).او د مؤمنانو پۀ ښو صفتونو او کره ځانګړتياو کې فرمايي:((وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ إِلاَّ عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاء ذَلِكَ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ))[2]((او هغه (مؤمنان بريالي دي) چې هغوی لۀ خپلو ښځو او وينځو نه پرته د خپلو عورتونو ساتونکي وي او د ښځو او وينځو پۀ هکله دوی ملامت نۀ دي او چا چې لۀ دې اخوا نور څۀ ولټول نو همغوی تېری کوونکي دي)).((وراء ذلک)) کې لواطت، د لاس استعمال، حيواناتو سره بد کاري او نورې ټولې بدې لارې داخلې دي چې دا ټولې منع دي او کبيره ګناه ده ، يواځې د خپلو حلالو نکاح شويو ښځو يا وينځو سره جنسي اړيکې ساتل روا دي، او لۀ دې پرته نور ټول ناروا دي.همدارنګه د مؤمنانو او نېکانو کره ځانګړتياؤ کې فرمايي: ((ولا يزنون))[3] ((او (د رحمن ذات بنده ګان) زنا نۀ کوي))

((بچه بازي))

اسلام کې د نارينه نارينه سره جنسي اړيکې لرل او بچه بازي ناروا او ډېره لويه ګناه ده الله تعالی د لوط عليه السلام قوم پۀ همدې بد عمل هلاک کړی ؤ.او حديث کې داسې راځي: چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:
((من وجدتموه يعمل عمل قوم لوط فاقتلوا الفاعل والمفعول به))[4] ((کۀ تاسو داسې څوک ومونډل چې د لوط(عليه السلام) د قوم عمل يې کاوۀ نو فاعل او مفعول دواړه ووژنئ)).

((غلا))

اسلام کې پۀ پټه دچا مال وړل او غلا کول حرام دي او د غلا د مخنيوي لپاره پۀ اسلام کې د لاس پرې کول دي.الله تعالی فرمايي: ((وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُواْ أَيْدِيَهُمَا جَزَاء بِمَا كَسَبَا نَكَالاً مِّنَ اللّهِ وَاللّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ))[5] ((د غله او غلې لاسونه پرې کړئ دا د هغه ناوړه عمل سزا ده چې دوی کړی دی د الله له پلوه دغلا د مخنيوي لپاره سزا ده او الله غالب او د حکمت څښتن دی)).اسلام کې د انسان لاس دومره محترم او قېمتی د يچې کله امين وي او چاپې يوه ګوته پرې کړه نو لس اوښان به ديت کې ورکوي او د لاس ديت پنځوس اوښان دي. خو چې کله دا لاس خائن شو او غلا يې وکړه نو بيا د دينار پۀ څلورمې برخې غلا کې غوڅېږي او دا ځکه چې مخکې پنځوس اوښان د لاس د ساتلو لپاره وو او بيا د لاس غوڅول د دينار د څلورمې برخې قېمت نه دی بلکه دا د انساني او اسلامي ټولنې د امنيت او اموالو د ساتلو قېمت دی خو د لاس غوڅول او د حدودو نفاذ هله دی چې د اسلام سياسي، اقتصادي، اجتماعي او پوره بشپړ نظام نافذ وي کۀ دا نۀ وي نو بيا يواځې حدود نافذول او نور اسلام شاته غورځول ظلم دی. اسلام لومړی اقتصادي نظام نافذوي، پۀ دې ځمکې کې انسان بې پاسپورټه او بې وېزې ازاد دی، چې هر ځای شاړه ځمکه ودانوي د هغه ده، حلال تجارت کې ازاد دی، د ځمکې پۀ زېرمو لکه: تېلو، ګاز، (اورباد) سرو او سپينو، کاڼو، ځنګلونو او وښو، اورا و اوبو، کې ټول يو ډول شريکان دي، بيت المال کې د هرچا مساوي برخه ده.... مالدار به بې وزلو ته زکات ورکوي، ټګي برګي، دروغ، احتکار (قېمتۍ کې د غلو دانو زېرمه کول) ظلم، تېری او هر ډول نا انډولي او حق تلفي منع دي.اوس نو ووايه چې کله د اسلام دغه ډول اقتصادي نظام نافذ شي آيا څوک به غلا وکړي؟ هېڅکله نه.او دا چې طاغوتي د ظلم قوانين نافذوي، هر لوري ته چې خوځېږي ټکس وي، شاړو ځمکو کې لۀ برخې محروم وي، پۀ کانونو، معدنونو او

---

[1]- سورة الاسراء: ٣٢.
[2]- سورة المؤمنون: ٥- ٧.
[3]- سورة الفرقان: ٦٨.
4- رواه أبوداود.
[5]- سورة المائدة: ٣٨.

د ځمکې پۀ زېرمو کې له برخې محروم وي، بې پاسپورټه، بې وېزې او بې ټکسه تجارت او مزدوري نۀ شي کولی، مالدار پۀ سودي بانکونو کې بې خرته مالونه جمع کوي او د بې وزلو حق نه ورکوي..... د بې وزلې مور او پلار بوډاګان او ناروغه وي، ښځه یې بربنډه وي او بچي یې وږي وي..... نو دا خپـۀ زوره غلا ته جوړ دی پۀ داسې وخت کې بیا لاس غوځول نشته اسلام ځمکه او کور ورکوي، زکاتو نه او د بیت المال برخه ورکوي، تېلو، ګاز، سرو او سپینو زرو، معدنونو او کانونو، ځنګلونو او شاړو کې برخه ورکوي او نور ډېر مالي، سیاسي او ټولنیز حقوق یې خوندي ساتي او وږیا یې تر کوره ور رسوي نو له دې ټولو سره سره چې بیا غلا کوي نو لاس یې بې شکه د غوځولو دی.

((پیتموزې او ملنډې))

اسلام کې چا پورې پیتموزې (6) کول او پۀ هغۀ منلډې وهل ناروا او لویه ګناه ده. پۀ سخته یې منع کوي ومخنیوی یې کوي. اسلام کې هر انسان درون ګڼل کېږي او د چا سپکاوی کول ناروا دي. الله تعالی فرمايي: ((يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَوْمٍ عَسَى أَن يَكُونُوا خَيْرًا مِّنْهُمْ وَلاَ نِسَاء مِّن نِّسَاء عَسَى أَن يَكُنَّ خَيْرًا مِّنْهُنَّ وَلاَ تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ))[7] ((ای مؤمنانو ! یو قوم دې بل پورې پیتموزې نۀ کوي کېدی شي چې هغوی لۀ دوی غوره وي. او نۀ دې ښځې د ښځو پورې پیتموزې کوي کېدی شي چې هغوی لۀ دوی غوره وي او خپلو کې پۀ یو بل عیب مۀ لګوئ)). کۀ د چا پۀ خلقت کې کوم عیب وي او الله تعالی همغسې پیدا کړی وي لکه ټیټوالی، بد رنګي، ړوندوالی او داسې نور یا پۀ کومه پښنه کې ګوډ شوی یا شوټی شوی وي...نو د هغې پېغور ورکول منع دي. حدیث کې داسې راځي:عن عائشة قالت: قلت للنبی صلی الله علیه وسلم: حسبک من صفیة کذا وکذا تعنی قصیرة فقال: ((لقد قلت کلمة لو مزج بها البحر لمزجته))۳ عائشې رضی الله عنها نه روایت دی هغه وايي: ماپېغمبر صلی الله علیه وسلم ته وویل: د صفیې خو دا دا عیب بس دی مراد یې دا ؤ چې ټیټه او لنډه ده. هغۀ وفرمایل: ((داسې ناوړه خبره دې وکړه چې کۀ دریاب کې ګډه شي نو رنګ به یې بدل کړي)). د اسلام لۀ آدابو ، تهذیب او محاسنو نه دا هم ده چې چاته داسې سپک مه ګوره چې د هغه پۀ جامه لاس پاک کړې. حدیث کې داسې راځي: عن ابی بکرة قال: ((نهی النبی صلی الله علیه وسلم أن یمسح الرجل یده بثوب من لم یکسه))8 ابو بکره رضي الله عنه نه روایت دی هغه وايي چې: ((پېغمبر صلی الله علیه وسلم له دې منع کړې ده چې یو سړی د هغه چا پۀ جامه لاس ومښي چې دۀ نه دي وراغوستي)). معنا دا چې روزی ورکوونکی او جامې ورکوونکی الله دی نو څوک دومره سپک مه ګڼه چې لۀ ډوډۍ خوړلو او لاس مینځلو نه وروسته یا نور ککړ لاسونه د هغۀ پۀ جامه ومښې او وچ یې کړې. دا د اسلام هغه کرامت او عزت دی چې هر انسان ته یې ورکړی دی. د اسلام لۀ آدابو نه بل ادب دا دی چې داسې ناسته پاسته او ملاسته به نۀ کوي چې عورت دې معلوم شي. حدیث کې داسې راځي:عن جابر قال: ((نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم أن یرفع الرجل إحدی رجلیه علی الاخری وهو مستلق علی ظهره))[9] جابر رضي الله عنه نه روایت دی هغه وايي: ((رسول الله صلی الله علیه وسلم لۀ دې منع کړې ده چې یو سړی ستوني ستخ پروت وي او خپله یوه پښه پۀ بلې واړوي)). پۀ دې هکله دوه حدیثونه راغلي دي یو دا دی او بل کې یې جواز دی نو د دواړو توفیق او تطبیق له روایاتو داسې کېږي چې کۀ دواړه پښې وغځوي نو بیا یوه پۀ بله دپاسه غځول روا دي او کۀ دواړه پښې یې را ټولې کړې وي نو بیا د ملاستې پۀ وخت کې یوه پښه پۀ بلې کېدې نو د عورت د ښکاره کېدو یا د جامو له پاسه معلومېدو احتمال دی نو ځکه دا کار منع دی.

6- ((پیتموزې)) چابانـدې مسخرې کول، ریشخند او ملنډې وهلو ته ویل کېږي. د بـرې پښتونخوا وګړي یې ((پیتموزې)) بولي او د کوزې یې ((پیچموزې)) بولي.
7- سورة الحجرات: ۱۱.
8- رواه ابوداود.
9- رواه مسلم.

پښتو ژبه يوه سوچه اريايي ژبه ده ! نو پښتانه څوک دي؟

((ننګيالی بځرکی))

پښتو ژبه دپښتنو ژبه ده ، هغه څوک چې په دې ژبه خبرې کوي او دهغه مور او پلار چې په پښتو سره پوهول اورا پوهول کوي هغه پښتانه دي .دا چې پښتانه څوک دي ؟ نوموړې پوښتنه دتاريخ په مختلفو وختو کې دڅېړنې او تحقيقاتو په جريان کې ډېر بحثونه پرې شوي دي. او دنړۍ د ګوټ ، ګوټ ژبپوهان او نسل پېژندونکي پر دې خبرې څېړنې کوي ، چې انسان څه شی دی ؟او څنګه دانسانيت ومر حلې ته رسېدلی دی؟ خو په هر صورت دا خو به دانتروفولوژی علم ته پر يږدو ، چې هم هغه علم پر دې څېړنه وکړي او دنسلونو او قومونو په باب خپل معلومات وڅېړي.خو چې تردې پړاوراتېرسو او دانسانانو هغه پر مختللې ټولنه تر نظر لاندې ونيسو ، نو دا پوښتنه بيا هم را منځته کېږي ، چې څنګ دومره ډېرې ژبې او ډېرکلتورونه را منځته سوي دي.که نوموړی تاريخ دهغه وخته چې د کلتوراوبيا دژبې اړوند څېړنه ده ، نو زموږ کار هم مختصر کېږي او هم مو موضوع ټاکل کېږي.دلته پوښتنه دژبې ده، انسانانو چې انساني ژوند را پېل کړی دی دهغه تاريخ دميلاد څخه پنځه او شپږ زره کاله مخکې دی. ولې دا !انساني هغه تاريخ دی چې انسانان په بشپړه توګه دحيواناتو څخه را بېل سوي دي. اودفرهنګ په يوه لوړ پړاو کې ژوند کوي ، افزار په کار اچوي،خبرې کوي ، کورنۍ جوړوي او حتا دفلزاتو څخه ګټه اخلي. خو دتاريخ ددې پړاو او دتاريخ څخه دمخکې پړاو تر منځ په سوونو کلونه فاصيله شته.په همدغه ډول انسانانو چې په مختلفو سيمو کې ژوند را پيل کړی دی

، خو بيا هلته تر پايه هم نه دي پاته سوي ، ديوې سيمې څخه وبلې سيمې ته دډول ،ډول پېښو او عواملو په سبب مهاجر سوي دي او دځانه سره يې ديوې او بلې سيمې کلتور ، زده کړی اونورې انساني پوهې هم را نقل کړي

له ټول افغان نه په مننه

دي.اودنړۍ په ګوټ ، ګوټ کې دمحيطي شرا يطو سره يې ژوند را پيل کړی دی او دمحيط رنګ يې هم خپل کړی دی.دلته بيا هم دپښتنو او افغانانو خبره ده،چې افغانان او پښتانه څوک دي؟ . په دې باب يونامتو ډنمارکي ژبپوه (رسميزرسيک) په ۱۷۸۷ - ۱۸۳۲م کې ليکي :که موږ وغواړو چې ديوه قوم او يا ديوې سيمې دانسانانو تاريخ او دهغه پېژندنه وکړو نو بيا با يد دهغه خلکو ژبه تر مطالعې لاندې ونيسو چې ، په تار يخي لحاظ هغه پيدا کړو. او دهغه په باب علمي دلايل وړاندې کړو.نو په همدغه دليل که موږ غواړو چې دپښتنو او پښتو په باب وپوهيږو چې پښتانه په قوم نژاد يا سيمې پورې اړه لري، بيا هم موږ دښاغلي (رسيک)دتحقيق وميتود ته مرا جعه کوو. او مجبوريو چې دسيمې مختلفې ژبې سره وڅېړو ، دمقايسوي ژبپوهنې دعلم په مرسته موږ دا معلومه کړو چې دپښتو ژبې تاريخي اړيکې د سنسکريټ ،استا ،فارسي - بلوڅي - اورمړي - عربي - هندي - اروپايي اونورو مغولي ژبو سره څنګه دي؟ څو موږ ودې نتيجې ته ور سيږو چې پښتو ژبه څومره لرغونې اوپه مقايسوي لحاظ دژبو په کوم ګروپ پوري اړه لري. په دې باب بيا هم ديوه جرمني ژبپوه ښاغلي(ډی جينش) (۱۷۹۴م) دغه خبره وڅېړو؛ چې ژبه په يوه تاريخي او زماني مقطع کې خپل ځانګړ ی کلتور-ادبي طرز-لغاتونه-اصطلاحات-دپيښو انعکاسات اوداسې نور په خپل ځان کې لري او ساتي يې .ښاغلی جينش دژبو دمقايسې په لړکې دغه څلور توکي دپام وړګڼي اودهغه له مخې دژبې مقايسوي اړيکې پيژندل کيدای سي. ۱ - دلغاتونو اوډنه او تغير ديوه ډول څخه وبل ډول ته .۲ - صرف او نحوه (سنټکس) يا په ساده توګه دجملو جوړښتونه .۳ په ژبه کې صفائي او قاطيعت :په ساده ډول دژبې سمبولونه۴ آ

هنګک: په ساده ډول هره ژبه ځانته خپل اهنګک اووزن لري. نو په پورته تحليل سره يوځل بيا موږدپښتو په باب دا ويلای سوچې نوموړې ژبه دلغاتونو دجوړښتونو دمخې يو غني اوپه سيمه کې يوه بې سارې دلغاتو او ګرامر له مخې بشپړه لرغونې ژبه ده.په دې باب ښاغلی سلطان محمد صابرپه خپل کتاب (قديم پشتواور پشتون)کې ليکي : (پشتو لغات اور اعتبارسې قدروسيع اورجامع زبان هی که أوس پاس اور قيرهی کوئي زبان اس کا مقابله نهي کرسکتې). دهغه ادعا داده چې په پښتو ژبه کې بشپړه ګرامر پروت دی او دهر حالت ،تغيراونوم دپاره لغات اوجوړونې لري ، چې دسيمې په نورو مشهورو ژبو کې لکه فارسي او اردو کې نه سته دبيلګې په توګه هغه دمونث او مذکر په دوحالاتو کې بيلګې را وړي او ليکي:(قريبي زبانو مې فارسي اور هندي خاص طور پر مقابله ذکر هی فارسي مې مذکراور مؤنث کې مثتثنی هی) لکه څنګه چې په فارسي کي وايي (امد) په بشپړه توګه دا واضيح نه سوله چې نر را غلی که ښځه؟ نو دا حقيقت بيا هغه وخت څرګنديږي څو چې په سترګو باندې ووينې ، چې نر دی که ښځه او که دواړه .خو په پښتو کي نوموړی حقيقت څرګند دی .چې نوموړې څرګندونې دالفاظوغنا ګڼل کيږي.او په ډيره اساني سره مفهوم تر لاسه کيدای سي . بل دحيواناتو اوجامداتو دپاره خپل نومونه او الفاظ سته. په همدغه ډول دپښتو په ګاونډو ځانګو کې په اردو کې هم په دغه ډول کمزوری سته چې دژبې پرنه بشپړتوب باندې دلالت کوي.دبيلګې په توګه په اوردو کې وائي: (جاؤ) نو دجاؤ کس بيا هم څرګند نه سو چې نوموړی نرؤ ، که ښځه.ژبپوهان په دې عقيده دي ، چې ژبه په تاريخي لحاظ دپيړيو، پيړيو محصول او په پيړوختونه غواړي چې بشپړه سي او دپوخ والي ومرحلې ته ور سيږي. نو موږ دپښتو ژبې په باب په ډير جرعت سره ويلای سو چې پښتو ژبه په تار يخي لحاظ ډيره لرغونې او دپوخوالي يوه پړاوته رسيدلې ده.که څه هم عربي هم يوه لرغونې ژبه ده خو دپښتو سره يې بنستونه ډير تو پير لري

او پر عربي ژبه هم ډير کار سوی دی خو هغه ږغونه (فونيمونه) چې په پښتو کې سته په عربي ژبه کې نه سته او عربي ور ته عجزه ده. دا ځکه چې دعربي(ګرافيمونه) يا توري ۲۸ ته رسيږي خو دپښتو په پرتله وړده مقايسې هم نه ده. پښتو توري ۴۲توري دي چې دهر ږغ دپاره خپل صوتي حالت لري. داځکه چې دژبپوهنې دنظره عربي يوه جلا ژبه ده چې دعبراني ژبو سره يې اړيکې سته.او په سامي نژادو خلکو کې استعماليږي.چې ويونکي دمنځنې ختيځ خلک دي.ولې فارسي ژبه چې دپښتو سره نژدې اړيکې لري دپښتو ژبې دکورنۍ څخه ګڼل کيږي، او سانسکريټ هم ددغه خاندان څخه ده. داچې پښتو ـ فارسي ـ سانسکريت ـ اويستا ـ ژند هندي اوداسې نورې هند ي اوروپايي ژبې ديوې ونې مختليف ښاخونه دي ،دنړۍ ژبپوهاند په دې باب ګډ نظر سره لري .خوپه ۱۸۲۰م کال کي چې د فرانسې ستر ژبپوهاند(داپيران) دژند او اوستا پر ژبو څيړنه وکړه او دهغه دلرغونتوب په باب يې خپل نظر وړاندې کړی دی هغه دخپلې مقالې په يوه برخه کې داسې وايي :چې اوستا دسانسکريت څخه پيدا سوې ده ، خودا نظر بيا ليګانګټ(پرريسک) نه مني اوهغه بيا په دې اند دی چې ژند دسانسکريټ څخه نه دی پيدا سوی. اودا ثابته وي چې ژند دسانسکريت لورنه ده بلکې؛ دهغه خوريې بولي.دريسک دغه نظر تر اوسه پورې چا هم نه دی رد کړی ، او غوښتنه هم دا ده چې دغه يادې سوې ژبې ـ ژند ـ اويستا سانسکريټ دغه اريا ئي ژبې دي اوداريانا په شاه وخوا کې په يوه پراخه جغرافيايي شاوخوا کې تر نن ورځې پورې په مختلفو اوختنو او تغيراتو سره موجودي دي . په اوسنی پښتو ، فارسي ،بلوڅي ، حتا اور مړي ژبه چې اوس ډير لږ خلک خبرې په کوي تا ثيرات يې جوت دي.نوموړې ژبې اريا يې ژبې دي چې آريانا ته يې په يو وخت کې اريانا ويجه ويله. استرابو په ۲۴۰ق م کې په خپل جغرافيه کې داريانا حدود داسې تعين کړي دي.ختيځ سرحد اباسيند ،جنوب ته دهند بحر اودغرب خواته کرمان اوايران ښوي خو شمال ته تر

باکتریا اودسفیدان ځینې برخې شاملې بولي پر همدغه
لیکه دپرتو ولسونو ژبه یوه ګڼي. او په خپل ورستي
تحلیل کې یادونه کوي چې ، اریانا دپارس ـ مدیا ـ با ختر
اود سفدیان اخیري برخې شا ملې بولي.هغه دبا ختریا
(بکتریا) ژبه چې داریانا ویجه په نوم په اوستا کې یاده
سوې ده ښایسته ادبي ژبه یې بللې ده.په اریانا ویجه کې
اوستا یې ژبه ـ سنسکریټ ژبه رواج درلودی. اوستا هغه
ژبه ده چې زرتشت په هغه خپل کتاب (ژند) لیکلی وو.او
سانسکریټ بیا هغه ژبه ده چې په هغه با ندې ویدي
سرودونه لیکل سوي دي او اوس یې په هند کې لیک دود
سته.خو په هر صورت سانسکریت او اوستا دوې جلا ژبې
دي چې دیوه بنسټه څخه سرچینه اخلي او خوندي ورته
ویل کیږي ، خو دسیمو دلیرې والي په بنسټ اودهند او
پارس دسیمو دجدا والي په سبب یې صلیقې او فرهنګي ،
اخلاقي اړیکې سره بېلې سوي او دجلا ، جلا ژبو په حیث
یې رواج پیدا کړی دی.خو په دې کې شک نسته چې
داریائیانویوه برخه په افغانستان کې او سیدل او دغه ژبې
یې کارولې.ولې داریا نا ویجه په وخت کې سیمه پرا خه او
سره پا شلې وه. چې سر حدات یې بهرونه او یا هم سیندونه
جوړول.دډېرو ثقه دلایلو او لرغونو اسنادو له مخې
پښتانه ددې سیمې او سیدونکي وو او مو جودیت یې په
همدغه ځای کې ثابت دی.لکه څنګه چې په دې باب
یوناني پوه هیروډوټس په ۴۰۰ق م کې دپکتیان یا
پکتویس څخه یا دونه کوي.هغه لیکي: هغه خلک چې په
پکتیا یا پکتیکا کې اوسیږي ، هغه غښتلي دلاوره ،
میلمه پا لونکي جنګیالي خلک دي ، چې دڅرمنې
لباسونه اغوندي.اودا هغه سیمه ده چې په تاریخ کې په
وارو، وارو یا ده سویده . لکه ارکو زیا څخه چې یا دونه
سویده .هیرو ډوټس او استرابوچي لرغوني تاریخ پوهان
دي هغه دارکوزیا خلک اریائیان ګڼي، چې په ورسته کې
ځینې مؤرخین ارکوزیا ته د الکوزیانوپه*یادونه چې په
دغه سیمه کې یوه لویه قبیله ده ایشاره کوي. او دارکوزیا
خلک دافغانانو په نوم سره یا دوي .یادونه: (نوموړی
نظردغوروړ دی ؛ خو تائید یې حقیق غواړي).همدغسې
په شهنامه کې فردوسي هم دارکوزیا دسیمي خلک
افغانان ګڼي او هغه دډیرو لرغونو زمانو تاریخي یا دونه
په خپله شهنامه کې کړیده چې وایي ((نشسته درین دشت
بیسارکوچ ازافغان ولاچین کرد)) وبلوچ همدغسې
داریانا په دغه قلمرو کې چې دهندوکش دغرو دسلسلې
څخه پیل بیا تر بولان ، تر هرات او ترال پورې رسیږي دلته
پښتنو ژوند کړی دی. او پښتو ژبه یې استعمالوله. بیا هم
استرابویا دونه کوي چې: دپارس ځینې برخې ، دسفیدان
،باکتریا مدیاځینې برخې هم په پښتنو پورې تړلې وې. او
پښتو ژبه یې ویله ، پښتو یوازې ژبه نه بلکې؛ پښتانه یو
غټ اتنیکي قوم ، رواج ، اخلاق ،قوانین او ځانګړې
عنعنات دي چې په ټولنیز ډول پښتواوپښتانه ورته
وایي.دلته موږ دتاریخي ژبپوهنې له مخې دلغاتو نژدې
والی داسې سره مقایسه کوو چې دلرغونو ژبو نژدې والی
داوسنیو ژبو سره ښوي دبیلګې په توګه دفارسي ژبې
اوسانسکریټ دژبې ترمنځ دیوه مثال ایښول : لکه څنګه
چې په فارسي کې ماست او په پښتو کې مستې او په سا
نسکریټ کې بیا ما سته را غلی ده.ددوی تر منځ اړیکې
جوتې دي، ددې معنا دا ده چې سانسکریټ ، اوستا ، ژند
پارسي او پښتو داریا ئي ژبو لرغونې ژبې یا ژبنې ډولونه
دي. او یو په بل کې ګډ ې اړیکې سره لري. لغاتونه یې سره
مشابه او ګرا مري اړیکې یو دبله سره لري .ځینې لغاتونه
لومړی په پښتو کې را پیدا سوي دي او بیا ونورو همسایه
ژبو ته ور نقل سوي دي.چې په همدغه ډول ویلای سو چې
دفارسي او سا نسکریټ ژبو تر منځ دنښلولومزی
پښتوژبه ده ، چې په دې معنا پښتوداریا ئیانو ډیره
لرغونې ژبه ده، چې دسیمې په سطحه یې موږ اړیکې
لیدلای سو.هیرو ډټس ۴۴۵ق م کي او بیا استرابو په
۲۴۰ق م کې خپل نظر داسې وړاندي کړی دی((هغه کسان
چې دهندي تهذیب او فارس تر منځ ژوند کوي هغه پښتانه
دي چې دغه دوه مدنیتونه سرنښلوي اوترمنځ یې اړیکې
ساتي.))ددوی ترمنځ دلغاتو نژدې والی ، دکیسواو

نقلونو نژدې والی ، دمتلونو او نورو فلکلوریکو اړیکو درلورل ددې معنا لري؛چې دپښتنو سیمه دهند او فارس ترمنځ واقع اویوپربل یې خپلې اغیزې پریښې دي.دا چې پښتو ژبه په لرغونتوب سره څومره لرغونې ده ، اود پرمختګ زمانه یې دنورو ژبو په پرتله څونده زمانه ور ته کښیږدو؟ دا به یوه مغلقه او پیچلې موضوع وي ، خو داوسنی پښتو او پخوانی پښتو ترمنځ پیړی،پیړی فاصیله موجوده ده.اوموږدنومورې ژبې(پښتو) لرغونتوب په نورو لرغونو ژبو کې تر لاسه کولای سو، یعنې که موږ دفارسي ، پښتو اوسانسکریټ ژبې ته دمقایسوي ژبپوهنې له نظره پاملرنه وکړو نو موږ ته به خامخا دا را جوته سي چې پښتو هم دسا نسکریټ، فارسي ژبې په څیر یوه لرغوني او د میلاد څخه زرونه کلونه په ځان کې ولري.او هغه وخت پښتانه وه، پښتون د پښتو سره نه جلاکیدونکي مفهومونه دي.که موږ وګورو پښتو (پښتون) دلته په ګرا مري لحاظ موږ لاحقه یاګرامري اړیکه ګورو (تون) یوه لاحقه ده چې دپښتو څخه یې پښتون جوړکړی.ولې؛نومورې لاحقه په نورو لرغونو ژبوکې نه سته چې ددې معنا داده چې پښتو ترنوروژبودغني ګرامرلرونکې غني ژبه وه.او ددغه دودپربنسټ چې پښتو - پښتون - پښتني نیت دغه درې سره سره تړلي دي ، نو که یو څوک وچاه ته وواي چې پښتون نه یې نوددې معنا داده چې ددغه ځانګړې قانونیت څخه یې وایستی .چې دا په پښتنو کې دډیرې لرغونې زمانې څخه یو را پا ته سوی شونی دی ، چې اوس هم په پښتنو کې دښکنځلو او دیوه پښتون دبیغیرته کولو په معنا استعمالیږي. خو نومړي دود په پنجابي کلتور ، فارسي اوداسي نورو کې مفهوم نه لري دبیلګې په توګه: سندهی نه یې؟، پنجابی نه یې؟ ، فارسیوان نه یې؟ اوداسې نور... دایوه ځانګړې خبره ده په پښتنو کې.په دې ډول پښتانه په پښتو سره قول ورکوي او پر خپل قول بیا ولاړ دي ، که چیرې یو څوک دچاه سره پښتو وکړي نو هغه بیا پر خپله ژبه پښتو باندې ولاړ وي او هغه څه تر سره کوي کوم چې وعده یې کړیده .پښتانه دنورو قومونو په پرتله جنګیالي او دتشدد خلک دي او دعدم تشدد اصول په ځان کې نه سي سا تلای.دلرغونو ژبوپه باب چې هرچاه څیړنه کړیده پښتو ژبه یې یوه لرغونې اریائي ژبه ګڼلې ده. او پر نورو ژبو یې دپښتو ژبې اثرات جوت کړي دي لکه څنګه چې دسا نسکریټ ژبې ماهر (پانیني)وا یي : سا نسکریټ‌ژبه ۳۵۰۰ق م کې یو لرغونې ژبه وه او هغه په ځان کې دګرا مر ۳۹۹۲قا عدې در لودې ، هغه په دې اند وو ، چې دلاتینو ژبو سره په مقایسوي لحاظ سا نسکریټ دومره جوتې اړیکي نه درلودلې لکه دپښتو سره چې یې لري او درلودلې.اودپښتو اغیزې پرهندي اوسا نسکریټ با ندې خورا ډیرې دي. چې یو علت یې هم دا دی چې پښتو دسا نسکریټ په څیر یوه لرغونې ژبه ده. او په سیمه کې یوه مطرحه ژبه وه . چې موږ دخپلې ادعادثبوت دپاره یولړبیلګې ،اړیکي ،اوښتني یادولای سو.اوموږ دخپل څیړ نیزتحقق په نتیجه کې دلاندې څومثالونه راوړو .سنکریټ پښتو اردو ،پالنا پالنه ،پورا یا پردی ،پورا پوره ،سالو سالو دووپټه ،ماستۀ ماستۀ یا مستې،شالی شائی دهان،ګودهوم غنم ګندم،روج روځ (ورځ) دن،شپا شپه راتو،شام مشام یا ماښام شام ماس میا شت مهینه،وایو (هوا) وایو ،بیوتی بوتی بوټی،سنګم څنګ ،مرتپ مړ (مرد)،جنی نجلی (جنۍ) لړکي،موژک ،موږک چوها ،میږ میږه بیهړ ،نیکهـ نک ناخن،ماتری مور ما ،پتري پلار باپ،کبجا کوږ په ملا کوږ کوبړا ټیټړاجبها ژبه (زبان) ،جمکه ځمکه زمین.همدغسې بې شماره لغاتونه په سنسکریټ کې سته چې په سراو تن سره پښتو دي. اور یښه یې هم په پښتو کې سته.هغه ژبې چې په سنسکریټ پورې اړه لري او اوس هم په ډیره پیمانه سنسکریټ ژبې لغاتونه استعمالوي لکه پنجابي ژبه په هغه کې هم دپښتو ډیر لغاتو نه سته چې دډیرې لرغونې زمانې را هیسې داریا ئیانوپه لرغونو ژبو کې استعمالیږي. او س هم دپښتو ریښه په یولړ نورو اریائي ژبو کې سته چې پر پنجابي ژبې برسیره یې موږ څیړلای

سو ، نوموړي هند و اروپاه يي ژبې که ګاونډي ژبې دي او که هم په اروپاه اونورو هيوادونو کې استعماليږي ، خو ديوه اريا ئي ژبې په څيره په يو ډول نه په بل ډول دپښتو سره ټينګې اړيکې لري. چې لاندې بيلګې يې موږ لومړۍ په پنجابي کي ګورو .پنجابي پښتو ،تسي تاسې،منل ما ننا ،مانجهنا مينځل،بالنا بلول،بلانا بلل،سوکه سوکه،چاټنا څټل،جګه ځاى،مانتريا مانۍ،تو ته،کؤن کوم،هغه علاقې چې اريانا ته نژدې دي هغه که سيند دى ، که پنجاب دى او يا هم دهندوستان نورې ژبې دي او يا دفارس ژبې دي، هم يو دبله سره اړيکې لري.او هغه الفاظ چې په سيميز لحاظ په سيمه پوري اړه لري خو بيا په پښتو ژبې ته را داخل سوي دي. په امانت دارى سره دهغې ژبې لغات سا تل سوى دى . دبيلګې په توګه دپښتنو سيمه څنګه چې څر ګنده ده يخه سيمه ده او هلته ځينې ميوې او پيدا وارسته دي چې ؛موږ ته دهمسا يه دسيمو څخه را استول کيږي موږ دهغه دپاره نوم نه لرو، خو دبل ځايه څخه مو يې نوم تر لاسه کړى دى. لکه: کيله ، ليمو ، سنتره ، کينو اوداسې نور...خو ځيني بيا هغه ميوې چې په طبعي ډول دپښتنو په سيمه کي پيدا کيږي او په همسايه هيوادو کې نه پيدا کيږي. نو په طبعي ډول هغه هم هغه پښتو نومونه استعمالوي.اينځر انګور ، بادام ، پسته ، انار جغندراو نور... زه چې دلته په هالنډ کې ګورم ځينې داسې کلمو سره مخامخ کيږم چې زموږ دپښتواودري سره يې ورته والى ډيرڅر ګند يږ ي. او دا ثابتيږي لکه دلرغونې پښتو اويا دري څخه چې په لږ او ډير تغير سره يو سلسله لغاتو نه.ودې سيمي ته را دا خل سوي وي.په دې کې شک نه سته چې ژبې يودبله سره ګډې اړيکي اونژدې والى لري.خو بيا هغه ژبې چې ديوه پا يلمه اويوه ګروپ دژبو څخه وي. هغه بيا دتاريخ په اوږدو کي هغه خپل قوانين او ځانګړني په ځان کي سا تي.خو موږ ته دژبو څيړنه هغه وخت ښه ترا کيداى سي چې په ليکلي توګه اسناد دژبې قلمي نخسې په لاس را سي . نو په همدغه دليل سره پوهانو دژبپوهنې مقايسوي پوهه دتاريخ دهغه دورې څخه را پيل کړيده چې دوى يې په ليکلي ډول اسناد په لاس کي لري . چي دهمدغه ژبو دجملې څخه اوستا يي ژبه ، سنسکريټ ، پښتو او لرغونې پهلوي ژبې دي. په دې کي هم شک نه سته چي تردغويا پورته ژبو مخکې به هم نورې ډيرې لرغونې ژبې وې اودپوهولو اورا پو هولو وسيلې به وې، نوموړې ژبې به دهم هغه ژبو څخه جوړې سوې او منځته را غلي وي. خو هغه زمانه تر ميلاد لس زر ه کاله وړاندې زمانه وه او موږ ته يې شوني په ليکلي توګه نه دي را پاته سوي. چې تراوستا او يا هم سنسکريت مخکي به مور او يا انا ژبه څه نوميده او انسانانو به کومه ژبه استعمالوله او په دې وخت کښه انسانان څه ډول وو؟؟خو مخکې تر هغه چي نور اريا يي قومونه ديخبنده سيموڅخه ځينې خلک او قومونه دلته را وکوچيږي ، دلته انسانان موجودوو او دمغارو ژوند به يې تيراوه چي نوموړې موضوع تر ډيره ځايه په انتروپولوژۍ پوري تړلې ده.خو هغه وخت چي ليکنه را منځته سوه او داويستا او سنسکريت سرودونه دغوايي پر پوستکو وليکل سو يا ووايو چې ليکنه او تاريخي اسناد موږ ته په لاس را غلل نو تار يخ دسيمې هم له دغه ځايه څخه نيولاى سو.او موږ خپل ثوقه دلايل را وړلاى سو. چي دلته ژوند څه ډول وو؛ دوى کومي ژبي ويلې ؟په دې کي شک نه سته چي دانسانانوتاريخ چي پنځه زره کاله پر باخترزمين په نظر کي نيسو ، پرهمدغه مځکه چي اوسنى افغانستان دى پښتانه اوسيدل.

دپښتو ادب نوميالي!

عبدالرشيد (بابکرخيل)

غواړم په دې کنه کې دپښتوادب شاعران اوليکوالان چې دنومه ورې ژبې ادب ته يې درانه او دقدر او غيرت وړ خدمات کړي او په دې لاره يې نه ستړې کېدونکې ګامونه ينبي دي د دې له

پاره چې نومونه يې د همېشه لپاره د تاريخ په زرينو پاڼو کې ژوندی بنه ولري په لاندې ډول يې د پيلوزي مجلې لوستونکيو ته ورو پېژنم.

1. شـيخ متـي چـې پـه **۲۳۳** هجـري کـې زېږېـدلی دعباس زوی په ختـه غوريا خېل.
2. زرغونـه کـاکړ پـه **۷۸۲** هجـري (ق) کـې زېږېـدلې دپلار نوم يې ملا دين محمد مشهور اثر يې (دپښتو بوستان) دی
3. شيخ بوستان دلسمې هجري پېړۍ په نيما يي کې زېږېدلی دپلار نوم يې محمد اکرم په قوم بړيڅ مشهور اثر يې (دبوستان اوليا).
4. عبدالرحمن بابا دپښتو بلبل رحمن بابا پـه بهادر کلـي پېښـورکې پـه **۱۰۴۲** هجـري (ق) زېږېـدلی او پـه **۱۱۱۸** هجري (ق) کې وفات شوی دی.
5. ميا فقير الله دعبدالرحمن زوی **۱۱۰۰** هجري (ق) کې زېږېدلی او په **۱۱۹۵** هجري (ق) کې وفات شـوی **۲۱** کتابونه يې ليکلي دی.
6. بيبۍ نيکه –**۳۰۰** - **۴۰۰** کالو منځ کې ژوند کړی دی او پښتو اشعار يې تصوفي بڼه لري.
7. محمـد هوتـک دمحمـد داؤد زوی پـه کـال **۱۰۸۴** هجـري (ق) کـې پيـدا شـوی **۱۱۲۰** هجـري (ق) کـې وفـات شوی مشهور اثر يې (پټه خزانه) ده.
8. پيـر محمـد کـاکړ د**۱۱۲۰**- **۱۱۳۰** کـالو پـه منـځ کـې پيدا شوی او په **۱۲۱۲** هجري (ق) کې وفـات شـوی څلور کتابه لري.
9. بي بي عائيشه دراني دا دتيمورشاه دوخت شاعره ده پـه کـال **۱۲۳۵** هجـري (ق) وفـات شـوې د پيدا ينبـت نښه يې نه ده څرګنده.
10. علامه سيد جمال الدين افغان دسيد صفدر زوی په کونړ کې په کال **۱۲۵۴** هجري (ق) کې پيدا شوی او په کال **۱۳۲۳** هجري (ق) کې وفات شوی .ملا فيض محمد دسيد محمد زوی دقره باغ پـه سيمه کې پـه کـال **۱۲۷۹** هجري (ق) کې پيدا شوی پـه کـال **۱۳۴۵** هجـري (ق) کې وفات شوی **۹** کتابونه يې ليکلي دی.
11. بهايي جان **۱۳۱۳** کې پيدا شوی **۵۱۱۳** کې وفـات شوی **۲** کتابونه يې ليکلی دي.
12. عبدالحی حبيبي په کال **۱۹۱۰** م کې په قندهار کې پيدا شوی شاعر او ليکوال ؤ **۱۹۸۴** م کې وفات شوی **۲۰** کتابونه يې ليکلي دي.
13. نازو انا چې دميرويس نيکه مور ده په قندهار
14. کې په کال **۱۰۲۱** هجري (ق) کې پيدا شوې چې د سلطان (ملخي) لور کېده يو لوی د اشعارو ديوان لري.
15. زرغونـه انا داحمد شاه بابا مورده پـه کـال **۱۱۷۴** هجري (ق) کې پيدا شوې د مرګ نښه يې نه ده څرګنده يوه هوښياره او مجاهده ښځه وه ښشمېره اشعار يې هم ليکلي دي.
16. ميـرمن زينـب دا دميـر ويـس خـان لـور وه **۱۱۴۹** پورې يې ژوند يقيني ندی په پټه خزانه کې يې اشعار چاپ شوي دي.
17. غازي ادې دلوګر څخه وه دانګريزانو په جګړه کې يې بيرغ په لاس دجهاد په ميدان کې شهيده شوې ده.

18. پېغله ملالی. دمیوند دجګړې فاتحه بیرغ پـه لاس دجنګ میدان کې یې ځوانان جګړې تـه هڅـه ول او نـارې یې وهلې.

19. خوشـحال خـان خټـک ۱۰۲۲ هجري کـې پـه اکوړه خټک کې پیدا شوې د شهباز خان زوی د تـورې او قلم خاوند ۱۱۰۰ هجري کې وفات شوی دی.

20. غـلام محی الـدین د پښـتو انجمـن خدمتګار پـه ۱۳۰۰ هجـري (ق) کـې وفـات شـوی د پښـتـو متلونـو مجموعه یې (سروج الاخبار) کې چاپ کړی دی.

21. محمـد ګـل نـوري د پښـتـو ادبیـاتو بېلګـې یـې راټولې کړي دي او چاپ کړي یې دي پـه کـال ۱۳۵۲ کې وفات شوی دی.

22. حبیب الله رفیـع د پښـتـو ژبـې شـاعر، لیکـوال او څېړنپوه دی په دې لاره کې یې ډېر خدمات کړي دي.


23. محمد نواز خان طاهر – ولي محمد خان سیال هم د پښتو ادب لپاره زیات خدمتونه کړي دي.

24. محمد صدیق روهي ، عطایي ،دوست شینواری دوی هم د پښتو ادب لپاره خپله ونډه کارولې ده.

25. شېخ امام الدین خلیل - ده هم د اولیا افغان په نوم یو اثر چاپ کړی دی.

26. بي بي نیـک بخـتـه د شعر او ادب د لیکـوالـۍ پـه حیث یې (ارشاد الفقـراء) پـه نـوم کتـــاب لیکلـــی دی.

27. د نـــاروي



نومیالی پوهاند (مارکترن) چې پښتو ژبه اریایي بـولي په دې برخه کې یې ډېرې لیکنې کړي دي.

28. فیاض د ۱۲ مې حجري پېړۍ شاعر او لیکوال چې د شهزاده بهرام او ګل اندامې قیصه یې لیکلې ده.

29. الله یـار خـان ادیـب او شـاعر د پښـتـو او اردو قاموس یې لیکلی دی.

30. محبـت خـان ادیـب او لیکـوال د پښـتـو لغـت او ګرامر کې یې (ریاض المحبت) لیکلی دی.

31. مسـتجاب خـان دلیکـوالی پـه دود یـې (ګلسـتـان الرحمت) لیکلی دی.

32. استاد ګل پاچا الفت یوه پېژندل شوې څېره ادیب لیکوال شاعر په نثرکې یو خاص مقام لري.

33. نیاز احمد هوش په پښتو کې یې د (روهیـل کنـد)تاریخ لیکلی دی.

34. هلالـي د (ننګیـال پښـتـانه) پـه نـوم یـې کتـاب لیکلی دی.

35. پیر رونیان چې خیر البیـان یې لیکلی او پـه څلـو ژبو کې ترجمع شوی دی اصل نوم یې (بایزید د پـلار نوم یې شېخ عبدالله ؤ.

36. افضـل خـان خټـک د علم خانـه دانـش پـه نـوم یـې کتاب لیکلی دی.

37. زرغونه د ملا دین محمد لور چې د پښتو بوستان یې لیکلی دی.

38. میـا جي پیـر محمـد د افضـل الطریـق پـه نـوم یـې کتاب لیکلی دی.

39. لوی احمد شاه بابا چې پښتو او دري ژبو کې لـوی ،لوی دیوانونه لري.

40. محمـد هوتـک د پټـې خزانـې مولـف دی پـه کـال ۱۰۸۴ هجري کې پیدا شوی دی.

41. کـاظم خـان شـیدا د ا فضـل خـان زوی شـاعر او لیکوال د خوشحال خان له پشته دی.
42. تمین بابا د پښتو ژبې نویالی شاعر.
43. جانان فدري ، رزق الله جیر هاری چې ښکلي اشار لري.
44. میرزا خـان انصـاري ادبـي نثرونـه او بـې شـمیره اشعار یې ټولنې ته وړاندې کړي دي.
45. میرزا عبالعلي د امیرشیر علي خـان پـه وخت کې یې د شمس الانهار په نوم جریده چلوله.
46. مولانا غنیمت چې د نیرنگ عشق پـه نوم یې اثـر لیکلی دی.
47. امیـر حمـزه خـان شـینواری چـې د بابـا لقـب ورتـه ورکـړل شـوی د پښـتوژبې لپـاره یې بې شـمېره کتابونـه لیکلـي دي یو ښـه ادیـب شـاعر چـې ټـول پښـتون ولـس وربانـدې فخر کوي.
48. ملا محمد یو نس چې د جامع الفرایض په نوم یې کتاب لیکلی دی.
49. مـلا زعفران داهـم دشا ه حسین دوخت شـاعر او لیکوال دی.
50. ریدي خان مشهور اثر یې (محمود نامه) ده.
51. پیر محمد کـاکړ د پښـتو ژبې خوږ ژبی شـاعر د (معرفا االافغان) په نوم یې کتاب لیکلی دی.
52. سلیمان ماکو ۶۱۲ هجري کې یې دتذکرة الاولیا کتاب لیکلی دی.
53. عبدالحمید بابا د دور او مرجان په نوم یې کتـاب لیکلی دی.
54. نعمـت الله هـروي ۱۰۱۸ هجـري کـې یـې د فخـر افغاني په نوم یو کتاب لیکلی دی.
55. عبـدالروف بینـوا لیکـوال ،محقـق او تجزیـه کونکی.
56. غـلام دسـتگیر رڼـگ ،عبـدالروف قتیـل او اقـا محمد کړندی د ننگرهار د شعر او ادب روښانه څهرې.
57. سـید مـراد مـین (زمـا زړه تاسره دی) یـوه ولسـي شعري ټولگه یې چاپ شوې ولسي شاعر.
58. ملنگ جان د پښتو ادب ځلانده ستوری دخوږو نغمو په نوم یې شعري مجموعه چاپ یو انقلابي شاعر.
59. محمد نور دلغمان ولایت یو ولسي شاعر د سیند غاړې گلونه یې چاپي اثر دی.
60. احمـد خـان چـې د تصوف بـاره کې یې یو کتـاب چاپ شوی دی.
61. توکل دی هم یو ولسي شاعر دی.
62. مفتي عبدالحنان دلغمان یو ولسي شاعر.
63. اسحاق ننگیال شاعر او لیکوال چې اوس یې پـه نوم دلغمان په ولایت کې یو ښونځی هم جوړ شوی.
64. نور الحق مشتاق ولسي شاعر.
65. عبـدالباقي جـان مشـهور پـه بـاقي جـان مامـا د رښتیا وینا په نوم یې یوه ولسي شعري ټولگه.
66. عبدالرحمن علینگاری ولسي شاعر.
67. پائینده محمد ولسي شاعر.
68. ایا جان ولسي شاعر.

درنو لوستونکیو هغه شاعران او ادیبان چې زما په ذهن کـې وو او نومونـه یې راتـه یـاد وو ذکـر کـړل داسې نـور شاعران او لیکوالان هم شته چې نومونه یې را تـه یاد نـه دي کوشش کوو چې د هغوی یادښت هم پـه راروانـه گڼه کې یاد کړو چې نومونـه یې د پښـتو ادب پـه زرینو پـاڼو کې د تل لپاره پاتې شي.

حیات الله (وړ)

لــه خبــرات نــه مخکــې ســوال مــې د کچکــول دی
ګـــل د مينــې وبســه مــات دزړه کنــډول دی
چـې مـې هـر سـپرلي کـې اوښـکې نذرانـه کـړې
رژبــــدلی پـــه شــــبنم پســـې غــــاټول دی
بغـــاوت د اوښـــکو څــــه دي توبېــدل دي
هســې تـــاو دې د ښـــو ورځنـــې شـــپول دی
بــې لــه مهــره يــې آهنــګ برابــر نــه شــي
هــر غــزل مــې د خائيســت پــه تلــه تــول دی
هــېڅ اثــر پــرې دوخــت قيــد او شــرط ونــه کــړ
(ورړ) هماغســـې شـــر شـــاره غـــزل بـــول دی

حکيمانه خبرې

محمد منصور سپېڅلی

1. درې تنه به جنت ته نه ځي ۱ دوکه باز۲ احسان باروونکی ۳ بخيل.
2. درې نصيحتونه دحضرت محمد (ص) له قوله ابوذر (ض) ته يې وفرمايل ۱ له الله (ج) ويره کوه هر چېر ته چې يې ۲ په بدۍ پسې نيکي کاري کوه پاکوي يې ۳ خلکو سره ښه رويه کوه.
3. درې شيان دي چې د مسلمان زړه يې نه پرېږدي ۱ په عمل کې اخلاص ۲ دمشرانو حاکمانو لپاره په زړه کې خېرراضي۳ د مسلمانانو له جماعت سره ځان تړل.
4. درې نيک عدتونه ۱ له ضيف سره نرمي کول ۲ له پلار او مور سره نرمي کول ۳ دمملوک (غلام) سره نر مي کول.
5. درې حساب اسانه کونکي عادتونه چې الله (ج) ورسره حساب اسانوي ۱ ورکړه کوه هغه چاته چې تا ته څه نه در کوي ۲ بخښنه کوه هغه چاته چې له تا سره ظلم کوي ۳ خپلولي ټينګوه له هغه چاسره چې له تا سره يې پرې کوي.
6. درې هغه محترم اوازونه چې الله (ج) ورسره له ملائيکو سره دليل وايي ۱ اذان ۲ په جهاد کې الله اکبر ۳ په تلبيه باندې اواز پور ته کول.
7. درې کسان چې الله (ج) ورڅخه نفرت کوي ۱ سپين ږيری بد عمله انسان ۲ غريب کبر جن ۳ مالداره ظالم.
8. درې صفتونه چې انسان جنت ته ننباسي دچاچې روح له بدن نه جدا شي او دی له دې درې صفتونو نه پاک وو ۱ کبر ۲ قرض ۳ دوکه.
9. درې عملونه الله (ج) ته محبوب دي ۱ په الله (ج) باندې ايمان راوړل ۲ له خپلوانو سره دوستي ټينګول ۳ امربل معروف نهی عن المنکر.
10. درې ښه عملونه ۱ ته خپل ورور ته خوشالي ورکوه ۲ يا يې قرض خلاص کړئ ۳ او يا په هغه ډوډۍ وخوره.
11. درې د خير ساتونکي شيان چې همېشه د امت په خبر باندې وي ۱ تر څو چې خبرې کوئ رښتيا وايي ۲ ترڅو چې فيصلې کوئ عدل کوئ ۳ تر څو چې در نه رحم وغوښتل شي رحم کوئ.
12. درې نصيحتونه - ای علي (ض) درې شيان مه ورسته کوه ۱ لمونځ چې کله يې وخت شو ۲ جنازه کله چې تياره شوه ۳ په نکاح کې کله چې سيال ورته پيدا شو.

چـــې انقـــلاب د زورورو خلکـــو نـــه پېژنـــي
دې انســـانيت تـــه انســـانيت مـــه وايـــه
غريـــب وي هـــر ځـــای کـــې بـــې لاســـو پښـــو
دې جمهوريـــت تـــه جمهوريـــت مـــه وايـــه

صفي الله (ثمر)

دا هــم هــېــڅ زنــدګاني نــه ده ګـویــا کــې
چــې بــې یــاره ژونــدی پــایم پــه دنیــا کــې
تــورې زلفــې سـپین رخسـار د جانــان ویــنم
د دنیــا پــه هــر سـفید پــه هــر سیا کــې
نــور عــالم کــه پــه کیمیــا زر کــوي خــاورې
مــا زر خــاورې کــړه د مینــې پــه کیمیا کــې
عبد الحمید بابا

په شعر کې ترجیع بند

د ترجیع لغوي معنی ٔ و اپس کول دي او په اصتلاح کې د هغه شعر تخلیق ته ویلی شي چې د ترکیب بند د نظم په شان وي فرق په کې داوي چې د ړومبي بند نه پس راتلونکی شعر یا مصرعه پکې د هر بند نه پس تکرار راشي له دې نه علاوه په ترکیب بند او ترجیع بند کې هېڅ فرق نه وي –د ترجیع بند شعرونه سېوا د دغې یو شعر یا یوې مصرعې نه د غزل په هینت لیکل کېږي

ترجیع بند په مثلث ، مربع ،مخمس ،مسدس ، او مثمن او نورو هینتونو کې هم لیکلی شي – خو د خوشحال بابا د یو ترجیع بند نظم دا یو بند د نمونې لپاره را اخلو .

ســتا لــه لــوره کــه هــزار جــور و جفــا وي
لــه عاشــقه بــه پــه ســل رنګــه وفــا وي
پــه عاشــق بانــدې معشــوقه عنایــت کــه
ســتا مــدام پــه خپــل عاشــق بانــدې عنــا وي
ښــۀ مــا ومنــل تــۀ بــې حــده زېبــا یــې
پــه جهــان بــه ښــوک کــم تــا غونــدې زېبــا وي
ولــې خــدای چــې ښــه جمــال و چاتــه ورکــړي
نــه پــه دا چــې دی بــې مهــره کبریــا وي
کــه قضــا پــه مــا زړه ســوی کــړه هــم بــه و مرم
کــه یــو څــو ورځــې دې جنــګ او فتنــې دا وي
کــه تــه ماســره غوغــا جنــګ و جــدل کــړې
خــدای دې نــه کــا چــې لــه تــا بــه تلــه زمــا وي
ســتا د در پــه خــاورو پــروت بــې قــدره ښــه یــم
پــه بــل لــوري کــه پــه تخــت کښــېنم ښــه نــه یــم

او دغه اخري شعر چې دواړه بیتونه یې هم قافیه او هم ردیف دي د هر بند نه وروسته تکرارړي .

له استاد شاه ولي خان سره مرکه

محسن صدیقي

ګرانو لوستونکیو داځل مو د پښتو ژبې تکړه او پیاوړي استاد (پوهنیار شاولي خان) سره مرکه کړې چې نومه وړي خپل ټول ژوند د پښتو ادب لپاره لکه د شمعې اوبه کړی او په زرګونو کسان یې د پښتو ادب او ژبې سره پخلا کړي لا تر اوسه یې د ستړیا جامه نه ده په تن کړې مونږ ورته لاس په دعا یو چې الله دې ورته لوی عمر ورکړي تر څو نور هم په دې لاره د پښتو ادب لپاره خپله ځلا زمونږ قام ته وو ښي (امین)

پوښتنه: محترم استاد اکثره خلک ستا سو له نوم سره اشنا دي خو د مرکې له دود سره سم که د پیلوزي مجلې لوستونکیو ته ځان را و پېژنئ مهرباني به مو وي؟

ځواب: نوم مې شاولي د پلار نوم مې غفور خان د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ دبړو په کلي کې په ۱۳۲۴ کال زیږیدلی یم.

پوښتنه: محترم استاد زده کړه مو څومره، کله او چېرته کړېده که لږه رڼا پرې واچوئ ؟

ځواب: لومړنۍ زده کړې مې د بړو په متوسطه کې کړې او وروسته په کابل کې د ابن سينا د ليسې څخه په ۱۳۳۴ هـ ش کال فارغ شوی يم او په ۱۳۴۱ کال د کابل د دارالمعلمين څخه فارغ شوم بيا ښوونکی شوم ۲ کاله مې د احداد په عالي لېسه کې د ښوونکي مقدسه وظيفه اجرا کړه او بيا وروسته په ۱۳۴۷ کال کابل کې د ژبو او ادبياتو پوهنځۍ پښتو څانگه کې شامل او په ۱۳۱۵ کال ورڅخه فارغ شوم په ۱۳۵۸ کال د ننگرهار پوهنتون کې د ژبو او ادبياتو پوهنځۍ د پښتو څانگې استاد شوم.په ۱۳۵۷ کال د هندوستان د ډيلي پوهنتون کې رسماً د افغانستان اسلامي دولت له خوا هلته د پښتو ژبې استاد ور وپېژندل شوم او يو کال مې هلته خپله دنده په ښه توگه اجرا کړه.

پوښتنه: محترمه ! ستاسو په فکر د شعر تعريف څنگه دی شعر څنگه ارضيابې کوئ؟

ځواب: شعر هغه منظومه وينا ده چې احساسات را وپاروي او په زړونو اغيزه وکړي تولنه ور نه يوه مثبته پايله لاس ته راوړي په اصل کې شعر د فطرت هغه دنيا ده چې د قام په زړونو کې ځانته يو بېله دنيا جوړوي .

پوښتنه: محترم استاد ځينې خلک باور لري چې د شاعرۍ اساسي لامل مينتوب دی تاسې دا خبره څومره او تر کوم حده منلې شئ؟

ځواب: هو ! دا خبره تر ډېره حده سمه ده ځکه چې د پښتو ادب ځلانده ستوری اروا ښاد گل پاچا الفت هم وايي.(هر شاعر مئين دی خو هر مئين شاعر نه دی شاعر د قام ترجمان دی د ولس په زړه کې يو بېل مقام لري د الفاظو راټولول او په يوه منظمه توگه د هغه زېلول د شعر په بڼه دا ديو مين طبيت فطرت دی چې هم يې مين بولو او هم شاعر ځکه مينه يو اځې په محبوب پورې اړه نه لري بلکې له هر څه سره مينه تړلې ده .

پوښتنه: ښه شعر د څه نه معلومېږي او خصوصيت يې څه دی؟

ځواب: ښه شعر ډېر حصوصيتونه لري چې زه به يې يو ، دوه درته ووايم: لفظي خصوصيت او معنوي خصوصيت (محتواً او بڼه) که دواړه سره سم هم اهنگه وي په ښکلو جملو او ښکلو بيتونو کې يوه ښه موضوع چې د ټولنې په درد ولگي د ټولنې دردونه په کې ښکاره شي ښه شعر دی.

پوښتنه: ستاسو په اند سياست او ادب يو له بل سره څه تړاو لري که نه؟

ځواب: انسان خپله په ټولنه کې او سېږي نو خپله ټولنيز ژوند يو سياسي ژوند دی نو ادب هم په ټولنه کې منځ ته راځي نو يو له بل سره تړاو لري خصوصاً په شلمه پېړۍ کې ادب په ژوندانه زياته اغيزه لري ادب له سياست او سياست له ادب څخه ځان نه شي خلاصولی.

پوښتنه: ژبه په سياسي فعاليت کې څه رول لري؟

ځواب: ژبه د افهام او تفهيم وسيله ده نو بايد د ژبې څخه په سياست او نورو کې کار وانه خستل شي.

پوښتنه: د پښتو ژبې ادب د ترقۍ لپاره بايد کوم کارونه تر سره شي؟

ځواب: بايد په خپله ژبه تجارت ونه کړو او د پښتو ژبې پخوانۍ ليکنې او اثار بايد وساتو او خوندي يې کړو او لوستنې يې عملي شي، تحصيل دې وشي،نشرات او علمي اثار بايد ډېر ولر له دې سره يوه ژبه تر ډېره حده ژوندۍ پاتې کېږي.

پوښتنه: په ټولنه کې اخباري مجلې يا نورې رسنۍ څه رول لوبولی شي ؟

ځواب: ډېر زيات رول لري د شهرت لپاره بايد چاپ نه شي دغه اخبار او خبري رسنۍ د هېواد د ترقۍ او د ټولنې د نيمگړتياوو د له منځه وړلو لپاره ښه وسيلې دي همدغه ليکنې دي چې شاعران او ليکوالان په کې روزل کېږي او د ټولنې ځوانان د پوهو کسانو سره تفاهم کوي او د الفاظو تبادله کېږي خو زما هيله داده چې هغه مطالب په کې ذکر شي چې د ټولنې درد لپاره وي.نه د تخريش لپاره او د وسې خاوندانو ته دا وايم چې په دې برخه کې ډېرې مالي مرستې وکړي.

پوښتنه: ځوان شاعران باید څه وکړي چې شعر یې قوي او خیال یې په ښه توګه څرګند شي؟

ځواب: ځوانو شاعرانو ته بس دومره وایم چې یو علمي درد ولري او د ادبي تحقیقاتو ډېره مطالعه وکړي او خپلې لیکنې باید مشرانو ادیبانو ته وښایي تر څو خامیانې یې ور په ګوته کړي او خپله ټولنه وپېژني خپل قلم ښه وچلوي او رنګ ورته ورکړي معاصر لیکوالان دې مطالعه کړي لکه یو لیکوال لنډه کیسه لیکي نو ددې فن لپاره باید پوره پوهه ولري چې په دې لیکنه یا کیسه کې د کوم ادبي سبک څخه کار اخستل شوی، کله کله باید د سترو ملي لیکوالانو اثار هم مطالعه کړي.

پوښتنه: ادبي بنډارونو کې ناستې د شاعرانو او لیکوالانو په فن څه اغیزه لري؟

ځواب: مشاعري ته ادبي بنډار ویل شوی چې د شاعرانو ترمنځ د شعر ویلو سیالي ده شاعران سره ټولېږي او یو د بل شعرونه ښه ازمایي او بیا یې جایزه اخلي چې د چا شعر ښه دی په دوی کې داسې شاعران هم پیښېږي چې په شعر لیکلو کې ډېره تجربه لري او خپل پیغامونه ټولنې ته رسوي همدا سبب دی چې د ځوانانو دغه بنډارونو کې د شعر په تخلیق کې زیاته مرسته کوي.

پوښتنه: د ځوانانو شاعرانو په کتابونو سریزې لیکل د ځینې شاعرانو په نظر ښه نه بریښي تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟

ځواب: دې ته سریزه نه بلکه تحلیظ وایي د یو بل لیکوال او شاعر لپاره نو دا ډېر شرایط هم نه لري که مونږ دا په (ظ) ولیکو نو ټولې مثبتې خواوې راځي او که په (ض) ولیکو نو دا کره کتنه ده او مثبتو او منفي اړخونو مطالعه ده نو دا اوسني یې چې لیکي دا تحسین لیکنه ده نو کره کتنه مونږ ته کره او ناکره معلوموي.مونږ باید شاعرانو ته د تګ لاره وښایو مونږ باید په دغه لیکنه کې داخل کره



کتنه وکړو تر څو دغه لیکنه ګټوره شي او دا باید بې طرفه وي.

پوښتنه: ځوانانو شاعرانو ته څه پیغام لرئ؟

ځواب: فقط دا وایم چې لږ ولیکي خو ښه ولیکي د چا په فرمایش ونه لیکي او د ټولنې د مساوات لپاره ولیکي هر وخت چې شعر لیکي نو خپلو دوستانو او شاعرانو ته دې وښایي چې هغوی څه نظریه لري کمښت یې په نظر کې ونیول شي که عشق هم ستایي خو چې ټولنې ته خوند ورکړي.

پوښتنه: د ژوند تر ټولو ښه خاطره مو راته ووایاست؟

ځواب: که زه ووایم چې زما خاطره څه ده نو زما خاطره زما قوم دی نو زه خپل وطن او قوم کې خوشحالي او سوکالي ډېره کمه ګورم کله چې ما په دې سپېڅلې خاوره کې قدم ایښی ما خوشحالي نه ده لیدلې زما خوشحالي زما د قوم خوشحالي ده او زما شخصي خوشحالي هم په ټولنه کې ده نو د ټولنې خوشحالي زما خوشحالي ده.

پوښتنه: د پیلوزی مجلې ته څه پیغام لرې؟

ځواب: ښه ثقافت لري او ادبي جوړښت یې ښه دی او هر هغه څوک چې په دې کې کار کوي الله(ج) ورته اجرونه ورکړي او زه هم ورته د الله(ج) په لوی دربار کې لاس په دعا یم چې دغه لوی خدمت سرته رسوي زه خوشحالېږم چې ژوند ادبي خلکو را ژوندی کړي او لږ ادبي، مسلکي، تخلیقي او تحقیقي اثار وخېري او د سیاست د نظم او نثر تعادل وساتل شي خبرې یې ادبي وي یو نیم ذکر باید د تیر تاریخ په اړه هم وښي.

پوښتنه: تر اوسه مو څومره اثار چاپ شوي دي؟

ځواب: ۱- د کاظم خان شیدا د دیوان لغت نامه.
۲- د پښتو نوي لغت جوړونه. ۳- د پښتو ادبي نثر ډولونه او بشپړتیايي پړاوونه. ۴- خوشحال پېژندنه (درسي کتاب) د پوهنتون دریم او څلورم ټولګي.

پوښتنه: د کومو شاعرانو شعرونو سره همغږي لرئ؟

ځواب: زما په كلاسيكي شاعرانوكې د حميدبابا شعرونه خوښېږي او معاصرو كـې مـې د شمس الـدين مجروح شعرونه خوښېږي او ورسره، ورسره مې د ګل پاچا الفت شاعري ډېره خوښېږي.

پوښتنه: محترم استاد تاسو په دې څومره ډاډمن ياست چې تاسو پښتو ژبې ته ډېر خدمت كړی دی؟

ځـواب: زه بـه دا ووايـم چـې زه كلـه لـه هندوسـتانه افغانستان تـه راغلم نو د سردار داؤد خان نظام وو او ماته له هندوستانه زما شاګردانو په پښتو كې ليكونه را واستول نو زه خوشحاله شوم

حېران يم

ځينو، ځينـو انسانانـــو تـــه حـــيران يـــم
چـې شـكبر يـــې پـــه ظـاهره او پنهـان يـم
پـه ظـاهر بـه د وروري نـه درتــه وايــي
خـــود زړه پــــه ارادو يـــې بدګمـــان يـم
چې تـه نـه يـې بيـا د بـل سره يـې مـخ شي
ورتــه وايــي زه دې دوسـت پـه هـر ميـدان يـم
خپلـې ګټـې بـه د بــل پـه زيـان كـې ګـوري
زه دا مكــر، دوه مخــی تــه يـې حيـران يـم
پـــه هرلـــوري دنفـــاق اورونـــه بــل كـړي
پـــدې كـــار كـــې بـــاوري پـــرې د شـــيطان يـم
ســـكني خواخـــوږي، ورونــه ســره بـــد كړي
بيـــا پــه هريوپاچـــاهي كـــړي وايـــي خـــان يـم
كــه دبــل ســره خــاين شـــي ګنـاه ګـار شـي
خـــو ددين پـــه نـــوم بـــه څنګـه مسلمان يـم
د اخــلاص او د راســـتي ښـكلي دنيـــا ده
پـــرې زوريـــږم غلطـــی تـــه يـــې حيـران يـم
صـــداقت اوورورولی كــــې ســــرلوړي ده
ددوه مخـــو پـــه دوســـتي تــل پښـــېمان يـــم

سميع الدين افغاني

بهترينه انسان هغه ده چې نورو ته يې خېر ورسي.

جګړه د بشريت تباهي ده

د بشريت تاريخ په حقيقت كې د جګړو تاريخ دی. د بشري تاريخ پـه سير كې جګړه تـل د انسانانو د لارې مـل وه. تر اوسه پورې لږ او ډير ۱۴۴۰۰ جګړې د بشريت پـه حافظه (تاريخ) كې ثبتې شوي دي چې د دې جګړو لـه كبلـه ۳،۵ ملياردە انسانانو خپل ژوند لـه لاسه وركړی.پـه لمړي سر كې جګړه د كورنيو تر منځ وه. وروسته بيا د قبايلو، بيا د سيمو، او بيا د دولتونو تر منځ او په معاصر تاريخ كې د سياسي او اقتصادي سيستمونو تر منځ، د طبعي څېرمو د لاس ته راوړلو له كبله او يا په ځنو دولتونو كې د بشري حقوقو د تامينولو له پاره جګړې پيل شويدي.جګړه ډېر عوامل لري؛ د بېلګې په توګه د خپلواكۍ لـه پـاره جګړه، خپلمنځي جګړه، نړيواله جګړه، د ځمكو د تسـخيرولو لـه پـاره جګـړه، د اديـانو او ايـديولوژيو د خپرولـو لـه پـاره جګړه، د ګاونډيانو او يـا د رقيبانو د تضعيفولو لـه پـاره جګړه او داسې نور...همداسې جګړه ډېر ډولونه لري، لكـه سړه جګړه، ګرمه جګړه، چريكي جګړه، اتـومي جګړه او داسې نـور...د جګړې ډېرۍ كربانيـان غيـر نظامي وګړي دي.زمـا موخـه دلتـه دا ده چې هـر هغـه څوک چې جګـړه پيلوي، پـه خپلـه بيـا تښـتي.د بشـريت پـه تـاريخ كـې ډيـر داسې جګړه مـاران راغلـي او تللـي چې خپـل ولسـونه يې جګړې له پاره چمتو كړي، هغوی يې په جګړې كې رهبري كـړي او د بريـاوو تـر څنـګ كلـه چې پـه جګـړې كـې نـاكـام شوي، يـا تښـتېدلي او يـا دا چې ځان وژنې تـه اړ شوي.د بېلګې په توګه كله چې ناپليون بناپـارت وشو كـولی چې

د فرانسې ولس سره متحد کړي، نو په اروپا کې يې جګړه پيل کړه. ډير هيوادونه يې تسخير کړل او ډير خلک يې ووژل. خو کله چې ناپليون ناکام شو او تسخير شوې ځمکې يې بېرته له لاسه ورکړې او کله چې د ناپليون په وړاندې د اروپايي متحدينو وسلوال پاريس ته ورسېدل او پاريس يې کلابند کړ او چې ناپليون ته دا په ډاګه شوه چې جګړه يې نور بايللې ده او دی به اسير شي، نو ده په دې هيله چې مړ شي د زهرو جام وڅښلو تر څو چې د ناکامۍ له شرمه ژغورل شوی وي. همدا سې کله چې هتلر په واک ورسېد او په جرمني کې يې بېکاري لمنځه وبوړه، په جرمنانو کې ملي احساس ژوندی کړ، تخنيک او تکنالوژي ته يې پراختيا ورکړه او کله چې په دې ډاډمن شو چې اوس نو په نړۍ واک چلولی شي، سم د لاسه يې خپل ولس د جګړې له پاره چمتو کړ او د جرمني تر څنګ يې ټوله اروپا د وينو په سمندر کې ولمبوله. خو کله چې دی په جګړې کې مات شو بيا يې خپل ځان ووژلو. د دې تر څنګ کله چې روسانو په افغانستان يرغل وکړو، نو دوی راغلل، افغانان يې ووژل، کلي او ښارونه يې ورته وران کړل او چې پّ دې پوه شول چې نور د جګړې د غزولو توان نلري، بس بالا بېرته وتښتېدل. القاعدې هم لمړی زمونږ د هيواد نه يې د تروريزم ځاله جوړه کړه او بيا يې د لويديځوالو په وړاندې جهاد اعلان کړ، او د لويديځوالو تر يرغل وروسته د القاعدې مشر په خپله وتښتېدلو، خو زمونږ هيواد يکې وران ويجاړ شو. د القاعدې د ځپلو له پاره امريکا خپل متحدين راټول کړل او يوه جګړه يې پيل کړه، او اوس چې ورباندې سياسي او اقتصادي فشار ډير شوی، غواړي چې خپله پښه له افغانستان نه وباسي. خلص دا چې؛ هر چا چې جګړه پيل کړې نو په اخر کې په خپله له منځه تللی او يا تښتېدلی. پردی مځکې د لښکر او وسلې په زور سخيرېدلی کېږي، دا دومره سخت کار ندی. خو د هغه انسانانو زړونه چې په دې مځکو کېژوند کوي د وسلې په زور نشي تسخيرېدلی. په دې کې شک نشته چې انسان په ځان مين يو موجود دی او د خپل نام او نشان له پاره ځان خو پرېږده چې ډير نور ميزوف انسانان له ځانه سره يو ځای کربانوي. دلته هر انسان بايد مځکې له دې چې د يو لښکر غړيتوب تر لاسه کړي بايد د جګړې په تعريف، مفهوم او موخه ځان پوه کړي او له ځان نه دا وپوښتي چې ايا د لښکر مشر د دې ارزښت لري چې زه يې شاته ودرېږم؟؟او يا د کومې موخې له پاره چې دا لښکر جوړ شوی، زما او زما د راتلونکي نسلونو د ګټو سره سمون لري او کنه؟؟. د روسيې د کمونيستي ګوند د ګټو له پاره په زرهاوو روسان په افغانستان کې ووژل شول، خو روسان بې له دې چې کومه ځانګړې ګټه يې تر لاسه کړې وي، وتښتېدل. د هتلر له پاره دوه مليونه جرمنان اسير شول او په لسهاوو زره جرمنان د پولنډ او چکوسلواکيا نه وشړل شول. د ناپليون له پاره هم په لسهاوو زره فرانسويان ووژل شول. خو د څه له پاره؟؟د جګړې د ګټو نه خود دوی، تاوان ډير وو. په دې کې شک نشته چې په روانې سليزې کې به هم جګړه د بشريت د لارې مل وي. وسلوال او بېګناه ولسي وګړي به وژل کېږي، کلي او ښارونه به ورانېږي او دا او يا هاغه بل دولت به ړنګېږي. تل پاتې سوله يو ښکلی خيال دی، نو له دې کبله هر ولس بايد تل د جګړې له پاره چمتوالی ولري.

((متلــونه))

1) بيکاري دبد بختۍ زانګونه.
2) بد خوی چې زورورشي نو عقل مرور شي.
3) او سپنه په اوسپنه ماتېږي.
4) اوسپنه چې څومره ټکېږي هومره کلکېږي.
5) باز چې څومره خوار شي چونګښې نه خوري.
6) وړانده ته شپه او ورځ يوه ده.
7) بې ميوې ونه څوک په ډبرو نه ولي.
8) او به په ډانګ نه بېلېږي.
9) امانت ځمکه نه خيانتوي.
10) هوښيار ته اشارت کمعقل ته کوتک.
11) مار خوړلی له پړي ډارېږي.
12) مه کوه په چا چې رابه شي په تا.
13) ژرنده که د پلار ده هم په وار ده.

14) چې څه کرې هغه به رېبې.
15) وینزه چې خواره شي دوینځې کالي مینځي.
16) پردي زوی نه خپله لور هم ښه ده.
17) نوک او وری نه بېلېږي.
18) بن خو بن ده یور خو د سر کند ده.
19) د بدې خبرې بد انجام ده.
20) ښځ کوه او به یې هم نه وړې.
21) عقل مند دې عقل وکړي بېعقل دې تمیز.

په پښتو ژبه کې لنډۍ

رالېږونکی قاري سمیع الحق علیخېل

****
******

د پښتو ژبې په نالیکلو ادبیانو کې ډېرې مشهورې سندرې چې ټول پښتانه یې پېژني او ورسره خوراډېره مینه لري هغه لنډۍ دي لنډۍ دوه مصره یزه منظومه ده چې لومړۍ مصره یې نهه او دویمه یې دیارلس سېلابه ده دلنډیو یوه عمده ځانګړنه داده چې پخپل لنډ او ښکلي جوړښت کې بشپړ مفاهم لري لنډیو ته په ځینو سیمو کې ټکۍ یا ټپې هم وایي زیاتره لنډۍ په هنري لحاظ ډېرې ښکلې او په انځویزه توګه بیان شوي دي او په سادګۍ کې هم ډېره ښکلې بڼه لري چې زمونږ نورې سندرې له دغه خصوصیاتو له کبله له لنډیو سره سیالۍ نه شي کولای د لنډیو وینکي نه دي څرګند لنډۍ د عام اولس ځېګنده ده شپون ،بزګر. ترکاڼ. .... هر څوک یې په ښه اندازه او په اکثریت کې زمونږ کلیوالې پېغلې دلنډیو په جوړولو کې لویه برخه لري .

ځینو معاصرو لیکوالانو هم د لنډیو جوړولو خوند څکلی دی په زیاته پیمانه یې دې لور ته کار کړی دی ټولې لنډۍ په پښتني سیمو کې د موجوده زېرمې استازیتوب نه شي کولای بلکې یوه برخه یې راټوله شوې ده په ولسونو کې ډېرې داسې لنډۍ شته چې تر اوسه پورې نه دي کښل شوي او تر محدود اولسه پورې رسېدلي دي په لنډیو کې د پښتنو کلیوالي ژوند د عنعناتو بېلا بېل اړخونه او د ولس ساده او رواني خبرې په هنري بڼه د لنډیو یوه خاصه ده چې په هر عصر کې د لنډۍ یو بېل قام وي چې په ورځني ژوند کې هم د متلونو په سېړیې کارولی شو د بېګې په توګه دا لنډۍ تاسو ته وړاندې کوم.

دبېلتانه په مدرسه کې
دغم کتاب شروع کوم ژړا راځینه
بیا به نرۍ جامې ونه کړم
باران لمده کړم جانان ټوله ولیدمه

قاعد اعظم ترې پوښتنه وکړه ؟

مرکه

سید نقیب الله سحر

ګرانو لوستونکیو دا ځل مو په خوست ولایت کې د شیخ زاید پوهنتون د زراعت پوهنځی رئیس ماسټر عبدالخلیل افغاني سره د مرکې په لړ کې یو څو خبرې کړې دي چې ستاسو پام ورته را اړوو هیله ده چې د خوښۍ سبب مو وګرځي.

پوښتنه: ریس صاحب له دود سره سم که د هر څه نه د مخه خپـل ځـان د پیلـوژي مجلـې درنـو لوسـتونکیو تـه وروپیژنی؟
ځواب: د هر څه د مخه د پیلوژي مجلې ګرانو لوستونکو او مینـه والـو تـه د زړه لـه تلـه سلامونه او نیکـې هیلـې وړاند ېکوم.
نوم مې عبد الخلیل دی او تخلص افغاني کوم د پکتیا ولایـت د سـید کـرم ولسـوالی ظاهر شـاه خیلـو د کلـي او سیدونکی یم او په قوم منګل یم.
پوښتنه: که د اراتـه وویاست چې خپلې لمړنـی زده کړې مو چیرته کړي، او څنګه پوهنتون ته مو لاره وموندله؟
ځواب: ما ټول تعلیم د هجرت په دیار کې په پاکستان کې تر سره کړیدی ابتدایی زده کړې مې تر اتم ټولګي پورې د افغان کمشنری پـه ښـونځۍ کې تـر سـره کړیدي. میټریک مې د ګورنمنټ های سکول نمبر ون هنګو څخه کړیدی، او بیا مې دلسانس سند د ګورنمنټ ډګري کالج هنګو څخه تر لاسه کړیدی. چې وروسته مې د ماسټري سند لپاره په پېښـوور یونیورسټي کې داخله وکړه او پـه ۲۰۰۰ مـیلادي کـال کې مـې د پېښـوور یونیورسـټي د بوټـاني د څـانګې څخـه پـه Botany کـې ماسـټري اخیستې ده.
پوښتنه: علمي رتبه مو کومه یوه ده، او څنګـه مـو ترلاسـه کړه؟
ځواب: علمي رتبه مې پوهنیار ده، هر کله چې یو ماسټر کـدر تـه شـامليږي نـو دیـو کلنـۍ نـامزدګۍ د دوری څخـه وروسته پوهنیـار کیـږی چون مـا هـم ماسـټري کړیـده نـو کـدر تـه د شـمولیت نـه وروسـته زه د پوهنیـار علمـي رتبـه لـرم. پوښـتنه: تـر اوسـه مـو کومـو هیوادونـو تـه رسـمي سفرونه کړیدی او کنه، نو که رسمی سفرونه مو کړی وی نو کومو هیوادونو ته تللی یاست؟
ځواب: چون پاکستان هم یو بهرنی هیواد دی نو هلته مې تقریباً شل کاله وخت تیر کړیدی د هغې څخه علاوه مې په تیر جون ۲۰۱۰ کې د هندوستان هیـواد تـه یـو رسـمي سفر درلود چې پـه دغـه سفر کې د افغانسـتان د مختلفو پوهنتونو څخه ۲۲ استادانو شرکت کړی وو. دغـه سفر چې دیوه ۱۰ ورځنی ورکشاپ په خاطر وو د هندوستان هیـواد د بنګلـور پـه ایالـت کې د طبی بوټو د سـاتنې او پروسیس په برخه کې دایر شوی وو.
پوښتنه: داچې تاسې د کرهڼې ریس یاست نو پـه ګـران هیواد افغانستان کې زراعت څنګه ارزوی؟
ځواب: داچې ګران هیواد افغانستان یو زراعتي هیواد دی او اقلیم یـې پـه مختلفو برخو کـې د مختلف قسم نباتاتو پـه ځـانګړي ډول د میوو، سابو روزنې لپاره ډیر مساعد دی ولی په تاسف باید وو ایم چې په ګران هیواد افغانسـتان کـې تقریبـاً د ۳۰ کالـه نـاورین تیـر شـویدی جنګونو مـو دزراعت سکتور تـه د هر څه نه زیات زیـان اړولی دی. داوبو خور نظام مو هم تباه شویدی کاریزونه، ویـالې او بندونـه ویجاړ شویدی د زراعتـي محصولاتو مارکیـټ تـه دزر لاس رسـي امکانـات نلـرو ځکـه چـې څړکونه مو هم تباه شویدی. سپار ښتنه مې داده چې پـه دغـه هیـواد کـې د هر څـه نـه زیـات بایـد دغـه سکتور تـه پاملرنـه وشـي چـې تقریبـاً ۸۵٪ وګـړي پـه دغـه سکتور بانـدې پـه مسـتقیم او غیـری مسـتقیم ډول بوخـت دي. د دغه سکتور د پرمختیا او پراختیا په خاطر باید لاندې کارونه تر سره شي.

1. په سیندونو باندې باید بندونه(ډیمونه) وتړل شی او دهیواد لویې دښتې باید اوبخور شی. کرنه مو باید میکانیزم شی(د کرنې پـه هـره برخـه کې باید د نوی وسایلو او ماشینونو څخه کار واخیستل شی).
2. داوبو خور نظام باید دسره وارزول شي او یو داسې نظام جوړ کړای شی چې دډیرو کمو اوبو نه په ګټه ډیره ابیاری تر سره شي.
3. دکرنې په برخه کې باید د ظرفیتونو دلوړولو پـه خـاطر ټرینینګونـه، ورکشـاپونه او سـمینارونه دایـر کړل شی.
4. د کرنـې پـه برخه کې بایـد د تحقیـق او ریسـرچ زمینه مساعده او په مالي لحاظ ښه تقویه کړای شي.
5. پـه آخر کې باید داسې وو ایم چې هر وګړی باید په خپله په عملي ډول د کرنې په پراختیا او پرمختیا کې

وېده واخلي، خارجي مرستو ته په تمه نشي، دشته وسایلو څخه په استفادی باید لاس په کار شی.

پوښتنه: محترم ریس صاحب ! داچې زموږ په ګران هیواد افغانستان کی مختلف قومونه شتون لری او په مختلفو ژبو سره خبری کوی، اما په دغه قومونو کی داسی قومونه شتون لری چی یو له بل سره تعصب کوی دغه کار د اسلام له نظره څنګه ارزوی؟

ځواب: تعصب ګناه ده، خدایج فرمایی چی ما تاسی په قومونو او قبیلو کی صرف د تعرف لپاره ویشلی یاست او په یو بل ځای کی فرمایی چی(ان اکرماکم عندالله اتقاکم) د خدایج په نزد هغه څوک دعزت خاوند دی چی تقوا ولری داچی څوک تعصب کوی او د تعصب له مخې دیو چا سره برخورد کوي داهم دګران هیواد ددښمنانو دهغه تخم نتیجه ده چی په افغانستان کې یی کرلی دی او یو قوم یی دبل دښمن کړی دی په داسی کړنو دافغانستان دښمنان خوشالیږی او زموږ ملي یوالی ته زیان رسوي.پوښتنه: محترم ریس صاحب ! داچی دمرکی دپای شیبی دی دپیلوزي مجلې محترمو لوستونکیو او خصوصاً ګرانو هیوادوالو ته څه پیغام ورکول غواړی؟

ځواب: دپیلوزي مجلی لوستونکیو او ټولو هیوادوالو ته می پیغام دادی چی دیوه چتر لاندی چی دغه چتر(افغان دی) خپل ژوند ددوستی او وروروله په فضا کې ترسره کړو او دبل ورور په خوشالۍ ځان خوشاله کړو او دبل ورور په غم او معصیبت ځان ریښتنی غمژن کړو هر څوک باید دخپل وس مطابق دخپل ګران هیواد افغانستان چی هر افغان ته دخپلې مور حیثیت لري په ابادۍ او ترقۍ کی سهم واخلو څرنګه چی په موږ او تاسو ټولو دخپلو ګرانو میندو اطاعت فرض دی همداسې دخپل ګران هیواد سره مینه او خدمت هم په موږ فرض دی.

جګړلته دیو افغانی عسکر یوه کیسه رایاده شوه چی ویلی یی ضروری ګڼم(وایی چی یو ځل قاعد اعظم محمد علی جناح دتورخم بندر ته راغلی وو په سرحدی پوسته کی دژمی په سختو سړو کی یو افغان عسکر په پیره ولاړ وو چی دسړو څخه ریږدیده قاعد اعظم تری پوښتنه وکړه چی څومره معاش درکوی چی په دی سخته یخنۍ کې پیره کوې افغانی غیرتی عسکر ورته وویل چی خپل مور څوک په پیسو نه ساتی. نو په هغه وخت کی قاعد اعظم داسی وویل چی دغه قوم ته ماتې ورکول او پردوی حکمراني کول اسانه کار ندی. دزړه له کومی ستاسو ممنون یم چی ماته مو سره له ډیرو مصروفیتونو خپل قیمتي وخت

پیلوزي مجلې ددرنو لوستونکیو دلازیاتو معلوماتو لپاره راکړ. زه به ستاسو دالورینه هیڅکله هیره نکړم

بیا هم له دې لارې نه ټولو هېواد والو ته د ښه ژوند غوښتونکی یم او د الله له دربار نه ورته خوشالي او څوکالي غواړم.

له وحید اچکزي سره یو څو شیبې

داودجبارخیل



جبارخیل- اچکزی صیب که تر ټولو لومړی زمونږ لوستونکیو ته ځان راوپیژنۍ ؟

- زمـا نـوم وحیـد اچکـزی د بلوچسـتان د چمـن سـیمې اوسیدونکی یم اوفعلاً پـه خبېر پښتونخوا کی ژوند کوم.

جبارخیـل- اچکزی صیب زده کړه مـو څـومره کړې او چېرته مو کړې ده که لږه رڼا پرې واچوئ ؟

اچکزی، لومړنی زده کړې مې دمردان فیظ الحق کـالج کې کړې او اوس دلتـه پـه پوهنتـون کې داقتصاد پـو هنځۍ کې ماسټري کوم تر څو وکولای شم لـه دې لارې هم خپل اولس ته خدمت وکړم.

جبارخیـل، څـومره وخت کیـږي چـې د هنـر میـدان تـه راغلـی یاست او څنګـه مـو دې لارې تـه مخـه څنګـه مجبوره وې که مین وې چې موسیقی سره مو شزق پیدا شو ؟

، اچکزی، زما له ماشوم توبه موسیقی سره شوق ؤخو څه کم دوه کاله کیږی چی دغه میدان ته راغلی یم ګورم چې تر کومه حده به په دې لاره کې پاته شم او بـل څوک چی عاشق نه وی هغه سندرغاړی او شاعر کیدی نشـی زما له وطن سره مینه وه زه دې مینې د موسقۍ ډګر تـه راوستم.

جبارخیل، تر اوسه پوری تاسو څومره سندری ویلی ایا تاسو پخپل هنر باوري هستئ او کنه البم هم لرئ که ..... که لرئ یې نو کوم البومونه مو دي ؟

اچکزی، زمـا دری البمـه بـازار تـه راغلـې اولنـی مـی ارمانانه، دوهم ګل ګلالۍ ، دریم باران

داسې مې ډېرې سندر ویلي دي د ملګرو پـه محفلونو او کنسرټونو کې اوس هم لګیا یم غواړم هغه سندرې ووایـم چـې د ملـت درد پکـې پـروت وي او د هغـوی فریادونه له دې لارې عوامو ته ورسوم.

جبارخیل، کله چې تاسود هنر میدان تـه راووتلئ دغـه وخت درته

دکورنی لخوا درتـه څـه ستونزه نـه وه د هغـوی کړنـه لـه تاسره څنګه وه.

اچکزی ستونزه خو ډیر وه ځکه زما کورنی ټول غـړي او دوستان زما خلاف وو خو بیا هم دغـه زمـا شوق وه چې زه یې تر دې حده راوستم او بل زما ټوله کورنۍ پـه سیاست پورې تړلې وه او ما د سیاست لاره په هنر بدلـه کـړه ولـې چـې همـدې سیاسـتونو مـونږ کـوم حـد تـه ورسولو.

جبارخیل ، تاسو ذکر وکړو چې دری البومه مو بازار ته راغلی په دغو کې مشهورې سندرې سندرې کومې دي.

اچکزی، هو زما مشهورې سندرې ((زما د زړګـی سـره یـی افغانسـتان وطنـه)).او بـل مـی ((افغانسـتان او پاکستان)) باره کې ویلې هغـه هـم ډیـر مشـهوره شوې ،((دبـاران سندره)) د((وزیرسـتان)) او داسې نـورې چې او زما په ذهن کې هم نه شته.

جبارخیـل، پـه سـندرو کـې دکـوم شـاعر شـعرونه انتخابوئ او تاسې خپله هم شعرونه لیکئ او که نه؟

اچکـزی ، زه خـو اکثـر د معصـوم صـیب شـعرونه انتخابوم ځکه هغه یو وطن پرور شاعر دی همداسې د خوشحال بابا ، رحمن بابا ، دنـوو شـاعرانو خـو مهـم پکې د شعر انتخاب وي.

جبارخیل، د موسیقی کمپوزونه په چا جوړوی پخپله او که... ؟

اچکـزی، دموسـیقی کمپورونـه راتـه ایـون شـفیق جوړوي هغه زمونږ یو ډیر ښه ملګری دی لـه مونږ سره په هنري ښه ډېر زیار اوباسي.

جبارخیل، دموسیقی په برخه کی مو استاد څوک دی ؟

اچکزی ، دموسیقی په برخه کی کی استاد نلرم زما استاد زما خپله مینه ده .

جبارخیـــل، کـــولای شـــی چـــې د هغـــو اســـتادانو، کمپوزیتورانو، او موسیقی پوهانو چې ډیر خدمتونه یې د موسیقی پـه ډګر کې سرته رسولي دي، نومونـه واخلی ؟

اچکزی، عبدالله مقری ، استاد شاه ولی ، مرمن قمر ګله ، بخت زمینه ، استاذ اول میر، فرزانه او عبیدالله جـان، او عبـدالله قنـدهاری ، ګلنـار بـېګم ، رفیـق شینواری ، کشور سلطان او داسی نور بېشمره چې څه یې ژوندي او څه یې له دې دنیا ځخه تللي دي.

جبارخیل، په سندرغاړو او شاعرانو کې مو څوک زیات خوښیږي ؟
اچکزی، په شاعرانو کی معصوم او دافغانستان وتلی او نومیالی شاعر مرحوم ملنګ جان، په سندرغاړو کی می فرزانه او عبیدالله جان خزښ دی.
جبارخیل، اوسنی وخت کی د پښتو په موسیقي کی څه پرمختک شوی اوکه نه ؟
اچکزی، هو نن سبا د پښتو موسیقی ډیره مخکی شوی او د پښتو ډرامی او د پښتو فلمونو چی مخکی دی په همدغو پښتنو سندرغاړو باندی کامیابې دي.
جبارخیل، اچکزی صیب خلک وایی چی نن سبا د پښتو ډرامی او د پښتو فلمونو نوی نسل تباه کړی تاسو دا خبره ترکوم حده سمه ګڼئ ؟
اچکزی، هو دغه رښیتا خبره ده د نن سبا پښتو ډرامو او د پښتو فلمونو کې بی حیایي شراب خوري ، چرس څښل لوفري بدمعاشي قتل غلا دا ټول د نوی نسل دتعمیر په ځای دنوی نسل مستقبل تباه کوی دغه ندی پکار باید د نوی نسل د تعمیر او تعلیم لپاره کار وکړای شي دغه ډرامې او ډائلاګونه چې هغوی کاروي او زمونږ نوی نسل یې په حقیقي بڼه استعمالوي چې د لویو ، لویو دښمنیو سبب ګرځي باید داسې یو تګلاره وکارول شي ترڅو ددغه بېحیایي او سرکشي مخه ونیول شي.
جبارخیل، دګران هیواد هنرمندانو ته څه پیغام ورکوی ؟
اچکزی، زه خپلو هنرمندانو ته دا پیغام ورکوم چې دوی دې د وطن او نوی نسل لپاره داسې سندری انتخاب کړی چې خلک تر بنه څه فائده واخلي نه دنن سبا د پښتو ډرامې او د پښتو فلمونو غوندې بدعملۍ هغه سندرې بید غوره شي چې د اولس ګټه پکې منعکس شوې وي.
جبارخیل، په اخره کي ورونو اوخویندو ته څه پیغام لرئ مهرباني وکړ ئ که وې ووایې ګرانو لوستونکي ته ؟
اچکزی، زما پېغام دادي ورونو او خونیدې ته چې تعلیم وکړي او خپل ځان له نورو سره سیال کړی دغه د تعلیم برکت دی چې نن په دنیا کې څومره ابادي ده باید هر څوک ځان نه صمد خان او اچکزی جوړه کړي او د خپل وطن خدمت وکړی خل قوم خپل ولس او خپل عنعنات خوندي وساتي.
وحید اچکزی صیب له تاسو څخه یو جهان مننه چې له مونږ سره مو مرکه وکړه او مونږ مو ته مو وخت راکړو ترڅو د پیلوزي مجلې لوستونکي ستاسو د فن او هنر نه خبر شي کور مو ودان ؟
جبارخیل صیب له تاسو څخه هم مننه چی د پښتنو پو ښتنه کوئ او زما غږ مو د پیلوزي ادبي مجلې له خوا زما مینه والو ته ورساوه کور مو ودان یو جهان مننه.

عبدالوهاب ((سرتېر))

له جرمني څخه

د تږي ګل دالتماس لمن کې پرخه ومه
تالا ترغی شومه دلمر څرک او ځله سره
که وربځې راشي هم وېرېږم چې نا شونی به شي
زما د راز او نیاز خبرې په زوحله سره
چې دې د کاڼو د باران نخښه یواځې زه وم
جوړه مې رانغلله ځکه له ازله سره
لعل په ایرو کې نه پټېږي خپل تعریف مې وکړ
د ارادې په مټ راوځم دې متله سره
دژوندانه راز مې له ګل او له غوټیو زده کړ
چې نا اشنا یم د ګوانښونو د اجله سره
دغره له سره دې ((سرتېر)) د لمر په غېږ کې ګورم
درځم د وړانګو په اوږو له توکله سره

یوه سوالګره او د خلکو تېر وتنه



په تېر پسې اخري برخه

علامه عبدالستار محمدي له عربي ژبې نه ژباړه

وزيراعلان کړی وکه هرچا زماله کورڅخه غلاوکړه زه به دومره دومره انعام ورکړم نوښځې موقع کتله چې سنګه دوزيرله کوره غلاوکړی يوه ورځ وزير سره په ميلمستياولاړې ښځی سوچ اوفکر وکړچه به څه هيله له کوره غلاوکړي بياولاړه دبغداد په ښارکې يې يوه سپی وکته چې نورسپي ورپسې روان ول دی ښځې زرمنډه کړه اوداسپی يې راګيره کړه سپي ترې ټول ولاړل اوسپی يې دوزيرکورته يوړه او دبهرنـه يـې دکلاپه ديوال يې سپی کورته ورغوزاره کړه کله چې سپی سپو وليده ورپسې منډې کړې سپی دکلاديوال نه ټوپ کړل سپيانو هم ورپسې ورټوپ کړل اودکورنه لـرې ولاړل ښځه پـه ارام سـره کورتـه وروا وختـه ټـول قلفونه يې مات کړه اوپه کورکې چې سه قيمتي سامان اوپيسې وې ټولې يې واغستې اوپه ارام سره خپل کورتـه روانـه شـوه.وزيرچې کلـه خپـل کورتـه واپـس شـونوويليدل چـې سـپي هـم پرخپلو ځـايونوولاړدي اودکورټول قلفونه مات شوي دي او له صندقونونه ټول سامان ويستل شوی دی بيايې خلقوکی اعلان وکړ چې هر چازماله کوره غلاکړی هغه دې راشي اوخپل انعام دې ترلاسه کړي ښځې ورته خط وليګه چې دا سزا ستا ده پـه سبب داعـلان کولوستا د دې خبرې چې زمالـه کـوره ځـوک غلانشـي کـولاي وزيرچـې خبرشـوچې داهماغه مکاره ښځه ده د خپل عجزاظهاريې وکړاوپه ټول ښارکې يې اعلان وکړچې يقينًادا ښځه په مونږه غالبـه شـوه مـونږه ددې لـه نيولوڅخـه عاجزشـو.بيـادې ښـځې توبـه اويسـتله اوپخپـل زورکارپښـيمانه شـوه خوبياهم بخيلـه وه دمـال پـه جمـع کولـوکې بـه يې ډير کوشش کـاوه يـوې قـافلې سره بغـداد کې ملګرې شوه هغوی ته يې اشپزی کوله

اوډوډی بـه يې پخولـه خوهغـوی نـه پيژنـد لـه قـافلې بـه ورتـه ماهاءنـه معـاش ورکـاوه يـوه ورځ ترينـه ډوډی پـه تنـورکې وسـوزيدې دقـافلې خلقـوچې ډوډی وليـدې سخت په غصه شول ټولې ډوډی ځوک داسی پخوي تـه څنګـه ښـځه يـې چـې تانـه پـه تنـورکی ډوډی سـوزی يـوکس پکـې پاسـيده ښـځه يـې ووهلـه ښـځې پـه جړاجړاکې دوي ته وئيل بيابه داسې نه کيږی داخل به درتـه ډېرخائسـته طعـام تيـارکړم لـه خپلې تـوبې نـه يې بياعراض وکړاوماتـه يې کـړه يـوه ورځ يې قـافلې تـه طعام تيارکړاودنشې دوايې پکـې واچولـه هغوی چې کله لـه سفر نـه ستړي ستومانه راغلل ښه په خوند يې طعام وخوړاو نورويده شول ښځه نائي(ډم)پسې ولاړه ورته يې ووئيل چې ماسره تکليف لرې دهغوی سرونه اوبريتونه خرول پکار دي چی سبايې شفاخانې ته بيايم چې عـلاج يې وکـړم ډم تـه يې پيسـی ورکـړې دقـافلی دخلقوسرونه اوبريتونه يې وخريل بيا يی دټولو سامان راواخسته اوپه يو غټ قوی اوښ سوره شوه روانه شوه د قافلې خلق چې رابيدار شول خپل حلات يې وکاتـه پـه شرمونوشرمبدلي ول بيـا يـې دښـځې تـالاش وکـه چـې ښـځه سـره لـه سـامانه نشـته دوی تـه پتـه ولګيـده چـې داهماغه ښځه ده چې خلق يې تباهکړی.په اسونوسواره شول په دښته کی ښځې پسې ووتل پـه يـو ځـای کـې يـې راګيرکړه ټول تری راتاوءشول چاوءيل چې بادشاه تـه بيايو چاوئل وزيرته يې بيايو خو دقافلې مشر هوښيار وه سمدستي يې پرې حمله وکړه اومړه يې کړه بيايې ورتـه يـوه کنـده وويسـتله هلتـه يـې خطاکړه بيـاداخلق ولاړل بادشـاه او وزيريـې خبرکـړل بادشـاه ددې ښـځې قاتلينوته انعام هم ورکړاوورته يې ووئيـل چې يو جش جوړکړی زه به ټول هغه خلق راوغواړم چې دې ښځې ورته دهکه ورکړيده يوه ورځ يی ورتـه وټاکلـه اودلاړې دخرچ انتظامات يې ورتـه وکړل صرافان وړوند دوبي اس والا.وزيربادشاه ټول راجمع شول اوخلق يې ننداړې تـه ولازول وړونـد پـه کـې بيـرغ نيـولی وه داسې ګډايې کولـه تابـه وئـل چې هنـديا روس يـې فـتح کـړی بادشاه وزيراونور خلق يې ننداړې تـه ولاړوو خوهغـه اس والا

چې به کله خندل نو غابنونه یې په خله کښې نه ول ټولو خلکو به د هغه ښکلی ته کتل رښتیا ده چې ښځه ترادب لاندې نه وی نو بیا د سړي غابنونه باسی بیا به پدی خوشحالۍ کې ټول روان شول د هغې ښځې قبر به یې په لټو سره وهلو او وړوند به د ګډا اخخه چا قرار کړای وای هر کله چې د دې لورګانې خبرې شوې چې په بې ګناه او معصومی مور یې داسې ظلم شوی نو ټولی راغلی او په قبرو دریدلې په جړا جړا او فریاد کی به ئې وئیل وه زمابی ګناه مورې داکم ظالم پتا داسی ظلم وکړ تا خو چا ته تراوسه یو ویښته برابر ضرر هم نه وه رسولی خو وزیر چې خبر شو عسکر یې ولیږل د ښځی لورګانې یې بندیادې کړې خلقوته یې ووئیل چې دا د هغې ښځې لورګانې دي اوله لیوه څخه لیوه پیدا کیږی پدی یره مې دا بندیانې کړلې چې دوی هم دخپلی مورلاره تعقیب نه کړي خلق پدی ښه خوشحاله شول کله چې د ښځې دا خبره سړه شوه نو بادشاه خپل وزیران او ادیبان را جمع کړل یو محفل یې جوړ کړ بادشاه دې ټولو پوهانو څخه وپوښتل چې زه له تاسو څخه د دوه مسئلو پوښتنه کوم چا چې ځواب راکړ هغه ته وزارت عظمې ورکوم خلقوورته ووئیل چې بیان کړه څه پوښتنې دی بادشاه تری پوښتنه وکړه چې دا اوښ پیدا کړی او په خپل کتاب کی ئی هم ذکر کړیدی وَاِلَی الْاِبِلِ کَیفَ خُلِقَتْ) کچرته الله اوښ ته وزرونه هم ورکړی وی ډیر به ښه وای ځکه مونږ به پری سورید و خپل منزل مقصود ته به مو ځان ډیر زر رساوه او همدارنګه و مونږ بارونه به ئی هم ډیر ژر تر خپل ځایه رسول پس څه حکمت دی چې الله اوښ بې وزرو پیدا کړی دی دویم سوال دادی چې الله خو عادل بادشاه دې هرڅه یې په خپل عدل او انصاف پیدا کړي دکدو او د هندوانې ونه کمزوری ده او میوه درنده ده دچارمفزونه قوی ده خو میوه یې کمزورې ده که چرته د کدو او هندوانه دچارمغزو په ونه کښی وای او چارمفزد کدو او هندوانې په ونه کې واي نو دا به ډیر عدل او انصاف وای پس څه حکمت دی پدي کی چې الله داسی تخلق کړیدی ټولو پوهانو پرې سوچ وکړ خو هیچا هم جواب ورنکړ بیا یې بادشاه ته ووئیل چې مونږ ته یو جمعه مهلت راکړه مونږه به درته جواب درکړو یوه جمعه هم تیره شوه خو هیچا جواب تیار نکړ دا خبره په ټول بازار کښی خوره شوه چې بادشاه داسې سوال کړیدی خو تراوس هیچا جواب ندی ورکړی دا خبره بندیخانې ته هم ورسیده د ښځې لورګانو چې سوالونه واوریدل مشرې ووئیل که بادشاه مونږه د بندیخانې څخه خلاصوې او وزارت عظمې راکوي نوزه یې جواب ورکوم بادشاه چې خبر شو جینۍ یې وغوښته ټول ادیبان او وزیران یې هم راجمع کړل جینۍ ته یې ووئیل راوړه جوابونه جینۍ پاسیده بسم الله یې وویله بیا یې ووئیل الله حکیم ذات دي هیڅ یو کار هم د هغه له حکمت نه خالي نه وي که چیرته الله رب العزت اوښ ته دمرغانو په شان وزرونه ورکړي وای په هوا به الوتل په ونو به کیناستل نو ټولې ونې به یې ماتی کړیوای په کورونو به کیناستل په ورځ کي به ئي په سوئنو کورونه ورانول زمونږه ماشومان به یې په منګلو کښې تښتول خو مونږه سره به وس او طاقت نه وای چې اوښان مو پری منع کړي وای الله حکیم ذات دی هغه یې په ډیری عجزۍ کښې پیدا کړی چې زمونږه یو ماشوم هم یو غټ اوښ سمبالولی شی بادشاه پدی جواب ډیر خوشحال شو بیا ترې د دویم سوال جواب پوښتنه وکړه هغې که چیرته کدو یا هندوانه دچارمْغز یا غور په ونه کښې پیدا شوی وای نو خلق به ونی لاندی تیریدل چې یو کدو یا هندوانه یې په سر غورزیدلی وای نو خلق به ونی لاندی تیریدل چې یو کدو یا هندوانه یې په سر غوزیدلی وای نو بس دمرګ دپاره یې کافی وه باشاه ورته ووئیل چې الله زمونږ ته عقل راکړی مونږ په خپل عقل سره ځان حفاظت کاوه جینۍ ووئیل چې که مونږ سره عقل شته خو لیوانیان او حیوانا تو سره خو نشته هغوی لدی هلاکت څخه ځان نشو ژغورلی بادشاه د دې جینۍ له عقل سخت په تعجب کښې شو او خلقو ته یې وئیل چې لس ورځې وروسته به دا جینۍ د یو اسلامی مملکت غټه وزیره جوړیږي .

((پای))

په شعر کې ادبي اصطلاحات

مشتاق مجروح یوسفزی

1) ادیب : هغه څوک چې د ادب نه برخه مند وي هغه ته ادیب وایي په ادبي اصطلاح نثر لیکونکي او د ادب په اصنافو پوهېدونکي ته ادیب وایي.

2) ادبیات : له ادب سره متعلق سیزونه که نظم وي که نثر هغې ته ادبیات وایي.

3) بیت : یو شعر ته بیت وایي.

4) بیت بازي : د شعرونو مقابلې ته بیت بازي وایي یو کس یو شعر یا بیت وایي چې په کوم حرف ختم شي هغه بل لوری به یې له هغه توري نه شروع کوي چې بیت پرې ختم شوی وي.

5) بیت الغزل : دغزل له ټولو نه ښه شعر ته بیت الغزل وایي.

6) بند : دنظم هره برخه چې یو مکمل وحدت وي هغې ته بند وایي.

7) بیاض: هغه قلمي مسوده چې شاعر پکې خپل کلام جمع کوي هغې ته بیاض وایي.

8) بحر: لغوي معنیٰ یې سمندر یا دریاب ده په ادبي اصطلاح کې بحر دهغې موزونو کلمو نوم دی چې د شعرونو وزن پرې برابروي.

9) پیروډي : دا لفظ د یوناني ژبې د پیروډیا نه اخستل شوی چې معنیٰ یې معکوس نغمه ده دا دچاد شعر ي تخلیق مزاحیه او طنزیه پېښو یا نقل کولو ته ویلی شي.

10) تخلص: لغوي معنیٰ یې د خلاصې موندو او رهایي ده خو په اصطلاح کې هغه خاص نوم چې شاعر یې د خپل ادبي پېژاندو لپاره (شناخت) له پاره په شعرونو کې کاروي هغهې ته تخلص وایي دا د اصلي نوم یوه برخه هم کېدای شي او د قوم نوم هم کېدای شي.

11) تضمین: دا نه شعري هینت دی او نه د ادب صنف بلکې یوه شاعرانه طریقه ده دا دبل شاعر په شعر یا مصره باندې نورو شعرونو لیکلو ته وایي پخواني شاعرانو تضمینونه د مخمس په شکل کې کړي دي د تضمین خائیست هله پیدا کېږي چې په کوم شعر کې تضمین شوی وي د هغې په معنیٰ او مفهوم کې زور پیدا کړي یا د هغې بل اړخ ښکاره کړای شي دا سې کولو سره په هغې شعر د نوي شعر مینه ماتېږي او تضمین یې کامیاب وي.

12) تعقید : که په یو شعر کې د لفظونو ترتیب دومره زیات بدل شوی وي چې ښه نه لګي او په مفهوم یې پوهېدل ګران وي په ادبي اصطلاح کې ورته تعقید وایي.

13) تعلي: شاعر اکثره پخپلو شعرونو کې د خپل هنر ، فنکارۍ ،او زیاتې پوهې دعویٰ کوي چې زیاتره یې په مقطع کې ویلی شي لکه د رحمن بابا دا بیت. خوشحالا او دولتا مې غلامان دي زه رحمن په پښتو ژبه عالمګیر یم

14) خمریات: خمر په عربي کې شرابو ته وایي چې په کومو شعرونو کې د شرابو ذکر شوی وي هغې ته خمریات وایي.

15) طرح: هغه مصره چې شاعران یې مقرر کړي دهغې په بحر او وزن نور شعرونه ولیکي طرحه بلل کېږي.

16) دیوان: دشاعر د کلام مجموعې ته چې ردیف وار لیکلی وي دیوان ورته ویل کېږي.

17) په شعرونو کې د چا د مېړانې عظمت او همت اظهار کولو ته رجز وایي.

18) ردیف: په ادبي اصطلاح کې هغه مستقلې کلمې ته ردیف وایي چې په شعر کې قافعې نه وروسته راځي په هر نظم او غزل کې ردیف لازمي نه دی بلکې د شعر لپاره قافیعه ضروري ده که په شعر یا غزل یا بل شعري تخلیق کې ردیف موجود وي هغې ته مردف او که ردیف پکې نه وي غېر متردف ورته وایي

زما ټول پام پښتو ته دی

له (کرن خان) سره مرکه

(ای-ایم) لحاظ احمد

پیلوزی: ستاسو له نوم سره ډېر وګړي اشنا دي که تاسو پخپله د پیلوزي مجلې ګرانو لوستونکیو ته ځان ور وپېژنئ ښه به وي؟

کرن خان: ډېره مننه لحاظ احمد له تاسو او ستاسو د مجلې له ملګرو او همکارانو څخه زما پوره نوم ((کرن خان)) د سوات سیمې سره تعلق لرم هلته پیدا شوی یم هملته لوی شوی یم ابتدایي تعلیم مې پخپل کلي کې کړی او بیا د ملاکنډ یو نیورستي نه ما ((بي، ای)) کړې او دا محال د پېښور یونیورستي نه د پښتو ((ایم، ای)) اول کال ازموئینه وشوه او د دویم کال ازموئینه لا پاتې ده.

پیلوزی: ماشومتوب دې څنګه تېر شوی که لږه رڼا په دې اړه واچوې مهرباني به مو وي؟

کرن خان: د ماشومتوب به در ته دومره ووایم چې یو نظم ما وئیلی دی-زه چې وړوکی اوم نو هغه ټوله کیسه ما په هغې کې کړې ده خو د ماشومتوب د ماشومتوب نه د ښونځي (سکول) وختونه او د هغه وخت ملګري له چانه نه هېرېږي شرارتونه هم د ماشومتوب په برخه کې وي ما هم شرارتونه کړي خو له خپلو همزولو سره مشران مې نه دي تنګ کړي خو د خنده او د ټوقو ټقالو لپاره مې د (نیکه) په حجره کې ناسته کوله ملګري به مو یرول لوبې به مو کولې نو بس دغه د ماشومتوب شپې وې خو هغه ټول د خوب لیده وو.

پیلوزی: موسیقۍ ته مو څنګه پام شو؟

کرن خان: لحاظ د موسقي باره کې ډېر خلک داسې وایي چې.دا خدایي ورکړه ده دا خبره ټیک ده خو بیا چې کله په دې پسې شي نو دا یو ډېر لوی علم دی ډېره پوهه غواړي د هغې لپاره ((ریسل، ریاضت)) ضروري ده نو زما له ماشومتوبه موسقي سره مینه وه په سکول کې به مې ملي نغمې ،ترانې وئیلې او نعت خوانی به مو هم کوله تقریرونه به ما نه شو کولی بیا د شپږم نه تر لسم جماعت پورې ما به ترانې وئیلې خپل ښونځي له ما ډېر، ډېر انعامونه او مقابلې هم ګټلي دي له هغې نه وروسته بیا راډیو پاکستان پېښور ته لاړم او هلته مې هم یوه مقابله کې ګډون وکړ بیا زما په ژوند کې داسې یو (موړ) راغلو چې ما کله لسم جماعت پاس کړ نو زه لاړم (کراچۍ) ته نو بیا لازمي خبره ده پردی ښار وي پردی علاقه وي نو هلته بیا کار او روزګار ضرورت وي سړي ته نو هلته مې بیا په یو ځای کې کار کولو - په دې مې عقیده ده چې محنت دچا دی نه - محنت پکار دی هلته زه یو مزدور اوم چې پنځه کاله تېر شول نو زه بیا د هغه پوره ډیپارټمنټ انچارچ جوړ شوی اوم .خو هغې سره سره به ما هلته موسیقي هم زده کوله هلته یوه د موسیقي اداره وه او زما په خیال چې ټول پاکستان کې همدغه یوه اکیډمۍ ده او هغه هم زما د راتلو نه وروستو ختمه شوه نو یو شپږ اته کاله هغه چلیده د ((دسم ګم ګائیډ موزیک اکیډمۍ)) په نوم یادېده چې د هغې روح روان زما استاد دی (ای، ار) انور استاد وو ما له هغه سره شاګردي کړې هم کوله او په هغه وخت کې د هغه په شاګردانو کې سر فراز هم وو زر ولي افغان هم وو چې په یو حساب زما ورونه هم دي په دې خاطر چې د یو استاد شاګردان وو د اردو څه کسان هم وه طفیل.سر نجراني مسلم شېخ پکې یو هلک وو او داسې د استاد په ملګرو کې علي محمد تاجي صاحب ماسټر ایاز علي صیب وه نو له دوی سره به یې ناسته پاسته کوله په وړوکوالي باندې وړوکوالی ځکه

وایم چې د لس کاله مخکې خبره ده اوس زما عمر تقریباً د پرش کاله دی لس کاله مخې زما عمر شل کاله وو بس په هغه وخت کې مې د موسیقۍ شروع وکړه موسیقي خو ډېر ګران سیز دی خو د استاد په هغه ادابو باندې به چلېدو او د هغه په خبر به ځان پوهه ووا و کښښ به کوو چې ښه ، ښه ځیزونه ووایو.

پیلوزی: عام طور سره د پښتنو په حجرو کې د موسیقۍ ټنګ ټکور محفلونه کېږي او عام خلک پکې برخه اخلي نو تاسو داسې محفلونو ته په ابتدا کې تللي یا برخه اخسته او کنه د یو سندر غاړي په حیث ؟

کرن خان : عجیبه خبره دا ده چې زه یو واحد داسې سندر غاړی شاید چې یم به چې کله په زما داسې هلو ځلو ته زړه وشو نو ما به پخپله یو انتظام ځانته کوو ځانته به مې د کلي عوامي سندر غاړي راغوښتل او هغوی ته به ما خپله معاویضه وغېره ورکوله چا به چې ووېئل فلانکی طبله والا ښهٔ طبله غږوي او پنځه سوه روپۍ د شپې راځي نو ما به کوښښ کولو چې هغه ته پنځلس سوه ورکړم خو چې هغه راشي همداسې به مې کوښښ کاوه چې ښه ربابي راوغواړم ولې چې زما له ارمونیم سره شوق نه وو نو بس ملګري به راټول شول ګپ به موهم لګوه او موسیقۍ به موهم کوله – نو همداسې ژوند روان وو

خو بیا ما ابتدا د کراچۍ له استېج نه وکړه هلته یو ډیر غټ ستېج چې ((فلیډ کلب)) کلب ورته وایي په هغې کې ما په ړومبي ځل سندره ووئیله او په اولنۍ شو کې زما په خیال چې خیال محمد صیب – شبنم داسې نور ښهٔ ، ښهٔ سندر غاړي راغلي وو له پېښوره نو ماته هم وخت پیدا شو چې ما سندره ووئیله چې اورېدونکو راسره ډېره مینه وښوده چې بیا ورو ، ورو زما اواز خورېدو چې کله زه سوات ته راغلم په کال دوه زره څلور کې هلته یو بل استادوو چې ((شېرجان)) نومېده الله دې ورته ډېر عمر ورکړي د هغه هم یوه اکېډمۍ وه چا به ارمونیم زده کوه چا طبله او چا به داواز شوق کولو هغې کې مې هم ورسره درې څلور کاله تېر کړل تقریباً پنځه کاله مې له انوار استادانو سره زده کړه وکړه او درې کاله له شېر جان سره.

پیلوزی: دکور له طرفه در باندې څه پابندي وه.



کرن خان: لحاظ د کور له طرفه به دومره ووایم چې زما پلار الله دې ورته ډېر عمر ورکړي دټولو خلکو له پلارانو سره هغه داسې محدود غوندې ژوند کوي په کلي کې هغه ته چې دا پته ولږېده چې زما د زوی دومره سندرې راغلي دي او مشهورې شوي دي زه کله ، کله ملګرو ته خاندم چې که زما پلار پېښور ته راغلو او په دیوالونو یې دا انځورونه ولیدل نو شاید چې ډېره غوصه به وکړي خو هغه نه راځي که راشي هم نو هغه لور ته نه ځي په کوم لور چې زه ژوند کوم او خلک ما پېژني البته په راډیو هغه ما اوري چې زه پروګرامونه کوم یا د شعر او ادب سره تعلق ساتم یا ځینې وخت کې د راپورټر په حیث کار کوم نو په دې بد نه ګڼي ځکه چې ډېر وړوکی اوم د لایق زاده یو کتاب راغلی وو زه به د پنځلس کلو اوم په هغه وخت کې د هغه کتاب د مخکتنې یوه دستوره وه زمونږ په علاقه سوات برې کوټ کې نو فضل نعیم نعیم زما د شعرد اصلاح استاد دی ما په هغې کې یو غزل ویلی وو هغه وخت کې زه له ټولو نه وړوکی شاعر وم ځان ته خو شاعر نه وایم د هغه مشرانو د خولې خبره کوم چې له ټولونه وړوکې پکې زه اوم ماته لایق زاده

صاحب خپل کتاب هم راکړ او په
شاي يې ورته ليکل هم وکړنو په
هغې زما پلار ډېر خوشاله شوی
وو ځکه لايق صيب خو دريدېو
ښکاره نوم وو نو د شعر او شاعري
په حواله خو څه نه وايي خو شايد
چې د موسيقۍ په حواله را ته
غوصه وکړي.

پيلوزی: داسې کومه سندره ده
چې ستاسو د پېژندګلو باعث
جوړه شوه ؟

کرن خان: په اول کې يوه داسې
سندره ما وئيلې ده چې ((په
کشمالو دې ګلۍ پريوځه)) له
مانه مخکې هارون پاچا هم
وئيلې وه هغې ته مونږ ويدېو هم
جوړه کړې وه خو هغه دومره
مشهوره نه شوه بيا چې کله ما
البم شروع کړنو د سوات حالات
هم ډېر خراب وونو په کال دوه زره
اوم کې مې ورباندې کار شروع
کړ (يمې)او (اصف) زما ښه
ملګري دي د هغو په مرسته بيا
اسرار اتل زما ورور هم دی او
استاد هم د هغه يوه سندره وه چې
.

لاس د مينې را که رانه ټوله دنيا
هېره کړه
دا د بارانه شپه ګلې نن مونږ کره
تېره کړه

دا چې ما ريکارډ کړه نو ((يمې
)) ما ته وويل چې دا سندره زما
نه ده خوښه زما نورې سندرې يې
په نورو ملګرو وکړې او دا يې
پخپله جوړه کړه يا به خوند ورکې
يا نه بيا يې هم وئيل چې زما نه ده
خوښه بيا د شمشاد چينل د اختر شو وه په هغې کې ما وويله د خلکو ډېره خوښه شوه زه دا هم وايم چې سندرې ويل ډېر ګران کار دی خو رسول هم غواړي زما خلکو ته په رسولو کې د هغه ادارو چې زه ورسره کار کوم خصوصاً ((ايف – ايم)) او ((شمشاد)) داسې داخبار ملګري دي نو د دې ټولو په مينه او مرسته دومره شي چې تر اولسه پورې زمونږ غږ ورسې ځکه چې ثوک راډيو اوري ثوک اخبار او ثوک د تلويزون له لارې دا ټولې منبې د رسولو دي په هر دور کې رسول پکار دي.

پيلوزی: د شعر کوم ، کوم اصناف تاسو وئيلي دي ؟

کرن خان: لحاظ صيب د پښتو ادب که وګورو نو څنګه چې محققين خبره کوي چې د شاعري اغازد نظم يا ازاد نظم نه شوې بيا اولسي صنف ته چې لاړ شو نظم يو ځانله صنف دی او سردار علي ټکر ثيب خو بيا ډېر نظمونه وئيلي دي په اولسي صنف کې ((ټپه)) داسې يو صنف دی چې زما د کليو ، غرونو ،سيندونو خبرې دي ډېرې خوږې خبرې دي په وړوکي بهر کې ډېر لوی مقصد لري که زه اوس په ټپو باندې شروع وکړم شايد چې ډېر وخت رانه واخلي بيا د غه شان څهار بيته زموږ د پښتنو يو زوړ صنف دی همداسې رباعي ، غزل ، نيمکۍ ، ټپې ، سروکي...... او داسې نور ويلي دي که موجوده دور ته وګورو چهار بيتو ته زموږ سندر غاړو شاه کړې ده ما په دريم والبم کې د (سيال صيب) يوه چار بيته په دې خاطر وئيلې ده چې د غه صنفونه زموږ له ادبه له منځه لاړ نه شي – د ټپې له لوی والي نه هيڅوک انکار نه شي کولای زه ترې هم نه شم خو ما خپل يو کوښښ کړی چې ((ټپه يزې)) يو صنف ما معرفي کړ او په هغې کې موږ دا کوښښ کړی وه چې ټپې ته موثر تقويت ورکړو مجروحه يې نکړونو هغه خلکو دومره خوښه کړه چې هغه يو ولسي صنف جوړ شو او اوس ډېر شاعران لګيا دي ټپه يزې ليکي او زه پرې خوشاله يم چې دا عزاز ما ته په نصيب شو او اوس نورو سندر غاړو هم وويلې زما په ټولو والبومونو کې شته او خلک يې ډېر خوښوي. اوس په پنځم والبم کې ما يو بل صنف ((ټکور يزه)) هم متارف کړه په دې هم ما دوه مياشتې کار وکړو او انشاءالله زه باوري يم چې دا به هم خلک ډېر خوښ کړي خو يوه خبره کومه چې په يوه ثيز کې پيغام يا مسج وي يو شمېر پښتانه داسې شته چې هغې ته به غوږ ، غوږ وي د هغې په مقصد به ځانونه پوهه وي - ما يو ملګري ته د (اباسين يوسفزي) شعر وويل هغه داسې وو

که د عظمت تکل کوې نو پاسه شپې رڼې کړه
د شوګيرو په بيه ډېر د کار شايونو کېږي

او تاسو يقين وکړئ هغه درې ميشتې پس ما ته راغی ((ظفر علي)) نامه يې ده د مينګورې دی وئيل کرن هغه شعر نه پس ما ((تحجد لمونځ)) شروع کړ نو که په يوه شعر کې پيغام وي نو خامخا په سړي اثر کوي يوه خبره ده چې ما

تـل د ښـه شـعر انتخـاب پخپـل لېول کړی دی کیدی شي له ماسره ځوک په دې اړه اتفاق ونه لري خو زه يې لرمه.

پيلوزی: تر اوسه پورې تاسو څو البومونه کړي دی ؟

کرن خان: تر او سه مې څلو البمـه کړي اول (مازيگر) دويم (غاټول) دريم (مينه) څلورم (پاڼې) يوه خبره کومه لکه هارون پاچا چې ((اول بـه کلـه ،کلـه غـم وو)) وئيلـي دي هغـې نـه ورستو هغـه نور هم ډير ښه کار کړی دی که زه اوس ډېر زيات کار وکړم خلک وايي چې ((دا دبارانـه شپه گلې نـن مـونږ کـره تېـره کـړه)) ډېـره خوښـوي اوس پـه دې پـنځم الـبم کې د تېر و دوه میاشتو نه ما کار روان کړی په دې کې د افغانستان د سيمې شـاعران هـم شـته پير محمد کاروان اجمل اند اسرار اتـل حبيب الله بېتـاب د اباسين صيب دمور باره کې نظم ما په اول ځل شامل کړی امين تنها محمد گل منصوردی - دې کې مې ډېر وښښ کړی باوري يم چې خلک به يې ډېر خوښ کړي.

پيلوزی: د فلم لپاره مو سندره وئيلې ده ؟

کرن خان: دفلم لپاره ماسندره نه ده ويلـې البتـه مـا چـې کـومې سندرې وئيلې هغـه خلکو پـه فلم کې اچولې دي ما يوه سندره پـه دويم البم کې وئيلې وه چې ((نه دې انکار وکړو نه دې اقرار وکړو)) هغه زما دفلم ملگري لياقت ديوې جلۍ په اواز په فلم کې واچوله البته سندره زما وه.

پيلوزی: له پښتو نه علاوه دې په نورو ژبو کې سندرې وئيلي څه خيال دې شته که نه دې لور ته ؟

کرن خان: اردو زمـوږ قـامي ژبـه ده پارسي هم ښـه ژبـه ده چونکـه زه خپـل کمپوزېشن اکثره پخپله کوم که داسې ښه کمپوزېشـن مې پـه بله ژبـه کې وکړای شو شايد هغه کې هم سندره ووايم خو زما ټول پام پښتو ته ده.

پيلوزی: يوه گرانه پوښتنه ده چې خپلو سندرو کې مو کومه سندره ډېره خوښه ده ؟

کرن خان: ډېر گران تپوس دې وکړ زما ډېرې سندرې دي خو د هرې سندر ځان تـه موډ وي دغسـې د موزيـک راگ دی چې خپـل ، خپـل وخت لـري بعضې وخت کې په يوه چا يوه سندره ښه لږي بل وخت کې بله سندره دې وخت کې را ته انتخاب په دې گران دی چې ما په بېل ، بېل وخت کې کمپوزېشن کړی په هغه وخت کې په ما ښې لگېدې نو اوس څه نه شم وئيلی.

پيلوزی: غبرگه سندره مو له چاسره وئيلې ده ؟

کرن خان: داسې مې لا چېرته نه دي کړي او په راتلونکي کې هم داسې اراده نه لرم ډير داسې سندر غاړي راغلي خو ما ورتـه انکار کړی حتی زنانـه سندر غاړو هم دا هيله کړې ما نه ده منلې او دا مې ورته ويلي که کله غبرگه سندره وئيله نو بيا له تاسو سره يې وايم ډېرې پيسـې هم راتـه وښودل شوې چې دا شريکه سندره ووايه نو ما چېرته هم د پيسو لپاره سندر ې نه دي وئيلي.

پيلوزی: دغبرگو سندرو څه وجه ده چې نه يې وايي ؟

کرن خان: وجه دا ده چې يو يې زما کـورنۍ نـه خوښـوي بـل زمـا حلقه اصباب داسې دی چې چې هغه د ادب سره مينه لري له دوی سره مينه نه لري چې زه دې له نورو هلکانو يا ښځو سره سندرې ووايمپه اړه زما په دې کار کې زما د ادب ملگري او مشران او د کور دخلکو هم نه ده خوښه چې له نورو سره دې سندرې ووايم.

پيلوزی: کومو ، کومو علاقو ته محفلونو ته تللي ياستئ ؟

کرن خان: محفلونه خو زه ډېر کم کوم او هغه چاله يې کوم چې ملگري مې دي داسې کسان زه په دې پوهېږم چې دوی زما پـه شعر پـوهېږي هغـه کـه د هغـوی واده وي يا کوژده او يا مجلسي غونډه وي داسې ملگرو لـه اکثر تللـی يـم بـل پـه پاکسـتان کـې يـو بلوچسـتان تـه نـه يـم تللـی نـورو ټولـو سـيموته تلـی يـم همداسـې بهرنـي هېـوادوه مليشـيا ،افغانسـتان ، دوبـۍ بينکـاک او اوس کېدای شي چې قطر ته هم لاړ شي.

پيلوزی: کومه علاقه دې ډېره خوښه ده ؟

کرن خان: ټولې علاقې مې خوښې دي په کوم ځای کې چې کمونږ مينه وال وي خصوصاً دافغانسات علاقه او خلک له ماسره دېره مينه کوي زيات مې خوښ

دي ځکه د هغوی له شعر او ادب او موسيقۍ سره ډېره مينه لري سوات مې خوښ دی او مليشيا مې هم ډېره خوښه ده.
پيلوزی: تر او سه دې د کوم شاعر کلام زيات وئيلی دی ؟
کرن خان: ما د اسرار اتل کلامونه زيات وئيلي دي هغه په دې معنی چې زه او دی ډېر زيات يو ځای پاتې شوي يو بل په کلام کې يې يو پيغام پروت وي ټول شاعران ښه دي او ما چې کوم شاعران لوستي هغه مې ټول خوښ دي چې د پښتو ادب لپاره کار کوي.
د ځان نه علاوه دې د کوم سندر غاړي سندرې خوښې دي ؟
کرن خان: ځان خو هډو خوښ نه دی له ځانه ځوک نه شي متاثره کې دی او نور سندرغاړي هم د وخت، وخت خبره ده خو کله خيال محمد ،شاولي، سردار علي ټکر نو زيات چې د چا په حصار کې يم هغه هارون پاچا دی ځکه استاد مې هم دی اوس په امريکه کې دی خو په ګهنټو، ګهنټو مې له هغه سره اوس هم خبرې کېږي نو هارون پاچا او جتجيت سنګهـ مې ډېر خوښ دي.
پيلوزی: پخپله د موسيقۍ کومه اله غږولئ شي ؟
کرن خان: په ارمونيم دومره پوهېږم چې ځان ته پرې طرز جوړ کړم دا سې په محفلونو کې له ملګرو سره پرې برخه اخلم خوشمې هم دی څه نا څه پرې پوهېږم.
پيلوزی: د اواز د ښکلا له پاره د څه خبرې خيال ضروري دی ؟
کرن خان: ما چېرته هم دا خيال نه دی ساتلی څوک غوړ نه خوري څوک يخ نه څښي خو ما چېرته هم دا پرهېز نه دی کړی اواز هغه شان پکار دی چې ته يې غواړې چې زړه صفا وي بس اواز هم صفا دی.
پيلوزی: د موسيقۍ نه علاوه څه بله مشغوله ؟
کرن خان: ميډيا ده له درې ادارو سره کار کوم او تعليم کوم.
پيلوزی: په نوې کمپوټري موسيقي کې سندرغاړي څومره محنت کوي او څومره پکار دی.؟
کرن خان: نه محنت خو بل څيز دی که مونږ په محنت خبره کوو له دې نه بغېر هېڅ نه کېږي بل کمپيوټر خود چا ذمه وار نه دی تا له به يوه ګانه کمپيوټر سمه کړي که خلک دې خپل محفل ته بوځي هلته به ته څه کوې هلته خو به تا سره کمپيټر نه وي نو محنت لازمي دی کوم سړی چې په کمپيټر مکمل عتماد لري چې هر کار به مې کمپيټر کوي زه له هغو سره بيخي ملګری نه يم خواري او محنت خپل څيز دی د کمپيټر دا کمال دی چې ګانه به دې خائيسته کوي - په هندوستان کې غټ ،غټ سندر غاړي هغوی ايفيکټ ((لايف)) استمالولی شي د دې لپاره چې په خلکو ښۀ ولګي دا سې خوش اواز هم خوند نه کوي نو کمپيټر ښه دی له محنت نه ښه نه دی چې ستا هنر پکې ونښودل شي په ښکاره توګه.
پيلوزی: تاسو چې کوم کلام غوره کوئ د هغې خوښونه څوک کوي بل په موجوده دور کې چې کومه بازاري شاعري کېږي د کستو لپاره په هغې کې د ((مسيجونو ، ايزولوډ ، مبائل ، مسټ کال......)) خبرې کېږي نو تاسو ورته په کوم نظر ګورئ.
کرن خان: زه يې پخپله نه وايم او د خلکو ذمه واري هم نه شم کولای که اوس يو سړی وايي چې زما دا سيزونه خوښ دي زه به له چا ،چا سره شخړه کوم نو چې په چا ښه لږي د هغوی لپاره به ښه وي خو زما لپاره ښه نه او نه يې اورم خو دا سې شاعري نه ده پکار چې هغه دې پيغام ونه لري بس ټولنه ده شوقونه مختلف دی - بل تاسو د شاعري د انتخاب خبره وکړه د شعر خوښه ونه زه پخپله کوم نو په دې اړه له اسرار اتل او حبيب بېتاب صيب نه پوښتنه کوم نو دغه ملګرو نه پکې مشوره اخلم.
پيلوزی: اخېره کې يو څو ذاتي پوښتنې کوم - چې د خوښې رنګ او خوراک مو څه ده ؟
کرن خان: دا سې څه مخصوص رنګ نه شته - خو موقعې له مناسبت سره راباندې رنګونه ښه لګي او په خوراک کې ((وريژې)) زما ډېرې زياتې خوښې دي .
پيلوزی: د مينې په اړه څه فکر کوئ ؟

کرن خان: بلکل مينه لازمي ده چې هر سړی يې وکوي لازمي ده چې سړي نه پيا پاتې هم شي دا په سړي کې ډېر انسانيت هم راولي داسې ډېرو ملګرو ته مينه مخته شوې ده بيا په ژوند کې مختـه نـه دي تللي –او چا تـه مينـه نـه ده ميلـو شـوې هغه يو ځای ته رسېدلی دی د هغـه درد ، احساس هغـه ژونـدی ساتلی دی لکه دا شعر

پی جا ايا کې تلخي کو هي هنس کر
ناصر
غم کې سهنې مې بهي قـدرت نې
مزه رکها هی

نو د دې خپله يوه مزه وي پکار ده چې هـر سـړي سره دومـره درد وي چې هغــه دې پــرې د بــل چــا درد محسوس کړي.

پيلوزی: کرن خانه زه دې مخکې نه ځـم خـو مينـه دې هـم نيمګـړې نـه پاتې کېږي ((په خنده)) نو واده دې کړی بچي دې څو دي.

کرن خان: واده مې کړی د مور او پلار په خوښه په دوه زره څلورم کې او ډېر پرې خوشاله يم دوه بچي مې دي ((ارمان او اتل جان))

پيلوزی: کـه ماشومان دې شعر او ادب تـه راشي او موسشقۍ تـه راشي نو ....؟

کرن خان: که نه راځي هم پرې کوښښ کوم چې راشي.

پيلوزی: څه ارمان يا څه خواهش... ؟کرن خان: زه وايم چې دومره وای چې پـه وطن کې امن وای خوشالي او سوکالي وای.

پيلوزی: په اخېره کې که د پيلوزي مجلې لوستونکيو ته څه پيغام لرئ ؟

کرن خان: ټولو لوستونکي ته دا پيغام ورکوم دکتاب سره مينه ليک لوست سره مينه په ټولنه کې بې وسه خلکو ته په ښه سترګه کتل هغوی تـه يو شان نظر لکه د عندليب صيب دا شعر چې وايي.

غټانو دې ميو پوستکې مه ولې مو څو ته
ژاړه د خواري کښو ما ستومان چېر ته اونه کړئ

د غريبانو او يتيمانو فکر وکړئ کـه دغه شان مونږ دغه ذمه واري خپله وګڼو او د بچيو د مستقبل خيال وساتو کـه د خپلو بچو مستقبل جوړ کړو نو هغوی سبا د نورو بچيو مستقبل جوړوي دا هر څه د الله پاک د رضا لپاره پکار دي.

پيلوزی : له تاسو نه مننه چې وخت مو را کړ

کرن خان: له تاسو نه هم ډېره مننه چې ياد مو کړم او زما غږ مو تر لوستونکيو او مينــه والــو ورســا وه بيــا هــم مننــه خوشــاله اوســئ کــور مــو ودان.

د سمسور لغمان دودېزه مشاعره ترسره شوه ۱۳۹۰ لمريز کال دوري دريمه

په لغمان ولايت کې د سمسور لغمان په نوم دوديوه پسرلنۍ مشاعره تر سره شوه دغه مشاعره دځوانانو ديوالي ټولنې او داطلاعاتو او فرهنګ په نوښت تر سره شوه پرانسته وينا داطلاعتواوفرهنګ رئيس فيضان الله پټان وکړه ورپسې دلغمان والي محمد اقبال عزيزي ګډونوالو ته وينا وکړه او له شاعرانو نه يې په شعرونو کې د سولې د پيغام غوښتنه وکړه په دغه مشاعره کې د نورو ولاياتو څخه هم شاعرانو برخه اخستې وه يو شمير سپين ږيرو قومي مشرانو ځوانانو او فرهنګيانو هم پکې برخه درلوده چې د سهار لـه نهـو نـه د غرمې تر يـوې بجې پـورې يې دوام وکړ.

ګـلـــــــــبڼ

نظير الحق قريشي

دی څـو مره طـالع منـد دمـرګ لـه تـاره خطاشـوی
ظــالم مــې نــن دتــورې لــه ګــذاره خطاشــوی
کشـمېر يـې سـتا د ښـکلي مـخ لـه يـو مخـې نيـولی
لښـــکردتورو زلفــو دې پـــرې يـــاره خطاشـــوی
نــن بيـا دې پـه جبـين د لکـۍ داره سـتوري خـال دی
اشـناوايه چـې دا لــه کــوم مــداره خطـا شــوی
لــړ ودربـړه ای ښـکليه دا غمـی دې ببرتـه واخلـه
پــرون دې پــه دې لاره کــې لــه هــاره خطاشــوی

چې یو ځل دې څوک ونښلي د زلفو په سوست دام
نو وایه ! بیا ترې څوک ژوندی له داره خطا شوی
جانانه ستا د مینې د صراط نازکه لاره
نظیر په اوږدو کې ترې څو واره خطا شوی

****

درویش درانی

دلته لاخلک خوښوي د وینې رنګ دروښه
ښایي و پای ته ژرونه رسي دا جنګ دروښه
د دې پردې دیوال سایې دا سې پردې کړو چې اوس
نه د پلار سیوری یادوو نه دورور څنګ دروښه
زموږ پام توري ته ؤ توره مو صفا ساتله
دزړونو اوسپنه مو لاندې کړله زنګ دروښه
نورو که لارې ډکولې په اغزیو بادې
تاهم د چا مخته ونه پاشل لونګ دروښه
دوی چې له خپلو ماشومانو سره لوبې کوي
شي زموږ هر یوه یتیم ته زړه ورتنګ دروښه

میارسول حمید یار

ستا په مینه کې ناورین راباندې راغی
پکې غرق شوم اباسین راباندې راغی
د سهار دهنګاموبلبله خه شوې
ورځ شوه تېره ماسپښین راباندې راغی

اباسین یوسفزئ

یو د محبت بل د پښتو په منځ کې وسوم
دا سې چې د لمر او دلمبو په منځ کې وسوم
ای د قامولۍ او د پښتو علمبردارو !
زه په نوم د امن دګولو په منځ کې وسوم
زه دقام د ذهن قدرتي صلاحیت یم
څه په بې دردۍ د پښتنو په منځ کې وسوم
نه مې زړه رڼا شو نه مې ذهن منور شو
زه د جوماتونو او حجرو په منځ کې وسوم
ګونګ شومه په ژبه په شته خوله کې بې اظهاره
عمر له د خپلو ولولو په منځ کې وسوم
نور قامونګوره چې په کوم ډګر ولاړ دي
زه له بد بختۍ د تربګنو په منځ کې وسوم

****

پیرمحمد کاروان

بختور تر بختورومه څو ورځې
کلیوال د پیغمبر ومه څو ورځې
زما زړه یو بې ازغیه سور ګلاب ؤ
زه نه زخم نه خنجرومه څو ورځې
له کوثر او له زمزم سره پخلا وم
بس له تندې مرورومه څو ورځې
په اذان د مدینې مې زړه روښان ؤ
زه له ستورو نه هم بر ومه څو ورځې
د دنیا له پاچا هانو بې پروا وم
یو فقیر یو قلندر ومه څو ورځې
دخپل ژوند په وچه للمه کې روان وم
په څپو وم سمندر ومه څو ورځې
ما دښمن په غشو نه په ګلاب ویشتو
د خوږې مینې سنګر ومه څو ورځې
له تیارو نه په (کاروان) کې وم راوتی
لاروی د ښکلي لمر ومه څو ورځې

منتظر افریدی

زلفې دې وربځ په مخ نقاب دی که نه دی
پټ د خوارلسم پکې مهتاب دی که نه دی
ووایه واعظه خو رښتیا ، رتښیا به وا یې
ښکلی مخ زما دیار کتاب دی که نه دی
زړونه د مئینو قتلوي په ستر ګو مړاوو
هر بانه یې ځان ، ځان ته قصاب دی که نه دی
یوه مې په دې راز کړه چې خفه نه شي ملا
ښکلو ته کتنه کې ثواب دی که نه دی
اوس څنګه توبه کړمه له ښکلو نه ساقي
یو خو پسرلی او بل شباب دی که نه دی
را شه که مې وینې مئین زړه مې نا قرار
ستا په جدا یي کې چې بېتاب دی که نه دی
مخ ترې د حیا نه ګل په پانو پټوه
حسن د محبوب مې لا جواب دی که نه دی
پاتې یو ارمان د (منتظر) په زړګي دا
ستا په غلامانو کې حساب دی که نه دی

عمر (بورازماني) ډنمارک

کله په خوب کله په خیال کې راشې
کاشکې په وینښه په وصال کې راشې
زه دې تل لارې د دیدن څارمه
ښه به وي یاره که په حال کې راشې
ستا د کتو په طمع ، طمع چې مرم
کاش یو ځل بیا هاغه جمال کې راشې
که اوس رانه غلې هیڅ پروا نه لري
لکه سپرلی خو به په کال کې راشې
ښکالو دې اورم غرځني لېونۍ
چې سترې ، سترې په غزال کې راشې
دا ستا ځلا به دا تیارې رڼا کړي
که د خپل حسن په کمال کې راشې
ستا اثري ستر گو ته نه شم کتی
شم مستا نه چې په جلال کې راشې
((بورا)) به ستا مینه غزل ، غزل کړي
بیا به د زړه د رباب تال کې راشې

مفتون غرق وپرق

شان شوکت کې د چنار په شانته دنګ یم
خوي خصلت کې د ګلاب د ګل په رنګ یم
شرنګ د تورو زولنو پر ما مئین دی
زه مستي لرم د سپینو تورو شرنګ یم
په غلامو عادتونو عادت نه یم
غورځومه د غرور غرونه غورځنګ یم
زه د مرګ هیبتي سترګو کې ژوند وینم
هسې نه چې په دې خپل ژوند پورې تنګ یم
په سینه د خپلواکۍ لیلیٰ ته پروت یم
د باروتو په اور تور لکه لونګ یم
غېرتي یم ټنګ ټکور سره تضاد یم
د غفلت پردې شلوم د تندر کړنګ یم
د تاریخ اسمان کې ستوری د سبا یم
پېژندلی دې تمام جهان په ننګ یم
په یوه معنا پېغام د خوشحالۍ یم
خو په بله معنا بیا دخطر زنګ یم
په مغرورو بادشاهانو مې قلنګ دی
زه د سترې زمانې دا سې ملنګ یم
پکې راز د مینه ناکې زندګۍ دی
په دې هیله د تور جنګ سره په جنګ یم
د (مفتون) زړه د ترخو خاطرو کور یم
زه د ګران افغانستان په شانته رنګ یم

روئید همت

ستا به په یاد یم او که نه جانانه
زما له سترګو نه خوناب درومي
زما په مخ د اوښکو رود روان دی
زما د زړه هر ډب هم تا غواړي
ستا د پستو شونډو مسکا غواړي
ستا د هجران په بند کې
شپې شوګیرې تېروم
لږه ښکاره چې دیدن دې وکړم
کنه ما شوم زړه به مې وچوي ګوره
بیا به ارمان زما دسترګو وکړي
چې کله پټې شي او ګرد پرې پرېوځي

جلال امرخېل

شرنګولي په کوځو کې د دې ښار دې زولنې ما
د پرهر په شور لیکلې ، د فکرونو ترانې ما
چې دا ستا د مخ له اوره ، په خپل زړه نه سوځېدله
څه ګیله خو به کوله خاماخا له ائینې ما
تا که زه یم پیدا کړی ، ما خو هم ته راپیدا کړې
زه خو تا منم خاونده ، ته به هم ګوره منې ما
نه مې وینې ، نه مې اورې ، نه فریاد زما په درد کړې
ته رنده کړې ، که کنه کړې ، که ګونګۍ کړې زمانې ما
چې ارخ په ارخ اوړم ، په ازغو مې زخم لګي
دا په خپله په ځان وکړې ، محبته دا کانې ما
سمندر شوم ، شمال نه شوم چې مې خاورې پر سر باد کړم
ستا له تګ نه پس کړې ورانې ، ستا د پلونو ښانې ما
دا د کوم ارمان تکل و ، د کوم درد زور و جلاله !
له غزل سره چې وکړې ، په دې عمر دا نخرې ما

شهزاده شیرین زوی

زړه که یې نشته دی په شان د شپېلۍ
سوز خو یې شته لکه نالان د شپېلۍ

مظلومېت نوم د کمزوی، خو نه دی
ځواک په نغمه کې دی عیان د شپېلۍ
د سپوږمۍ څه؟ هم ورته غوږ هم سترګې
پېغله کوچۍ ده په ارمان د شپېلۍ
چې ګټې په ګټ ګرځي زګېروي یې خېژي
کور یې وران شوی، لکه وران د شپېلۍ
زما د هېواد د شهیدانو سینې
داسې سوری وي لکه ان د شپېلۍ
څومره ډېر زړونه له سینو وباسي
څومره بد غږ دی د عوان د شپېلۍ
اسرافیله[ع] اېښې ده پرې خوله چمتو دی
خو امر نشته له اسمان د شپېلۍ
له درد یم ډک، لکه نغمه شیرین زوی
له خوښۍ تش یم لکه میان د شپېلۍ

خلک زما غوندې ساده نه دي چې زیار وباسي
خلک پښتو مښتو په تندر وهي کار وباسي
دوی هر منزل ته په رسېدو قائیل دي
پښتانه ځکه په سمسور پټي کې لار وباسي

اباسین یوسفزی

زه به مړ ستا له دې اوږد انتظار شم
ته چې مینه کې جفا کوې جانانه
زه کباب به ستا د هجر په انګار شم
ای حسینې نازنینې د زړه سره
په ارمان به ستا د مینې په دیدار شم
د خائیست رنګ دې زه ګورم په غوټۍ کې
په اغزوکې به د ګل پرهار پرهار شم
مختارزی به خپله مینه له تا ځار کړي
که په مخ د جهانیانو هم سنګسار شم

حالات مې اندېښنې پخپل هنر ټکوي یاره
که ستا زرګرې ستر ګې دزړه زر ټکوي یاره
وجود لکه سپرغۍ شي کائینات راباندې چورلي
زما دقام واړه چې د بل ور ټکوي یاره
اوربل دې په رخسار د شور سبب شولو او که
د وربځو په څټک باندې څوک لمر ټکوي یاره
رقیب له مایوسۍ له مجنون صحرا ته تښتي
(دوران) لکه فرهاد د امید غر ټکوي یاره
عماد الدین دوران

نجیب الله ((روفي))
ته چې کړه وړه خوره شوې غوټۍ
دچا په زړه کې سره لمبه شوې غوټۍ
معصومې ستر ګې دې نن بیا غړېدې
دچا له غمه تکه سره شوې غوټۍ
ستا چې خوږې وږمې راپورته شولې
زما په زړه څومره خوږه شوې غوټۍ
تا چې له نازه تور اوربل رانښور کړ
د مخ په ورځ دې توره شپه شوې غوټۍ
تنکۍ ځوانۍ دې پر ما اوربل کړی
د (نجیب) زړه کې مېلمنه شوې غوټۍ

مختارزی (ډنمارک)
په لیدولو دې زه ټول خمار خمار شم
ستا له تورو تورو غټو سترګو ځار شم
په خندا کې دې له مینې نه قربان شم
لکه ګل پرې غوړېدلی د سهار شم
د سبا سبا خبرې راته مکړه

د شعر حجاب

اسماعیل یون

د ژوند مړاوې سندره مې رباب کې راولم
د وینو شپو کیسه د عشق کتاب کې راولم
دا سر ربه! مات شوی دی، ټیټ شوی چاته نه دی
خو تاته یې پنځه وخته محراب کې راولم
نن بیا د غزا ډول د هندوکش په سر غږېږي
سپېرې طالبې څمې مې په تاب کې راولم
د نقد ملایان ګرځي له دُرو سره په ښار کې
د شعر پېغله مې ځکه په حجاب کې راولم
زما ترلې لاس وو ستا درنې درنې څپېړې
یو وخت خو به اشنا دا په حساب کې راولم
د سره قهر غلامه بیا د چا غېږې ته درومې!
د سپینو وړانګو تاو به په کولاب کې راولم
خندا موسکۍ موسکۍ شي چې پر شونډو د کبانو

یو شور خو د سندرو په دریاب کې راولم
په دې به هم د ډېرو له زړګو شي لمبه تاوه
دا وران د زړه وطن چې نغمه باب کې راولم.

خلک چې نخښه ولي ګوري ورته
تا چې مخ پټ کړ نو ګذار دې وکړ

****

زرغون شا شینواری
)امریکا(

دااختر که خوشالي او نیکمرغی وي
یا د زړونو د ټپونو پاسماني وي
که دی لوخ لپړ وطن لپاره خلکو
د کفن په ځای زړوکی یا کالي وي
د دی وورې تړی ولس په ژوندانه کی
که یو څوک په دوچ کلک جواري وي
چی دا یو هم پکی نه وی د هغو به څه اختر وي
چی مورانی یي سرتوری او بچي یې زنداني وي
خپل ښایست چی ورته اور شی
په لمبو یی ایره کیږی ستی کیږی
په ډولی دارمانونو چی باران وی د بمونو
چی د ناوی سری نکریزی یی په سرووینو مینځل کیږی
چی یی خط هم لا په مخ نه وی راغلی
د قلم په ځای ټوپک ورکول کیږی
څوک چی داسی یو اختر ته اختر وایی
دامستان و لیونی دی په اختر کله پوهیږي
چی یی سپینی ښایسته ګوتی په پړونی پټی کړي

دیو څو پیسو لپاره یی خپل غلیم ته وی نیولی
یا یی اوښکی فواری وی د ښایسته سترګو په منځ کې
له غیرته او همته یی میلمنو غوندی ساتلې
لا یو ګوډ ماشوم یی شاته په لمن پوری ځونډی وي
بل د خپل کاله اختیار یی د پرون غوندی پردی وي
دااختر به اختر نه وي که هرڅویی اختر بولو
د وطن د مور زړوکی چی غلبیل په شان سوری وي
چی ژوندی یی لکه مړی تش قبرونو ته ولاړ ي
چی بینا یی ټول ړانده وي دړوندو برخی هم غواړي
چی مشران یی مرسیان شی له ازاد کلی پراروی
له دی خپلو عملونو په قصرونو کی اساروی
هم پیران وملایان یی د سجدونه توبه ګاروی
خجالت وی اخپل ولس ته د پردیو خدمتګاروی
هسی وایی چی نصیب مو بختور دی
چی راغلی پدی وران کلی اختر دی
د دی هسکو غرو ممانۍ چی خوراک یی
د کولال دلاس منګی نه یی اوبو څښاک یی
نه شاعرونه ادیب وسیاست پوه وی
د وحشی دښمن په وړاندی چی بیباک یی
چی یی مور وی په هر ځای کی زپره ولی
که پوښتون و یا تاجک و چی خپلواک وی
چی ډولی د ازادی هیواد ته راوړی
هر راهیب وهر رهبر نه ګوره پاک وی
بیا شینواری ته هم هغه معتبر دی
مبارک دی شه وطنه نن اختر دی



شاعر څوک دی؟ ادب څه ته وایي ؟

جنرال عبدالصمد (مومند)

دا هغه دوه سوالونه دي چې تر اوسه يې په پښتني ټولنه کې ځواب نه دی موندلی په دې ټولنه کې شعر ویونکي ته شاعر او ادب به شعرونو ته ویلی شي خو نه د شاعر او ادب مقام دومره ورکوټی نه دی چې د هغې لپاره دې بس دغه ورکوټی چوکات خوښ کړای شي او تر دغه قایه دې محدود پاتې شي . که د ادب تاریخ ته وګورو نو د ادب تاریخ دومره زوړ او باستاني دی لکه دانسان تاریخ او د انسان د پیدا ایښت سره سم ادب هم پیدا شویدی انسان هم پړاو په پړاو د ارتقاء او پر مختک په لور ګامونه اخستي دي چې ادب هم ورسره په دې پړاو کې اوږه په اوږه پدې مزل کې قدم په قدم ملګری پاتې شوی دی انسان وجود وي ادب يې سیوری دی انسان که د ژوند په هر ډګر قدم ښبی دی دغه سیوري ورسره هم ملګرتیا کړې ده خو دا اوس د انسان پوري اړه لري چې ده د ژوند دغه سترې سفر کې د ځان نه ګیر چاپېره په موجوداتو څنګه نظر اچولی داسې يې فقط وې وينځ که د هغې تخليق په معنی او مفهوم سوچ وکړئ . په بشري ټولنه کې ډېر وګړي داسې وي چې ستر ګونه فقط د ليدلو کار اخلي ولې بيا يو تعداد ځيرک وکړي داسې هم وي چې هغوی په سترګو يواځې کاته نه بلکې په سترګو کې رانغښتل هم کوي او هر هغه څوک چې د دې ويړ کائينات ذره ، ذره په خپلو ستر ګو کې را ونغښته هغه شاعر دی هغه اديب دی د هغه ستر ګې د ټولنې ستر ګې دي ځکه يواځې شاعر او اديب د ټولنې مسول دی چې هغه د ماضي هندار ه په لاس ګرځوي د مستقبل نغمې دحال په ژبه وايي دژوند درازونو پردې پورته کوي او په دغه حواله باندې شاعر او اديب په ټولنه کې يو ځانګړی مقام لري بيا هرکله چې موږ د اديب معنی او مفهوم ته ورکوز شونود شاعر دمقام تعين نور هم اسانېږي او د ده اهميت راته سېوا کېږي لکه چې وړاندې مو ذکر کړل چې د اديب تاريخ دومره زوړ دی لکه دانسان تاريخ. ! نو راځو اوس د اديب موضوع ته ادب دادی چې الله تعالیٰ انسان پيدا کړ نو حضرت ادم (ع) ته داالله تعالی په امر ملائيکو سجده وکړه ولې مشرې ملائيکې (شيطان) ورته سجده ونکړه انکار يې وکړ ابليس لعنتي شو او د جنت نه وشړل شو ابليس د انسان د بې لارې کولو قسم وخوړلو حضرت ادم (ع) غونډې بزرګ شخصيت يې هم تېر وېستواو ادم (ع) يې له جنت نه هم ووېسته او په دې دنيا يې ژوند شروع کړ خبره هابېل او قابېل ته راورسېده قابېل هابېل قتل کړ په دغه پېښه کې پېړۍ ، تېرې شوې هغه دوه هم خاورې شول خو شاعر نن هم هابېل او قابېل په ګوته کوي نن هم د قابېل په ضد د هابېل ملګرتيا ته په داسې خواږه او نرمه شاعرانه ژبه ملګري ګوري چې هر انسان يې دغه خوږې خبرې يواځې دا چې اوري بلکې معنی يې هم انسان د ژوند هرې پېښې ته د خپلو جادو ګرو لفظونو جامې ور اغوندي د خپلو نازک هنرپه ګوتو د ټولنې خيرنې او ناولې پېښې مخ وينځي او دټولنې نورو وګړو ته يې صفا او ښکلی ښه وړاندې کوي شاعر د هر دور امين وي هغه د خپلې ټولنې د وګړو ډېر امانتونه د ځان سره پخپله سينه کې پټ ساتلي وي او بيا يې په شاعرانه انداز کې ښکاره کوي ظلم ته که هره نامه ورکړای شي ظلم وي او ظالم که ظلم کوي هغه ته خپل ظلم ، ظلم نه ښکاري بلکې هغه په دې عقيده وي چې دی څه کوي سم يې کوي نو دغه ظلم چې کله شاعر په شعر ي ژبه او شاعرانه انداز بيانوي نو مظلوم ته پرې روحي تسکين او قلبي اطمنان حاصلېږي ظالم هم د ټولنې هر نا خوښی عمل چې خلک ترې ډډه کوي کله چې د غه عمل شاعر لکه يو تکړه انځور ګر دخپل هنر په ذريعه ښکلی کړي او بيايې ټولنې ته وړاندې کړي هرڅوک غواړي چې د شاعر له اړخه ولس ته ببرته ورکړل شوی امانت د زړه په تل کې وساتي خو افسوس چې ټولنه کې د دوی اهم رول او کر دار لوبولو با وجود هم نن زموږ د ټولنې شاعر ته هغه مقام حاصل دی چې سړی خفه شي او تذکره يې مناسبه نه ګڼم خو دا هر چاته څرګنده ده چې نن زموږ په لر او بر پښتني ټولنه کې چې يو شاعر خپل

پېژندنه په هر ه حواله کوي هغه پرې نادم نه وي خو چې کله وايي زه شاعر يم نو په دې ټکنی شي دا دشاعر غلطي ده که د ټولنې او خلکو مخکې دوه خبرې زموږ مخ ته اودريږي يوه دا چې يا د ټولنې شاعر او اديب خپل مسوليت او رسالت چې ځنګه لازم دی هغسې په سمه او مناسبه توګه نه تر سره کوي دويمه دا چې زمونږ د ټولنې وګړي لا د جهل په تيارو کې همداسې تر اوسه پراته دي ؟! زه دا فيصله او پرېکړه ګرانو لوستونکيو ته پرېږدم .

غزل

د حـق خبـرې کـړل پـه جـار سـرې پـه دار ځـړوي
دلتـه دا جـرم دی لـه وار سـرې پـه دار ځـړوي
تـه چې رښـتيا رښـتيا ويـل غـواړې نـو خيـر دې نشـته
دلتـه هـر وختـې دغـه کـار سـرې پـه دار ځـړوي
چـې د حـق لاره يـې پـرې ايښـې ورتـه څـه نـه وايـي
خـو پلټنـې کـړي ديـنـدار سـرې پـه دار ځـړوي
د شـپې پـه خـوب کـې ګـورم زه چـې يـو بـې کـاره سـړی
پـه پښـتنو کـې يـو د کـار سـرې پـه دار ځـړوي
د چـا ملاتـړ وکـړم او کومـو ځنـې کرکـه وکـړم
دلتـه هـم ورور او هـم اغيـار سـرې پـه دار ځـړوي
((ناصـري)) خـولې بانـدې لاس کېـږده چې څـه ونـه وايـې
ښـه يـې خبـر چـې هـر سـهار سـرې پـه دار ځـړوي

هجرت الله ((ناصري)) لغمان

د خوب ليد لوراز

پوهنمل محمود نظري

د نړۍ په ټولو کلتورونو او دينونو کې خوب ليدل يو راز پاته شوی دی .په دې هکله ډيرې افسانې باورونه او ادبيات شته خوب ليدل يوه پيچلې سکالو اويوه معما ده چې د ا نسان له پيدا ايښه تر اوسه مبهم پاته دی د سقراط په اند خوب د انسان د وجدان رږغ دی بايد په هغه ښه پوه شو او هغه ته غاړه کيږدو.ارسطو وايي : په رښتيني خوبونوکې «کلي عقل» د حقيقت يو صورت « جزيي عقل» ته القا (الهام)کوي د ختيځو فيلسوفانو په اند خوب د روح دليروالی او له ظاهري حسونو څخه پيدا کيږی او هغوی دا يوه باطني قوه بولي د شرق لوی نابغه اوطبيب ابن سينا وايي په خوب کې د خيال قوه له عالم قدس سره يو ځای کيږي او دا مشترک حس«بنطاسيا» په کشف او الهام بريالی کيږي او زياتوي خوب ليدل د تخيل د قوی د غبرګون پايله ده دا قوه تل په خوب او ويښتيا کې فعاله وي په ويښتيا کې يو تصور يا خيال پيداشي په خوب کې هغه خيال پراخيږي ځکه چاپيريال او مادي محسوسات د فکري قوې خنډ نه ګرځي .د ابن سينا په اند په ويښتيا کې د تخيل قوه د فکر دقوې او تعقل تر فرمان او اغيزې لاندې عمل کوي ډير خوبونه نظم ، ترتيب ، قاعده او ځانګړی قانون نه لري نو ځکه درست او علمي تعبير د هغه لپاره نشته د ابن سينا به باور ډير خوبونه د ادارک ، محسوساتو ،افکارو ، هيلو يا محيطي او مزاجي شرايطو تر اغيزې لاندې وي لکه تودوخه او يخني ، محيطي ږغونو، لوږه ، ډير خوړل، تبه او نور شيخ شهاب الدين سهروري هم د ابن سينا هم اند دی دواړو فيلسوفانو په عرفاني پړاونو کې د بشر د روح خوځښت او سلوک په رمزي رسالو کې ليکلي دي د دواړو په اند په خوب کې جزيي عقل له کلي عقل سره اړيکې نيسي .د» کارل يانګ «په اند خوب زموږ دځان له پوه ضمير ه را پورته کيږي او هڅه کوي زموږ هغه ستونزې چې په ويښتوب کې نه د ي حل شوي حل کړي. د » آلان هابسون» او «رابرت مک کارلی « په اند خوبونه د مغز د تصادفی پارونو پايله ده يانې دپخوانيو حسي جريبو پاته شونې دي چې د حافظې په لنډې مودې برخه کې پاته دي او هغه ژر او اسانه تر لاسه کيدای شي په خوب کې راڅوندی کيږي .خپګان، سټريا او روحي ضربې پر خوب باندې مستقيمه اغيزه کوي او ډير خوبونه د خوب تر مخه په پېښ شوي فکري سکالو اړه لري د هر چا خوب د هغه د چارپيريال ،په محيطی پو هی او مالوماتو هم اړه لري .په خوب کې د هوښياري قوه هم فعاله وي چې خوبو ته منطق ورکوي داچې داسې خوبونه د عقلانيت پايله ده انسان عقل په ځينو شيانو کې وړاند وينه کولي شي.د لايتناهي طبيعت د مادې له نظره د خوب انځورونه او مانا يوه ټوټه موج دی يانې د انرژي يوه ټوټه ده او داد انرژي موجونو خوځنده نړۍ ده چې د انځورونو په صورت تجلي وي نو ځکه منظم دی.

ولې؟

شهزاده شيرين زوی

د جنت پروا يې هم نه راځي ما ته
له دوزخ نه يې هم خدای شته نه ويرېږم

هغه په دې پوهېده، چې د دوی خدای يادوم، خو بيا يې هم د چا خبره زه له سر نه ونيولم او په ترخه ژبه يې راته ويل: منافقه ته څنګه خدای نه منې.
ما په بېړه ځواب ورکړ:- صيب ! تاسو د پورتني بيت دويم نيم بيتی لږ په غور وګورئ په هغه کې د ((خدای شته)) کليمه دا

وضاحت کوي، چې زه هم خدای منم او هم د هغه جنت او دوزخ.

هغه لږ نرم شو او ویې پوښتل:-((ښه چې داسې ده، نو بیا ته د چا د جنت پروا نه لرې او له دوزخ نه یې نه وېرېږې؟)).

ما که څه هم له دې وېرې، چې ((له هغه چا وو بربرېږئ، چې له خدای نه نه وبربرېږي)) نبغ په نبغه ورته ونه ویل، چې د هغه خدای، چې له لوی څښتن تعالی پرته تا په خدایۍ منلی، خو په نرمۍ مې ورته وویل:-صیب ! دلته زما منظور هغه خدای دی، چې دلوی الله دجنت هیله او د دوزخ وېره د انسانانو له زړونو باسي او په خپل جنت او دوزخ یې خپل ځان ته په سجده کولو اړکوي.

هغه یو ډول پیکه موسکا وکړه او ویې ویل:-زه پوهېږم، چې ته څوک منې او څوک نه، خو ته ګوره، چې زه یې په تامنم او کنه.

له همدې خبرې سره یې سر د خونې له کړکۍ وو ښست او له اثره په ډک غږ یې غږ کړ:-((شداده !، فرعونه ! او نمروده ! دلته راشئ)).

له غږ سره درې پرېږ ځناور خونې ته راننوتل.

هغه ورته وویل:-((دا ګورئ ؟ دا یې نه مني)).

هغوی ټولو په یوه خوله وویل :-((ښه ! اوس به یې ومني)).

له همدې خبرې سره یې غبرګې لغتې راواچولې.

ما اخ کړ او په خپل ځای کې کېناستم. د وړو مور رابانديې غږ کړ:((ولې؟)).

مابېرته په بالښت سر کېښود او ومې ویل:((ولې نه خوب مې ولید)).

له هنرمندو ګوتو دې جهان لوګی جانانه !

محمد حسین (میاخېل)

نه پوهېږم د ژوند انه په اکثرو مواردو کې، چې کوم حالت مې په زړه کې وي نشم کولای چې هغه هو به هو انځور کړم. او پدې اړه له ډېر سوچ نه دې پایلې ته ورسېږم چې دا حالت به مې د کمزوري هنر ښکارندوی وي ځکه د زړه حالت خو په پوره ډول کامل هنرمندان انځوروي.زه له ډېرې هڅې سره سره بیا هم نه یم توانېدلای چې د خپل زړګي د مینې مقام خپل جانان ته انځور کړم نو ځکه رانه ویل شوي :چې مې د زړه وینا محتاج ستا قافیې ته او سې ثرنګ دې وبولم د خپل زړه ترجمان شاعرۍ ښایي پورتنۍ خبره راسره څوک ونه مني ځکه چې شاعري خو د زړه ترجماني ګڼل کېږي او د همدې خبرې له امله به پورتنی بیت زما لږ بې منطقه وي خو څه وکړم زه له همدغسې حالت سره لاس او ګرېوان یم.د اوس لپاره مې چې د استاد ادیب ښاغلي شهزاده (شیرین زوی) څلورم چاپي اثر (زمانې ګناه ته اړ کړم) چې د ربښتینو پېښو ناول دی ولوسته نو په همدې تاثر کې مې دا پورته خبرې د اعتراف لپاره ذکر کړې ځکه د استاد شیرین زوی دا کتاب که څوک په پوره غور او دقت سره ولولي او واقعي افغاني ملي حس ورسره وي نو د یو مهاجر مجاهد او کړېدلي افغان په درد به ترې په نابېره توګه له سترګو اوښکې د ګرېوانه په لور رواني شي او پدې راز به وپوهېږي چې د دې خاورې د ازادۍ لپاره د دې وطن زلمیانو خپلې وینې او مینې قرباني کړې د پښتو ژبې لپاره د نورو ژبو نه ډېرې ناولونه را ژباړل شوي خو پخپله د پښتو ادب په ځولۍ کې پدغه برخه کوم د پام وړ کار نه دی شوی چې دا پخپل ذات کې د لیکوالو سقوط او د هنر کمزورتیا په ګوته کوي نو د همدې له امله د شیرین زوی کتاب ډېر ارزښت ځکه پیدا کوي چې یو څه ګوته په شمار ناولونه لرو او بیا پدې موضوع چې دا کتاب لیکل شوی ګمان مې نشي که بل چا لیکلی وي. د شیرین زوی صیب دې کور ودان وي چې پدې برخه کې یې هم خپله فکري سپما له خپلې ټولنې، خپلې ژبې او خپل ارمان څخه ونه سپموله. په نوموړي کتاب کې د حاجي باز محمد په نامه د یو چا کیسې شوې چې هغه پکې له خواړه هېواده د روسیې له ډېر ستم نه مهاجر شوی د هجرت په غریبانه او مینه ناکه ماحول کې د ژوند شېبې تېرې کړې بېرته له یو څو تنو ملګرو سره خپلې خاورې ته د جهاد تاوده سنګر تور غر ته راغلی هلته یې په برېنه نومې ځای کې شپې کړې چې د میاشو له ظلم پکې د خوب لپاره سترګه نه پټېده او بیا یې پدې لاره کې خپل یو خوږ ځوان او ارمانجن ملګري عبد الرحمان د شهادت د جام په نوش کولو لیدلی چې د شهادت پر محال یې خپلو ملګرو ته سترګې خلاصې کړې وې او په ګرد جنو وریځو یې ورته

پاس کتلي وو او ویلي یې ول چې یوه خبره تاسو ټولو ته د وصیت په ډول کوم چې ښایي پدې خاوره به زما په څېر ډېرو زلمیانو خپلې وینې او مینې قرباني کړي وي او په ژړه غوني غږېږي ورته د پای د خبرې په ځای دا ټپه له خولې راوتې وه چې:

په اخرت کې به ناري کړم
زه له دنیا نه ارماني راغلی یمه

د شهید عبدالرحمان له درد نه د ډک بېلتانه غم حاجي باز محمد ته بس وو. او بیا یې باید بل درد په ژوند نه وای لیدلی ځکه دا داسې درد وو چې تر ده به لا د پورته غم اندازه ثومره وه. ځکه چې یو شاعر وایي:

د جامعت نه روی ګردان به وي اګاه په دې چې
د ملګرتیا ځور له هر یو څیزه ډېر دی اشنا

خو په هر حال حاجي باز محمد د ژوند له نورو مشکلاتو سره هم لاس او ګرېوان شي د مور له نعمت نه هم بې برخې شي په کور کې یې له ورور سره هم خفګان وي. بیا سعودي ته ولاړ شي هلته یې پلار بله ښځه کړې وي خو لنډه دا چې د ژوندون ناخوالې یې سرې خفه کړي او بالاخره یې وژړوي او د یو دردېدلي افغان د ژوند داستان درته مخې ته پاڼې پاڼې واړوي او تا ترې اګاه کړي دلته د یوې خبرې یادونه اړینه بولم چې کله چې حاجي باز محمد له خپل فامیل سره مهاجر شي او هلته په کور کې له خپل مشر ورور سره مرور شي او په دې برخه کې ملامت هم دی (حاجي باز محمد) وي او له کوره مرور شي او ملګرو سره جهاد ته راشي نو لدې خبرې دا پوښتنه پیدا شي چې ګویا چې چا به په کور کې جنګ وکړ نو جهاد ته به ته؟ د پېښې په لوستلو سړي ته دا حالت انځورېږي. خو داسې نه ده دا ارمان چې خلک پرې جهاد ته تلل ټولو ته څرګنده ده هیله ده ځینې لوستونکي ترې غلط مفهوم وانه خلي. د ښاغلي شیرین زوی صیب قدرداني خو راسره له پخوا ملګرې وه خو اوس یې چې د هېواد د تاریخ دغې مهمې برخې ته دومره

هنرمندانه ډالۍ چې د زړه په وینو یې سینګار کړې وه وړاندې کړه نو قدر یې راته یو په دوه شو او په پای کې ګران لیکوال ته د هوسا ژوند هیله د الله(ج) له دربار نه کوم او د یوې خبرې یادونه ورته کوم چې که چېرې کولای شي چې په همدې اړه نور مطالب هم رابرابر کړي او نه یې برابروي نو دی به ډېر زیاتی کوي. خدای دې وس ورکړي چې د پښتو ادب دا دنیا په خپل فکر او قلم نوره هم رنګینه وښايي او هغه د اجمل اټک په وینا چې:

مسته او تانده ځواني یې له بدو سترګو په امان شه
او فن ته یې پام د هر افغان شه.

مرګیه ورک شې

ذبیح الله دلسوز لغمان سواتي

رانه بېل دې کړو اشنا مرګیه ورک شې
ځکه ناست یم یکتنها مرګیه ورک شې
یتیمان ځان سره وایي په ژړا کې
رانه وې دې وړه بابا مرګیه ورک شې
د چا مور او پلار ورک شوي د چا ورونه
هر یو وایي په ژړا مرګیه ورک شې
ورونه یې مړه شول خویندې یې ژاړې په کوڅو کې
وایي یو بل ته همدا مرګیه ورک شې
زمونږ کلي کې ماتم دی او که څنګه؟
خلک ګرځي وارخطا مرګیه ورک شې
دوی دا وایي چې ذبیح دلسوز مړ شوی
مونږ کوو دا واویلا مرګیه ورک شې

دبې ګناه انسان قتلېدل د ټول انسانیت قتلېدل دي

د پښتو نظم اغاز او ارتقاء

پروفیسر اسلم تاثیر

پښتو نظم یو اوږد تاریخ لري –له کوم وخت نه چې پښتون پخپله خاوره اباد دی – له هغې راسې پښتو شاعري اغاز شوې – ځکه چې پښتون فطرتاً شاعر دی د پښتنو د سیمې غرونه سیندنه ابشارونه بڼونه مرغزارونه ګلونه خوشبوي جلال جمال ښکلا فضاګانې رنګونه د بوډۍ ټالونه د مارغانو زږه راښکونکې اوازونه ښکلې او خوږې مېوې او د پښتونه ذوق او جمال پخپله یوه لا ذواله سلسله راجوړوي او مخ په وړاندې یې بیایي خو بیا هم د معلوم تاریخ له مخه د پښتو نظم چې له یوه پړاو نه تر بل پړاو پورې څومره مزل کړی دی نو هغه د پښتو ادب په تاریخ کې په یو څو دورونوکې وېشل شوی دی چې ذکر یې داسې دی

1. د
پښتو ادب ړومبی دور (۷۵۰ نه تر ۱۴۹۴ پورې)
2. دې
ښتو ادب دویم دور (۱۴۹۴ نه تر ۱۲۸۷ پورې)
3. دې
ښتو ادب دریم دور (۱۲۸۷ نه تر ۱۸۳۴ پورې)
4. دې
ښتو ادب څلورم دور (۱۸۳۴ نه تر ۱۸۹۰ پورې)
5. دې
ښتو ادب پنځم او جدید دور ۱۸۹۰ نه تر موجوده دور پورې)
❖ دې
ښتو ادب وړمبی دور (۷۵۰ نه تر ۱۴۹۴) پورې

دپښتو ادب اولنې دور یوه اوږده زمانه لري چې د دویمې پېړۍ هجري نه شروع شي نو په نهمه پېړۍکې سر ته رسي د دې زمانې په حقله زیاتره معلومات د پټې خزانې دتذکرة الاولیاء او پښتا نه شعراء نه په لاس راځي ګني څۀ بله ذریه یې نه شته – پټه خزانه کې یې کښلي چې د نظم وړومبی شاعر (امیر کروړ جهان پهلوان) دی داسې وایي چې دی په کال ۱۳۹ هـ کې دخپل پلار د مړنې نه وروستو په غور کې

د خپلې قبیلې مشر وټاکل شو چې زړور او ننګيالی بنیادم ؤ پټې خزانې چې د ده کوم نظم اماني ساتلی او تر موږ یې رارسولی دی داسې دی

زه یم زمری په دې نړۍ تر ما اتل نه شته
په هند وسند وتخار او په کابل نه شته
بل په زابل نه شته له ما اتل نه شته
غشي د من مې ځي برښنا پر میر څمنو باندې
په ژوبله یو نیم یرغالم پر تښتېدو نو باندې
په ماتېدونو باندې له ما اتل نه شته
زما د بیو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ او په ویاړ
د اس له سوو مې مځکه رېږدي غرونه کاندم لتاړ
کړم ایادونه وېجاړ له ما اتل نه شته
زما د توري تر شپول لاندې دي هرات وجروم
غرج او بامیان و تخار بولي نوم زما په اودم
زۀ پېژندویم په روم له ما اتل نه شته
پر مرو زما غشي لوني ډاري دښمن راځخه
د هر یوا لرودپر څنډو وځم تښتي پلن را څخه
رپي زړۀ راڅخه له ما اتل نه شته

په دې دور کې ډېر شاعران تېر شوي دی خو زوموږ له پاره زیات او نمائینده شاعران هغه دي کومو چې پښتو نظم ته د هئیت او موضوع له مخې څه نا څه نوې تجربې ور ښنلي دي ځکه نو په دې دور کې بیټ نیکه د هېرېدو په دې نه دی چې هغوی پښتو نظم ته وړومبۍ حمدیه مناجات ور پېرزو کړ چې زما نه یې ۳۰۰ – ۴۰۰ هـ په منځ کې ښودل شوی دی او دبیټ نیکه دا منظوم مناجات د پښتو په نظم کې یو تاریخي اهمیت لري ځکه یې دلته رانقل کوو.

لویـــه خدایـــه ،لویـــه خدایـــه ، لویـــه خدایـــه
ســـتا پـــه مینـــه پـــه هـــر ځایـــه
غـــــرولاړ دی درانـــــــوي کـــــــې
ټولـــــــه ژوي پـــــــه زاري کـــــــې
دلتـــــــه دي د غـــــــرو لمنـــــــې
زمـــــــوږ کـــــــړدۍ دي پکـــــــې پلنـــــــې
دا وګـــــــړي ډېـــــــر کـــــــړې خدایـــــــه
لویـــــــه خدایـــــــه ،لویـــــــه ،خدایـــــــه

په بیت نیکه پسې سمدستي اسعد سوري ۴۲۵ ه کې
وفات یو داسې شاعر تېر شوی چې په پښتو نظم کې
یې د مرثیې صنف دا خل کړ دهٔ د غور امیر – امیر
محمد سوري په مرګ یوه داسې مرثیه لیکلې چې ټول
ټال څلور څلوېښت شعرونه لري او د مرثیې ځینې
شعرونه دا دي.

د فلک له کارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندر زار
زموږ په زړونو دې نن بیا یو غشی وویشت
ودې ژوبلله په دې غشي هزار
پر سوریو باندې ویر پرېوت له پاسه
محمد واکمن چې ولاړ یې په بل دار
یو وار شو اسیر په لاس د میرڅمنو
انتقال یې وکړ قبر له بل وار

ترپایه پورې همدا نظم کښل شوی په اسعد سوري
پسې بل شاعر تایمني دی چې د غیاث الدین غوري
په زمانه کې ۵۲۰ ه کې یې ژوند یقیني دی او د پښتو
نظم په تاریخ کې یې د خپل یو مثنوي په بنیاد زموږ
مخې ته ولاړ دی کوم چې دهٔ د غیاث الدین غوري
ستائینه کړې ده د دې مثنوي نمونه په دې ډول ده.

نن زه غږېږم په صفت د سلطان
چې دی بادار غازي ملک د جهان
دفېروز کوه او غور رڼا له دهٔ ده
هم د تېرو تورو برښنا له دهٔ ده
غیاث الدین دغور زمری عالي شان
د اسلام دین د ده په توره روښان

په دې دور کې ښکارندوی یو بل داسې شاعر تېر شوی
دی چې د سلطان محمد سام په زمانه کې ۵۲۹-۲۰۲ هـ
کې په غور کې ژوندی او ښه شهرت یې لره ده په
ړومبي ځل یوه قصیده ولیکله چې پوره پنځه
څلوېښت شعرونه لري په دې قصیده کې د سلطان
محمد سام او سلطان غیاث الدین غوري ستائینه
شوې ده – چې دبېلګې په توګه یې څو شعره را اخلو.

دسپرلي ښکلو نکي بیا کړي سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه
سپیني واورې ویلېده کاندي بهېږي
لکه اوښکې د مین په ګرېوانونه
په زابل چې د بري په نیلي سپور شو
په لاهور یې د مړانې ګذارونه
نه یې څوک مخې ته دري دمیر څمنو
نه یې تورې ته ټینګېږي کلک ډالونه
د اسلام د دین شهاب یې رڼا لمر دی
نورستان یې کړ رڼا په جهادونه
نه به ده غوندې روڼ ستوری په هسک ځلي
که څه پورته شي له غوره ډېر مېړونه
یو خاوند شهاب الدین دی چې یې وکا
په هر لوری هر هېواد ته یرغلونه
په رڼا اوسې ته تل د دین شهابه
نوم دې تل وو په دربځ په نمزد کونه

په دې دور کې په نظم کې د هئیت تجربې داسې په نظر
راځي – چې شیخ متي په ۲۲۳ ه په کې مسدس او بابا
هوتک په ۲۲۱ ه په کې مربعه نظمونه لیکلي دي چې
بېخي جدید کړه اوړه لري په دوی پسې نږدې اکبر
زمینداوري (ژ: ۷۵۰ هـ) پښتو شاعري له غزل سره
اشنا کړه اکبرز میند اوري سندرې او مثنوي هم لیکلي
دي خو د خپل غزل تر مخه په پښتو شاعرۍ کې
دائیمي اهمیت لري د غزل کړه وړه یې داسې دي.

چې مدام زه ستا و مخ و ته نظر وړم
دبېلتون له وېرې تل زېر زبېر وړم
که په ما دې حکم وشي چې خادم شه
دغه ستا د نغري سور انګار په سر وړم
چې جمال په مهرو مینه راښکاره کړې
شین توتي شم په هوا د مینې پر وړم
چې جمال دې په هجران کې راپه یاد شي
هغه دم په تصور شمس و قمر وړم
ستا د تورو څنو خیال هسې طویل دی
تل په زړه کې دغه فکر زه (اکبر) وړم

په دې دور کې د صنف د تجربې په حواله بل اهم شاعر
خلیل خان نیازی دی چې د بهلول لودي (و: ۸۹۴ هـ)

په زمانه کې یې ژوند وو ده په وړومبي ځل په پښتو نظم کې د رباعي غوندې اهم صنف اضافه کړ چې تجربه یې په دې ډول ده.
خـرې وربځـې ژاړي لـه پاسـه
کوئیلـه ږغ کـا بېلتـون لـه لاسـه
پـه هغـه لـوني ګـوهر پـه خـول سـتا
دا مرحبـا کاسـتا زونـړ مواسـه
د پښتو ادب په وړومبي دور کې ډېر نظم ګویان شاعران تېر شوي دی چې هغوی کې ابو محمد هاشم سواني (۲۲۳-۲۹۷ هـ) شیخ خیر الدین عرف خرشبون سړ بنی (۴۱۱ هـ) ملک یار غرشین (ژ: ۵۸۱ هـ) بختیار کاکي (۵۲۵-۲۳۳ هـ) شیخ ملک یار بابا (۷۲۵ هـ) زرغون بابا (۸۹۱-۹۳۱ هـ) بهلول لودي (و:۸۹۴ هـ) دوست محمد کاکړ شیخ رضي لودي زیات مشهور دي دوی سره سره رابعه بي بي زرغونه کاکړه بي بي زینب او بي بي بخته د پښتو نظم په ښځینه شاعرانو کې څرګند نومونه دي د پښتو ادب وړومبي دور په پښتو شاعري کې د سنګ میل حیثیت لري په دې دور کې نظمونه خالص په ملي رنګ او سوچه پښتو کې لیکل شوي دي افکار او مضمونونه یې ښه ساده او اسانه دي او خواږه یې هم سېوا دي .... نور بیا.

تر ټولو ښه مینه هغه ده چې مینه لاس ته راوړي

ګـــړېږ

زیب منتظر

ملګروماتـــــه خوګړېږښـــــکاریږي
پـــټ حقیقـــت راتـــه لغږښـــکاریږي
ددې تیـــارې ورانـــې ســـپیرې جـــونګړې
هراوســـیدونکی راتـــه مړښـــکاریږي
چـــې یـــې تدبیر، ســـوچ اوشـــعورته ګـــورم

راتـــه راتلـــونکی یـــې خړپړښـــکاریږي
واړه خاموشـــه ناســـت دي لاس ترزنـــې
ماتـــه مـــې هـــم داخپـــل ځـــان پړښـــکاریږي
خپلـــه ســـپیره جـــونګړه بـــاغ یـــادیوي
دبـــل شـــین بـــڼ هـــم ورتـــه شړښـــکاریږي
ســـترګې ړنـــدې یـــې دي ړناتـــه وي
ســـپین ورتـــه تـــورخیرن ککړښـــکاریږي
هـــرې بلاتـــه لاس پـــه نـــوم ولاړوي
هریونـــاوړه ورتـــه وړښـــکاریږي
څـــوک چـــې یـــې کنـــدې اوکـــوهي تـــه بیـــایي
دوی تـــه پیشوا، لارښـــود، ملاتړښـــکاریږي
ویـــده بـــه وینښ شـــي، وینښ ویـــده بـــه څـــه کـــړي
راتـــه ډیـــرا وږدددې خـــوب لړښـــکاریږي
غتـــې پګـــړې دي بیـــا راغونډ جرګـــه کـــې
ماتـــه مسید، وزیر، داوړښـــکاریږي
یـــادذهنونووردی بنـــد، وینااثرپرې نـــه کـــا
یـــا (منتظـــره) دتاشـــعرراته لـــړ ږښـــکاریږي

میر عالم نوید

وشـوې مـودې چـې مـځ خـانې نـه مـې توبـه کـړې ده
سـاقي داسـتا لـه یـارانې نـه مـې توبـه کـړې ده
نـه یـې یـادوم نـه مـې یـادېږي هغـه تېـرې کیسـې
رېبـاره هغـه افسـانې نـه مـې توبـه کـړې ده
سـترګـې بـه پټـې ګـرځـوم زړه بـه مـې دردرنـه کـوي
دا د پېمخـو تماشـې نـه مـې تـو بـه کـړې ده
مـا د منصـور غونـدې پـه دار کـړئ هېڅ پـروا نـه لـري
خـو زورورتـه سـجدې نـه مـې توبـه کـړې ده
نویـده لا عـدد خـراب شـو چـې توبـه مـې وکـړه
پـه لپـو څښـم خـو لـه پیـالې نـه مـې توبـه کـړې ده

د انسان په بدن د خندا اثرات

عنایت عابدزی

خندا د انسان په بدن کې انرژي ډېروي او روغتیا ته ګټه رسوي. په نړۍ کې اوس داسې مرکزونه شته چې هلته پریشانه او خفه خلک خندا ته هڅول کیږي، د دغه مرکزونو څخه یو په امریکا کې هم دي، د دې مرکز کارکونکي وايي: کله چې مونږ دهغو ناروغانو په خندولو پیل وکړ چې د ځان وژنې نیت یې درلود، نو دا کارراته ډیر خندني برېښیده او زمونږ پرې ډېر

باور نه و. خو وروسته په دې پوه شو چې په خندولو سره د ډېرو خلکو ژوند وژغورل شو.د امریکا د کلیفورنیا دعامې روغتیا په یوه روزنیز مرکز کې ډاکټر لیبریک د ځیړنو څخه وروسته وویل چې د خندا سره د انسان معافیتي سیستم یا هغه توکي چې د انسان بدن ته د ناروغیو په وړاندې ډېرځواک بخښي ، پیا وړي کیږي.،ساینسي څیړنو ښودلې چې خندا د انسان په فزیکي روغتیا هم ښه اغیز لري. خندا نه وروسته د انسان د وینې فشار نورمال حالت ته راځي، له خندا سره په وینه کې اکسیجن ډېرېږي او په دې توګه د انرژۍ اندازه هم اوچتېږي. د بدن عضلات ارامیږي اوزړه او تنفسي سیستم هم ډېر ښه کار کوي.

((خندا))

- خندا د ژوند له ستونزو سره د جنګ ډېره غوره وسله ده."اناتول فرانس".
- په یوه خندا انسان ته هره دروازه خلاصیږي."فرانکلن بنګر".
- خندا وړیا دارو دي، موږ باید دغه دارو خپلو ماشومانو ته ورکړو، خوشحال او خندان یې وروزو، چې همیش په کټ کټ وخاندي، ځکه چې په لوړ آواز خندا سینه پراخه کوي او د وینې حرکت چټکوي. "ډاکټر شناواس".

د لیونو څخه د عقل یادول

وایې چې چا له لقمان حکیم څخه پوښتنه وکړه چې عقل دې له چا څخه یاد کړ ؟لقمان حکیم ځواب ورکړ د کم عقلو او لیونو څخه .پوښتونکی حیران شو او ویې ویل هغه څنګه؟لقمان حکلیم ځواب ورکړ کوم کار به چې هغوي (کم عقلو او لیونیان)کاوه ما به نه کاوه.

او به او انګور چې یو ځای شي اولې حرامیږي؟

یو ورځ یو سړي شراب څکل چې پدې وخت کې بهلول راښکاره شو سړي زر شراب پټ کړل او د بهلول نه یې څه داسې پوښتني شروع کړې-سړي:که څوک انګور وخوري حرام دي؟بهلول: نه !سړي:که څوک د انګورو د خوراک نه وروسته اوبه وڅکي څنګه بهلول: بیاهم څه پروا نشته !سړي: نو څنګه همدا ډول اوبه او انګور یو ځای کړي او لمر ته یې کیږدي نو هغه حرام ګرځئ؟بهلول : که یو څه اندازه خاوره دستا په سر واچوم هغه تاته څه صدمه(نقصان) درسوي؟سړي وویل نه.بهلول: که بیا دي خاوري سره لږې او به یوځای کړم اولمر ته یې کیږدم او د هغې خاوري او اوبو د مخلوط(یو ځای) کیدو څخه وروسته هغه خښته شي او هغه خښته ستا په سر یې راګوزاره کړم څه به وشي سړي وویل سر به مې مات شي.همدا ډول او به او انګور چې سره یوځای شي یو ماده تري لاس ته راځي چې الله پاک هغه په حرامه ګرځولې ده.

غواړم شیطان وګورم.

یو بد اخلاق سړي له بهلول نه پوښتنه وکړه غواړم شیطان وګورم بهلول ځواب ورکړ که په کور کې شیشه(ائینه) نه لري ولاړ شه او په پاکو اوبو کې وګوره شیطان به ښخپله وګوري.

د سواد آموزۍ کورس

یوه ورځ یوه ژورنالیست د دولسم صنف شاګرد نه پوښتنه وکړه چې وروسته له فراغت نه به څه کوي؟
شاګرد ورته په ځواب کښې وویل چې د سواد آموزي کورس به وایم.

جـنت

یو سړی د خوبه راپاڅیده او خپلې میرمني ته یې وویل: ((نن شپه مې خوب لیده چې جنت کې یم، نږدې مې له ډېرې خوشحالۍ څخه زړه دریدلی ؤ.))

ښځې یي ورته وویل: ((چې دومره خوشحال وې نو هرو مرو زه هم درسره ووم.))

میرمن یې ځواب ورکړ: ((نه ! زما خوشحالي همدا وه چې ته راسره نه وې.))

دکرکټ په نړۍ کې د مراد علي ژوند لیک

مرکه: سید نقیب الله ((سحر))



دا ځل وتوانېدو چې خپلو مینه والو ته د افغانستان د کرکټ لوبډلې یوه غړي سره دهغه د ژوند په اړه یوه لنډه

کتنه وکړو چې په ځینو لوبو کې یې برخه اخستې در وپېژنو – ښاغلي مراد علي د عوض طردي زوی چې په کـال ۱۹۹۲ کـې د فاریـاب ولایـت دخـانچر بـاغ پـه ولسوالۍ کې زېږېدلی دی مورنۍ ژبه یې ترکمنۍ په پښـتو ،اردو ،فارسـي او انګلسـي ژبـو بانـدې خبـرې کوي دکرکټ بورد لـه مخې یې قد پنځه فوټه او دوه انچه دی چې اوس د افغانستان د تنکیو ځوانانودملي لوبډلې دوکیټ کیپر په توګه دنده سرته رسولې ده.

محتـرم مـراد علـي ترکمنـد نژاده او د((یـو –نـولس)) لوب ډلې سره په تېر((یو –نولس)) ولډکب کې چې په یوز لاینډ کې تر سره شو د افغانستان لخوا د ویکټ کیپرۍ دنده سرته ورسوله نومـه وړی د ویکټ کیپرۍ تر څنګ یو ښه ښې لاسی بټسمند(تـوب وهـونکی) هـم دی تر اوسه یې په څلورو ولایتو نو کې د سیالۍ بر خه اخستې ده دکونړ لـوب ډلـې سره لوبېـده بیـا دشـهاب اکیډمۍ او بیـا دپکتیکـا لـوب ډلـې سره ((T20)) تورنمنټ کې د پنجشېر سره یې سیالۍ تر سره کولـه – رسمي سفرونه یې هم کړي لومړی سفر یې ((2005)) کې د متحیده امارات د ((U17)) لوب ډلې سره ووپه همدې کال مالیشیا ته تللی او دلوب ډلې مشري یې هم په غاړه وه په دغـه وخت مې افغانستان دوه لوی لوبې کـړې وې چـې دواړه د افغانسـتان پـه ګټـه وې بیـا د افغانستان لوب ډلې تـه نواجراعات ور نـه کړای شول ځکه چې داکثره لوبغاړو عمرونه لـه (17) کـالو څخه زیات ووهمدا راز دافغانستان د U19 هـم د تورنمنټ لپاره رسمي سفر کړی همدا سې یې یو بـل رسمي سفر مالیشیا ته د Iccelt کب له پاره وو چې دغـه ګټه بیـا د نیپال پـه برخـه شوه لـه دې تورنمنټ نـه وروسـته کولیمفائنک میچونه وو چې دافغانستان پـای لـو بې ته ورسېدل همدا وجـه وه چې افغانستان هم پـه 2010 کې د ولډکب میدان ته ووته چې لومړی لوبه یې لـه هند بله یې لـه انګستان او پـه ترتیب سره دهنګانګ سره تر سره شوې د یادونې وړ ده د مراد علي کارکردګي پـه کې د ستـائیلو وړ ده پـه ELITSCAP کې همدا سې یې د ایران او هنکانګ خلاف 85 – 85 منډې جوړې کړې وې.

دمراد علي د خوښې موسیقي خپله افغانۍ کلاسیکه ده د خوښې لو غاړی یې برنډن دیپه فلمئ ادا کـارو کې یې امیتـا بچهـن خوښ دی او فلمونـو کې یې کمانډو خوښه ده.

شبیر احمد جان

چېرتـــــه چـــــا ونکـــــړه د چاســـــره ښـــــه
څنګــــه بــــه وکــــړي څــــوک لــــه ماســــره ښــــه
پـــــه ســــینګار نــــه ښــــکاربږي دومــــره ښــــکلي
څــــومره چــــې ښــــکاري لــــه حیــــا ســــره ښــــه
ماســــره خیــــر دی کــــه نیکــــي نکــــړي څــــوک
زه بــــه کومــــه لــــه هــــر چاســــره ښــــه
ځــــان ســــره چېــــر تــــه چــــا بــــر کــــړي نــــه دي
نــــو څنګــــه مــــا ونکــــړو تــــا ســــره ښــــه
څــــوک چــــې ډېــــر خــــوږ شــــي لــــوا ړ تېربــــږي هغــــه
د حــــده ډېــــر مکــــړه لــــه چاســــره ښــــه
((جانــــه)) د خــــدای پــــه نــــوم نیکــــي کــــوه تــــل
پرېــــږده دا نیــــت چــــې بــــه کــــړي ماســــره ښــــه

پـه کلیو کـې ودونـه او دودونـه

سمیع الدین افغاني

په کلیو کې د ودونو رواجونه ډېر ستونزمن وه، د واده مراسموته د ډېر پخوا څخه تیاری نیول کیده ،ځینې کورنیو به په ځوم ډېر باج او تاوانونه را وستل ، هغه یې مجبوروه چې دناوې لپاره ډول ډول جامې ،ګانې، زیـور او ډیـر نورمجللو تحایفوبرسیره دناوې نـژدې خپلوانـو تـه نقـدي او جنسـي تحـایف برابـر کـړي او

همدارنګه په واده کې د سیمې خلکو ته میلمستیا جوړه او د هغوی د خوشحالي لپاره سازیان راوبولي، چې دې او نورملا ماتونکو مصرفونو ډیر کله ځوم د ژوند تر پایه پوروړی ساته. د کلي هلکان به د سازیانو په راتګ خوښی څرګندوله، یو بل به یې د واده د ځای او د سازیانو د ډلې نه خبرول او ویل به یې چې نن شپه په بریاکوز کلي کې واده دی او د ګلکي استا دیا ماجتي، غلام، پاینده او یا کومه بله هنري ډله بې واده ته رابللې ده سازیانو او میلمنو ته په کلي او یا هم د کلي ومخې ته مناسب ځای جوړوه چې ټغرونه او کټونه به پکې پرا ته او د ګیسونو په ذریعه به روښانه کیده، سندرغاړو به په وار سره ارمونیه ترغاړې کړه او خوږې سندرې او نغمې به یې میلمنو ته اورولې، موظف کسانو به چای، چلم او اوبه ګرځولې، د سیل سیمه به د چلمونو او سګرټو په دودونو لړلې وه.

په لغمان کې محلي سازیان ډیر وه چې د هغوی د جملې څخه یو هم استاد ګل محمد وه چې په ګلکي مشهوروه، هغه به په سندرو کې د مستو بګتیو، غزلو، مصرو، او څلوریزو تر څنګ ډیر په زړه پورې داستانونه او دیني قصې کولې، ښه کمپوز، خوږې نغمې او سرودونه به یې غږول، کله کله به یې د خپل ځوی پاینده محمد سره چې په پاینده مشهوروه په سندرو کې فلبدیهه شعرونه په خوږ ونغمو کې اورول او شعري مقابله به یې کوله، همدا وجه وه چې د عوامو خلکو ډیر خوښیده.

پاینده هم خوږ اواز درلود او ښه هارمونیه یې غږوله چې ورسته بیا په یو ترافیکی پیښه کې ومړ او ګل محمد استاد تر ډیره وخته د خپل ځوی په غم کې غمجن پاته شو.

په لغمان کې د مشهورو محلي هنرمندانو له جملې څخه د استاد ګل محمد او پاینده ترڅنګ ډیر نورخوږ ژبي سندرغاړی لکه منګل استاد، ماجتي استاد، غلام محمد چې په غلامي مشهوروه، ملا، ملنګ باغبان، عاشق ملا شاګل، زیړګل او ډیر نور وه چې په محفلونو کې د ملنګ جان، بهایي جان، او د لغمان د

شاعرانو لکه علینګاری استاد، محمد نور، د ګلکاریو بسملا، اشکار، حنان، شهید ارمان، عمرزي وال، ګوجوال، فقیر سید بها الدین جان او نورو شاعرانو شعرونه په خوږونغموکې کمپوزاو په خپلو خوږو اوازونو کې خلکو ته اورول.

په همدې ډول ساز به تر سبا مازیګر دوام درلود، مازیګر به ځوانانو ډولې به په اوږه کړه، ځوم یا شاه به د ډولۍ ومخې ته او نورمیلمانه او د کلي خلک به د سازیانو د ساز په بدرګه د ډولۍ تر شا ه د ناوې د راوستلو په مقصد روان شول.

کله چې به د ناوې کلي یا کورته ورسیدل هلته به د نکاح لپاره د کلو مشران، سپین ګیري، ملکانو، دیني علما، دجومات امام او نور با نفوذه اشخاص په یوه خاص او مناسب ځا ی یا حجره کې سره راټول او شرعي نکاح به دجومات د ملاصاحب له خوا وتړله شوه چې پس له حجاب او قبول څخه ځوم او د ځوم خپلوانو ته د نکاح مبارکي ویل کیده او د نکاح خواږه به په خلکو تقسیم کړل شول. تر نکاح وروسته به سازیانو بیا یوه پنجه مست ساز وکړ او بیا به ځوم د خسر په کور کې د نوربوج او رواجونو سره پنجه نرموله، هغه داسې چې د کلي نایي، ترکاڼ، زرګر، پښ، ګلکار، اشپز او نورو به په وار سره د ځوم ومخې ته کیناستل او خپله ۵۲حقداري به یې ځینې غوښتله او ځوم مجبوره وه چې داسیالۍ ترسره کړي او دهر یو سره حقداري او څه نقدي پیسې ورته ورکړي.

وروسته له هغه به ځوم د ناوې خونې ته بیول کیده، د ناوې خونه چې د ناوې د خورلڼو، ښځو او ماشومانو څخه ډکه وه مخکې لدې څخه چې ځوم د ناوې خونې ته ننوځي د نجونو لخوا به د ناوې د خونې ورپورې ساتل کیده چې ورسته د خوشیبو څخه ځوم نجونو ته د شیرني یا نقدو پیسو په ورکولو سره د ناوې د خونې ور پرا نیسته او ځوم ته به د راتګ اجازه ورکړل شوه، د

ځوم په راتګ سره به په هغه باندې چاکلیټ، نقل ،پتاسې او تورې پیسې له هرې خوا شیندل کیدې چې په خونه کې به سمدم غوغا جوړه شوه او هرڅا هڅه کوله چې ځانله په دې چور کې څه ترلاسه کړي او ځوم ته به پس له ډیرې ګډوډۍ دا موقعه پیدا شوه چې دناوې تر څنګ ځان ورسوي او دهغې سره یوځای ودریږي.

بیا به دکلي نجونو او ښځوله چمبې یاداریا سره اوازونه پورته کړل او په مستو سندرو او نڅا ګانو به یې محفل ته خوشحاله ښه ورکوله چې په همدې ډول پس له ډیرو ټوټکو اورواجونو به په خوشحالي سره ناوې ډولۍ ته بدرګه کیده او د ټوپکو او تفنګچو په ډزو سره په ډیرخوشحالي دځوم کورته راوستله.

دځوم په کور کې مخکې له دې چې ناوې د ډولۍ څخه کوزه کړی د ډولۍ و مخې ته به یې پسه اویا چرګ حلالوه او دناوې پښه به یې په وینو سره کوله چې وروسته له هغې به ناوې د ډولۍ څخه د کوزیدو اجازه ترلاسه کړه. د ناوې په کوزیدلو سره به د واده لمړۍ او اساسي مراسم ختم او ځوم کولی شول چې وروسته له ډیرو جنجالونو او کړاونویو څه ارام وکړي،خو سره لدې هم دناوې دریمه ، تخت جمعي او په اومه کې دپلار کورته تګ بیا دومره دجنجال او د تشویش خبره نه وه. خو دوستي به یې د همېشه لپاره ښه کلکه ساتله.

حاجي ګل اغا شهباز

دیار عشق چې ازار کړو زما زړه
له دنیا نه یې بېزار کړو زما زړه
هېڅ مې نه شته ده تابیه عشق له نوره
په انګار چې دې ګوزار کړو زما زړه
که هزار تسلي ورکړمه زړګي له
په یوه جفا دې خوار کړو زما زړه
تا چې کله زما زړه په لاس کې واخست
هله تا بیا را بیدار کړو زما زړه
د هر ښکلي به تر څو جور جفا ستایم
د هر چا یې منت بار کړو زما زړه
خوب رویانو لره خدای جسن ورکړی
چې د عشق په تار دې مهار کړو زما زړه
ربه خوار کړې رقیبان زما د مینې
چې ملال یې په خونبار کړو زما زړه
چې وعدې دې له رقیبه سره وکړې
تا په مینه لاله زار کړو زما زړه
بې د رب له مینې نوره مینه څه وي
نورو مینو هسې خوار کړو زما زړه
بس دی ، بس دی توبه ګار شومه له مینې
چې ګل رنګو توبه ګار کړو زما زړه
زه شهباز ګلا اغا خدای لره ژړا کړم
چې جمیلې تل حصار کړو زما زړه

صفي الله سنګین

ملګرو په رکوع او په سجده راته یادېږي
خپل ځان راځنې هېروي خو هغه راته یادېږي
دعشق له لاسه دربغه دا زما ځنګه زوندون شو
مسجد کې هم لمانځه کې میخانه راته یادېږي
په یو نظر لیدو یې ځنګولمه په لاره
دیار د شرابي سترګو نشه راته یادېږي
درځم یا به قرار یا به په دار یا به سنګسار شم
ورځمه د اشنا دچم کوڅه راته یادېږي
دشین چنار د سیوري لاندې ناست چې زه او یاې وو
د سین غاړه داوړي سره غرمه راته یادېږي
ګلان د پسلي چې سره یو پل ته موسکي شول
سنګینه ما شومتوب هغه شېبه راته یادېږي

پښتو لنډه کیسه

استاد حبیب الله رفیع

له کومې ورځې نه چې انسان ژوند پیل کړی له هغه ورځې نه یې کیسې هم جوړې کړې او د ژوند جالبې پېښې یې د کیسو په بڼه له یو نه بل ته لېږدولې دي دلیک تر منځ ته راتک وروسته د انسان له ژوند سره تړلې دا کیسې په څه نا څه بڼه خوندي شوي او راپاتې شوي دي . فکلوري کیسې دبشر ډېرې زړې کیسې دي د دوی زاړه اندونه ، تحلیلونه او نتیجه ګیرۍ مونږ ته رارسوي او د بشري راشو درشو زړې لارې رابښیي چې اوس هم دنړۍ په زیاتو ملتونو کې خوندي دي. دننۍ لنډې کیسې یا افسانې فکر هم له همدې کیسو نه رازېږېدلی او د همدې فکلوري کیسو پر مختللې بر خه ده. هو ! نننۍ لنډه کیسه لومړی په لویدیځ کې دود شوه او هملته ددې کیسې هنري او ادبي ادانې وتاکله شوه او فني چوکاټ ورته جوړ شو. خو ددې معنی دا نه وه چې په ختیځ کې کیسه نه وه بلکه په شرق کې هم کیسه ډېره زړه او لرغونې وه ، (پنچاتنترا یا پنچاکیانه) چې د اریایي کیسو مجموعه ده تر دووزرو کلنو زیات عمر لري ، په دې مو ده کې د ژباړو له لارې تر شرق او غربه پورې ټوله دنیا تسخیر کړې ده او لومړنۍ پښتو ژباړه یې هم درې سوه کاله عمر لري چې افضل خان خټک په ۱۱۲۸ هـ ق کال کې یې نورې تر جمعې هم شوې دي. د پښتو په لیکوالۍ کې هم له لسمې پېړۍ را په دېخوا کیسې لرو او په پېښور د اخوندا حمد د لنډۍ د اخوند احمد چې په یولسمه هجري پېړۍ کې یې ژوند کاوه درې نیم سوه کاله پخوا لیکلې شوې دننۍ کیسه لیکنې په چوکاټ کې ښه مطالعه پرې کېدای شي او ډېرې هغه باریکې شته چې نننۍ کیسه یې له موږ څخه غواړي ، ((ورک زوی څنګه پیدا شو ؟)) کیسه چې د یو سف (ع) د کیسې یوه برخه ده ،د دا سې کیسو یوه ډېره ښه نمونه ده چې ما په ۱۳۲۴ لمریز کال په کتابي بڼه لیکلې ده. په دې سر بېره زموږ زیاتې اولسي فولکلوري کیسې چې موږ یې ملي کیسې بولو همدلته زمونږ خلکو رامنځ ته کړې او د پښتني کلتور زېږنده دي ، دا کیسې هم ځانګړی فني جوړښت لري چې د

نننۍ لنډې کیسې زیاتې منل شوې باریکۍ پکې شته بیا هم هغه کیسه چې موږ یې نن ((لنډه کیسه)) بولو او دغرب د شارټ ستوري په پېښو او د پېړوی رامنځ ته شوې ، په غرب کې د نولسمې پېړۍ څخه یې را تښلېدلې او په پښتو کې د شلمې پېړۍ د پیل محصول ده. لنډې کیسې که په لویدیځ کې هر څومره ځلک او بلک درلود خو پښتو ته په ((شلېدلې پڼه)) کې د پښتو دلوی لیکوال راحت زاخېلي کره راغله او د شلمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې یې د کیسې علاقمندانو ته پړونی له مخه لرې کړ ، دا کیسه که هر څومره په زړو جاموا و شلېدلې پڼه کې و خو پښتني ښکلا له لیرې پکې بربښېدله او هغه د اروانباد الفت خبره: ((په زړو جامو کې ما ولیده حوره)) . ((کونده انجلۍ)) هم د پښتو ددوهمې کیسې په توګه له راحت صاحب کره وزېږېده ، دا کیسه هم د ناوړو او کرغېړنو په کړۍ کې راګیره وه خو دفن له نظره دیوې ښې کیسې خوبۍ پکې وې او تردې راورسته په پښتونخوا له ډېرو لیکوالو کره وزېږېده او دکتابونو ،مجلو ،جریدو او ورځپاڼو غېږې یې ډکې کړې او بیا د رادیو او ټلویزونو پر څپو هم سپره او خوره شوه. ((دشلېدلې پڼې)) په زوکړه کې اختلاف دی ، ډېر لیکوال عقیده لري چې دا کیسه په ۱۹۱۸ کال راحت صاحب کره هغه وخت وزېږېده چې ((کونډې انجلۍ)) یو کال پخوا د مشرې کیسې په توګه له ده کره سترګې پرانستې وې او دا کیسې راحت صاحب د هغې نهضت تر اغېزلاندې را منځ ته کړې چې منشي پریم چند د شلمې پېړۍ د دوهمې لسیزې په پیل کې یو سرحد کې د اردو افسانې په لیکلو سره پیل کړې وه. د اروانباد سید تقویم الحق کاکاخېل ۱۹۹۹-۱۹۲۵ م د معلوماتو له مخې دا کیسه د ۱۹۰۸ کال د راحت زاخېلي نه

صرف ناول لیکل شروع کړل بلکه د شلېدلې پېړۍ ۱۳۲۲ هـ ق – ۱۹۰۸ م په نامه یې د افسانو ابتدا هم وکړه او هم نومه وړي محقق خپل د پښتو آثارو په کرونولوژیک فهرست کې دا کیسه د ۱۹۰۸ کال په چاپي اثارو کې داسې راوړې ده: ((۱۳۲۲ هـ ق \ ۱۹۰۸ م: اسرار العارفین شېر محمد هوتک ، ګلبڼ نعت ،عبدالحکیم چاردروېش، نعمت الله ، شلېدلې پېړه راحت زاخېلي دیوان احمد کلاچي. داروانباد تقویم الحق لیکنه له لیدنې سره اړه لري او پخپل فهرست راوړي اثار یې جنساً لیدلي نو ځکه باوري بربښي چې شلېدلې پېړه به یې په چاپي بڼه لیدلې وي او چې دا روایت ومنو بیا د پښتو لنډې کیسې د پریم چند د اردو کیسو په تعقیب او پیروي نه دي رامځ ته شوي او تر هغې وړاندې یې ستر ګې غړولې دي. په هر حال په پښتو کې کیسه اروانباد استاد راحت پیل کړه او دې په لړه پښتونخوا کې د پښتو هغه پیاوړي لیکوال دی چې د پښتو زاړه او نوي ادب د زنځیرونو د وصل او کوښېر کړې یې په لاس کې دي.تر دې راوروسته د اوبو العماني ازاد ۱۸۹۲-۱۹۵۹ ع ((په افغان مجله)) نومي مجله کې تر ۱۹۲۲ ع کال را وروسته نوري پښتو کیسې هم نشر شوي چې یوه یې ((دیوه مړي پیغام)) تر سر لیک لاندې دا ده پخپل قلم لیکل شوې وه او بله یې د ((د نواب صیب اشنایي)) تر سر لیک لاندې وه چې سر بلند خان د بدر شو کښلې وه. په بره پښتونخوا یا اوسني افغانستان کې هم نورو ډېرونوښتونو او ادبي پنځونو تر څنګ د لنډې کیسې پیل هم لوی

استاد حبیبي صیب ۱۹۰۸-۱۹۸۴ ع او د ۱۳۱۲ لمریز تر ۱۹۳۳ ع کال د طلوع افغان په کانې کې یې د سرو زرو ګنډ (توب) تر سر لیک لاندې یې داستاني طرحه نشر کړه چې د لنډې کیسې نخښې او څرکونه پکې وو ، ۱۳۱۵ لمریز ۱۹۳۶ ع کال د طلوع افغان په لومړۍ ګڼه کې لوی استاد پوهاند حبیبي د ((توریالۍ پښتنه)) تر سر لیک لاندې یوه حماسي کیسه خپره کړه چې د لنډې کیسې یوه بشپړه نمونه یې بللای شو. تر دې ورسته په طلوع افغان کې ګڼې لیکنې او ژباړې لنډې کیسې نشر شوي او نورو لیکوالو د لنډوکیسو په لیکلو لاس پورې کړ خو زیاتو یې نورو مصروفیتونه درلودل او لنډې کیسې یې لیکلې چې په دې لړ کې د اروانباد ګل پاچا الفت ۱۹۰۹-۱۹۷۷ ع سراج الدین سعید ، عبدالقدوس پرهېز ، مولانا محمد شریف حبیبي ،عبدلرحیم هاتف ، غلام محې الدین زرموال ، ننګ یوسف زی ،امان الله سېلاب ، محمد صدیق روهي ، نصرالله حافظ ، محمد یوسف ساپی او یو شمېر نورو کسانو نومونه اخستلای شو. تر ۱۳۳۰ لمریز ۱۹۹۵ ع کال را وروسته په افغانستان کې کیسه لیکنې ته ځانګړې پاملرنه وشوه او داسې کسان را منځ ته شول چې پښتو کیسې ته یې اساسي کار وکړ دغه کسان ترډېره حده د نړۍ له نویو ادبیاتو سره اشنا وو او داسې لنډې کیسې یې ولیکلې چې زمونږ په کیسه لیکنه کې یې نوې تجربې ګڼلای شو او په دې برخه کې دغه لیکوال د یادونې وړ دي ..... نور بیا

غـوري خبرې او نصیحتونه

1. لوړې غونډۍ ته ختل په ورو ورو تګ سره کيږي.
2. يوه شمعه دبلې شمعې په روښانه کولو سره هيڅ شی د لاسه نه ورکوي.
3. ته کولای شې شکايت وکړې چې ګلان اغزي لري او هم کولای شې خوشحاله اوسې چې اغزي ګلان لري.
4. انسانان هغه ملايکې دي چې يو وزر لري، ددې د پاره چې والوزي بايد يو او بل په غيږ کې سره ونيسي.
5. ستر او پياړي کسان هغه څوک دي چې د ژوند ډېر تر خه واقعيتونه زغملای شي.
6. که ته نن د بدلون پر اوږو باندې سفر و نه کړې سبا به هرو مرو د هغه تر پښو لا ندې پروت يې.
7. د انسان زړه د پراشوټ په شان دی، پراشوټ هغه وخت کار کوي چې خلاص شي.
8. خنډونه بېرونکي بلاوې دي او يوازې هغه وخت ستا مخته دربږي چې ته دخپل هدف څخه مخ واړوې.
9. ناکامي دا نده چې ته خپل هدف ته ونه رسېږې بلکې ناکامي هغه ده چې هيڅ هدف ونلرې.
10. کله چې موږ وده کوو موږ نه بدليږو خوهره ورځ په وضاحت سره زموږ اصليت څرګنديږي.
11. زما مشوره داده چې واده وکړه ،که دې ښه جوړه په نصيب شوه نو به خوشحاله ژوند ولرې او که نه نو بيا به فليسوف در څخه جوړ شي.
12. دستونزې څخه دتېښتې ښه لاره دهغې حل کول دي.
13. هغه څوک چې دتازه مېوې هيله لري بايد دونې سرته پورته شي.
14. هغه څه چې د خدای د رضايت سبب کيږي د هغه د مخلوق خدمت دی، يو څوک نشي کولای د خدای سره مينه ولري و د خپل ورور څخه کرکه وکړي.
15. خپل دښمنان وبخښه خو نومونه يې مه هيروه.
16. د فلسفې زده کړه ددې سبب کيږي چې انسان په ژوند کې په هوښيارۍ سره نا خوښه واوسي.
17. هيڅ کله چاته په کښته سترګه مه ګوره مګر دا چې ته دهغه دراپورته کولو په وخت کې مرسته ورسره کوې.
18. کله چې يو څوک د چا کور سوځوي، نو وه ! څه عجب اور به ځيني پورته کيږي.
19. د بشريت په وړاندې بايد باور د لاسه ورنکړو ،بشريت هغه سمندر دی چې په څو چټلو څاڅکو نه موردار يږي.
20. اصل پت اووقار هغه دی چې دنورو په بې توپيرۍ سره متاثره نشي.
21. ښه چانس په ژوند کې يووار دروازه ټکوي.
22. بې غيرته خلک د خپل مرګ څخه دمخه څو واره مړه کيږي.
23. دژړېدو څخه شکايت مه کوه ځکه ډېر خلک دغه چانس نه پيدا کوي.
24. که غواړې خپله نړۍ بدله کړې نو خپل فکرونه دې بدل کړه.
25. هغه کسان چې پر خپلو کوچنيو اشتباه ګانو باندې اعتراف کوي غواړي خپلې غټې غلطۍ پټې کړي.
26. څوک په هغه اندازه چې پخپله فکر کوي بد مرغه يا نيک مرغه ندی.
27. هغه څوک چې تا په غوسه کولای شي تا فتح کولای هم سي.
28. هغه څوک چې ښېره ايجادوي نشي کولای د بيرې څخه ازاد ژوند وکړي.
29. دتنګ نظر خاوندان معمولا پراخه خوله لري.
30. ښځه خوشحاله کيږي چې د هرشي په باب پوښتنه ځينې وشي.
31. ډېر خوشحاله خلک هغه دي چې دخپلې خوشحالۍ دپاره کم خاص دليل نلري خوفقط خوشحاله دي.
32. دسولې په وخت کې اولادونه خپل مشران ښخوي خو دجګړې په وختکې مشران خپل اولادونه خاوروته سپاري.
33. موږ يوازې هغه څوک هوښيار ګڼو چې زموږ سره سر ښوروي.
34. دبايللو په وخت کې دګټونکي اکټ کوه.
35. ددې دپاره چې کارونه سم تر سره سي نوبايد کميټه دداسي درو کسانو څخه جوړه شي چې دوه تنه يې تل غير حاضروي.
36. هغه کسان چې دنوروسره په جګړه بوخت دي دخپل ځان سره هم په سوله کې ندي.
37. که ته دباد لوري بدلولای نشې نو خپله بيړۍ دي

ورسره عیاره کړه.
38. که ته دقهر په وخت کي یوه شېبه حوصله وکړای شې نوبه دسلو ورځو د پښېمانۍ څخه ځان وژغورې.
39. د ماشومتوب خوشحالي د ژوند تر پایه دوام کوي.
40. خپلو فکرونو ته پام کوه ځکه هغوی ستا په خبرو بدلیږي، خپلو خبرو ته پام کوه ځکه هغوی ستا په عمل بدلیږي ، خپل عمل ته پام کوه ځکه هغه ستا په عادت بدلیږي، خپل عادت ته پام کوه ځکه هغه ستا په کرکټر بدلیږي، خپل کرکټر ته پام کوه ځکه هغه ستا په سرنوشت بدلیږي.
41. د خلکو سره ستا اړیکې د بانکي حساب په شان دي، خلک په بانک کې یا پیسې اچوي یا یې را باسي، نو پام کوه چي پخپلو خبرو او کړوسره خپل بانکي حساب تش نه کړې.
42. دټولو انسانانو تر منځ یو مشترک خاصیت شته ،هغه دادی چي ټول یو دبل سره توپیر لري.
43. تر څو چي دې خپل هنر خلکو ته نه وي ښوولی، مه پربږده چي مړ شې.
44. هیڅ شی دیوې مخکنۍ دقیقې په اندازه لیرې ندی.
45. ته په هغه ذهنیت مشکل نسې حلولای چې دغه مشکل یې زېږولی دی.
46. دیوتن مړینه تراژیدي ده، دملینونو تنو مړینه احصاییه ده.-
47. عقل دهغو فکرونو څخه ځان ګوښه کوي چې دکمزورۍ سبب کیږي.
48. عمل تر الفاظو په لوړ اواز ږغیږي.
49. دښځې مړه کاته دېره پیاوړې تلکه ده.
50. موږ ځکه دیو چاڅخه کرکه کوو چې سم یې نه پېژنو او هیڅکله به یې سم ونه پېژنو ځکه چي کرکه ځیني کوو.
51. د ضایع سوي وخت په خاطر پښېماني لا نوره هم دوخت ضیاع ده.
52. که ته دخپل ځان سره مینه ونلرې، بل چاته هم مینه نسې ورکولای.
53. باور دمینې ډېر پیاوړی ثبوت دی.
54. حتی که ډېر ښایسته انسان په غوسه شي لا هم بد ایسي.
55. ستر مغزونه دمفکورو په باره کې ږغیږي، متوسط مغزونه د پیښو په هکله خبرې کوي او کوچني مغزونه دخلکو په اړه بیان کوي.
56. هغه څوک چي پیسې بایلي هغه ډېر څه دلاسه ورکوي، هغه څوک چي یو دوست دلاسه ورکوي هغه بیخي ډېر څه بایلي، هغه څوک چي امید دلاسه ورکوي هغه ټوله شیان بایلي.
57. پرون تاریخ دی، نن سوغات دی، سبا معماده.
58. مهربان زړه باغ دی، مهربان فکر ریښه ده، مهربانه خبره ګل دی، مهربان عمل مېوه ده.
59. تل په یاد لره چې ته هم دبل هر چا په شان یو خاص انسان یې.
60. دکتاب په باب دهغه د پوښ له مخې قضاوت مه کوه.
61. تر څوچې ژوندی یې خوشحاله اوسه ځکه بیا به د تل دپاره مړ یې.
62. هیڅکله داوبو ژور تیا په دواړو پښو مه ګوره.
63. که ته رشتیا وو ایې هیڅکله به ضرورت ونلرې چې کم شی په یاد وساتې.

شیطاني ځواک د نړۍ څخه تېښتې ته اړ باسه

څېړنوال سید محي الدین هاشمي

جنګ – جګړه همغه اورني غړونه دي چي ډېر ښکلي اندامونه له ځواک او حرکته پرېباسي ، ډېرې دنګې موزوني تنې او د ګل پشان ځېرې په وینو او خاورو لړي او هغه خطرناک شیطاني دښمن دی چې ډېر نومیالي او مېړني د سترګو په رپ سره د نابودۍ کندې ته غورځوي. هغه تونـد بـاد او سېلۍ ده چې د ډېرو سروه او چنار قدو تاندو نیالګیو ریښې یې له مونډه را ایستي او ډېرې پرتمنې ماڼۍ پخې کلاګانې دنګ

برجونه او ديوالونه يې رانسکور کړي دي. دغه بد شکله او ناوړه ديوډېرې سوکاله او خوښمنې کورنۍ د ماتم پر ټغر کېښنولي دي او ډېر ځوانان يې د ځوانۍ له بې شمېرو هيلو او تاندو ارمانونو سره د مرګ ستونې او کومې ته ورټېل وهلي دي ډېر اباد او روښانه کورونه يې ړنګ او تپه تياره کړي دي ډېر د جنت په څېر ګلبڼونه يې په دښتو اغزيو ځنګلونو او د غم او ماتم په ځالوبدل کړي دي. همدغې خزان او سېلۍ ډېر ښېرازه کروندې او سمسور بڼونه چې بلبلانو او توتيانو به پکې زړه خوښونکي غږونه او نغمې غږولې په شاړو او سپېرو دښتو د ګونګيانو کارغانو او ټپوسانو په ځالو بدل کړي دي . بېشمېره ځانونه اوزړونه دغه يادغه ارمان ،هيلې اوغوښتې نه دفاع يا ساتنې پر ډګر له يوه يون او حرکت نه غورځولي او په زرګونو سرونه يې چې له ارزښتناکو ژورو فکرونو او لوړو خيالونو نه ډک وو تر خاورو لاندې کړي دي. اې جګړې ! اې د ژوند د مانۍ را لړزونکې رانسکوره کونکې د انساني اړيکو او ريښوغوځونکې !وواېه چې: تر کومه دا وينې تويه ونې او دا اور بلونې تر کله دا وژنې کورونه او شتمنۍ سوځونې بس ندې لا اوس دې هم خوا هم نه ده پرې سړه شوې !؟ ته يې چې د بشر په خوله کې د نېکمرغۍ خواږه په زهرو لړې خوښي او سرور يې په وير او ماتم بدلوې همدا ستا له لاسه پر هره خوا د غم لړې راخپرې او ماتم کريکې د بېلتون شوا خوان ، سور ځوک تر غوږو کېږي. ډېرې ميندې او پلرونه همدا ستا له لاسه دخپلو خوږو او نازولو اولادونو د مرګ ژوبلې بې شمېره داغونه پر زړه اود بېلتا نه څپېړې پر مخ وهلي دي ډېرې مېرمنې د خپلو مېړونو د ليدلو هيلې په زړه کې پالي خو ته يې همدا سې ناهيلې او نيمه خوا پرېږدې ډېر مينان وي چې د معشوقو د ښکلا او جمال د وصال په تمه وي خو ته يې په يوه ګولۍ دې ټولو هيلو سره تورو خاورو ته ور لېږې ډېرې خوږې او په زړه پورې خاطرې له زړونو او ذهنونو وباسې او د ټنګ ټکور د زړه وړونکو او روح خوشالونکو نغمو پر ځاې هر چېرې د بم توپ او توغوند يو .... غونې زېږونکې او غوږ کڼونکې غږونه او ځوږونه خپروې ډېرې ښکلې طبعي منظرې د غرو لمنې ځروبې (ابشارونه) د ويالو سيندونو خوړونو غاړې او ورشو ګانې د مرګ ژوبلې ډګر ګرځوې او پکې د وينو ويالې روانوې. اې جګړې !اې کور ورانونکې اې د زړونو دکعبې ړنګونکې ! ولې زموږ دا ښکلې نړۍ په کنډوالو بدلوې ولې مو دا کلي ښارونه او پرتمينې مانۍ وېجاړوې په ميليونو وګړي لوی واړه ښځې او نران د نېستۍ کندې ته غورځوې او بې شمېره جنايات تر سره کوې. ته يې چې پر هره خوا د بشر د هيلو او اميدونو درمندو نه او هر څه سوځوې همدا ستا اورونه دي چې هر چېرې يې د بشر هستۍ او شتمنۍ تـه لاره کړې او همېشه يې سوځولو او له منځه وړلو په هوډ او تکل کې يې. آه !څه شوه هغه د سولې پرښته چې نړۍ کې د بيوزلي انسان پر سر خپل ژغورونکي وزرونه وغوړوي او د جګړې ديو ناولې څېرې نه دا په بېل بېل رنګ او نيرنګ تاوې کړې پردې و څېرې دنړۍ له مخه يې ورک او بشريت يې له شر او شور ه وژغوري چېرې ده هغه د سولې ځلېدونکې لمر چې ژر ، ژر د نړۍ پر اسمان را وځلېږي او دجګړې دا توري وربځې او خړې لړې د تل لپاره دا سې ورکې او تالا ترغه کړي چې بيا هېڅکله را ټولې نه شي.نو !اې د سولې پرښتې ! پخپلو وزرونو دې خاورينې نړۍ ته راشه او د جګړې ناوړه شيطاني او اهريمني ځواک د نړۍ له مخ څخه تېښتې ته اړ باسه په همدې هيله موږ ټول ستا راتلو ته ستر ګې په لار يو هرکله راشه !!!



عمر بورا زماني (ډنمارک)

مسافر يم په سفر يم
نه لاره نه منزل شته
په دوه لارو چې روان يم
نه مې ځای او نه محل شته
په دې لارو کې تنها يم
نه څوک راسره مل شته
نه دښکلو محفلونه
نه مکر او نه چل شته
نه اواز شته نه سندرې
نه ټپه او نه غزل شته
نه سپرلی او نه ګلونه
نه شبنم نه اوربدل شته
نه بادونه د خزان

نـــــه پـــــاڼې رژ بـــــدل شــــــته
نـــــه زور د زورورو
نـــــه جنـــګ او نـــــه جــــدل شــــته
نـــــه رواج د ولســـــونو
نـــــه تربـــــور او نـــــه بــــدل شـــته
رانـــــه پـــــاتې هـــــر څـــه پـــــاتې
نـــــه ژونـــــدون او نـــــه اجـــــل شــــته
د ســـــوالونو ځوابونـــــو
نـــــه نقـــــل او نـــــه حـــــل شـــــته
نـــــه ولـــــړه او نـــــه تنـــــده
نـــــه حـــــرس نـــــه کړېـــــدل شـــــته
تـــــه دې وران قبـــــر تـــــه ګـــــوره
نـــــه خنـــــدل او نـــــه ژړل شـــــته
پـــــه مـــــزل مـــــزل روان يـــــې
نـــــه پـــــه ژونـــــد کـــــې ودرېـــــدل شـــــته
بـــــورا دغـــــه دی ســـــتا قبـــــر
بـــــس يـــــو تـــــه او ســـــتا عمـــــل شـــــته

دصياد ظالم په غشو

سيد صابر شاه (صابر)

هغه به زما د دوکان په اخيري ګوډ کې ناست وو غلی ، غلی خاموش ، خاموش د پښتو شعر د سينګار ژوند او ښايست خبرې يې اورېدې د پښتو له ډک محفل نه به يې خوند او رنګ اخسته مياشتې تېرې شوې کلونه واوړېدل ما ته د هغه په رڼو ،رڼو سترګو کې د پښتو د زلمي غزل راتلونکی برېښېده خو ما به د کسته د مينې دا جذبې دا تلوسې نورې هم غځولې او سپړدې تنې پرېښودلې غوښتلې او هر کله چې په دې پوهه شوم چې

د هغه د فکر او احساس په دښتو اوس د محاصر شعر د ګلونو ورېمو اتڼ ، اتڼ بادونه الوتل شروع دي نو داد او توجو مو ورته نوره هم ورزياته کړه هغه خاموشو ، خاموشو شونډو ژپې وکړې هغه رڼو سترګو د پانوس د رڼاګانو د شفق د سرخو غوندې غوړېدلې خبرې شروع کړې روښانه شوې ګويانه شوې نن د هغه د ژوند او رومان نه ډکو شعرونو ته ګورم د هنر په تومنه لړلی غزلونه لولم خفه او کچه شم شرمنده شم..... ! ای کاش چې دا(پټ مارو) مو ډېر وروسته وپېژنده هغه په دې ارضېدو چې د خپل د شعر د زده کړې په اولنۍ شېبو کې په شاه ټپول شوی وای – ځکه د هغه په شعر کې دومره زور ، دوموره اور ، خوند ،هنر شعريت مقصديت او حسن وار ژوند شته چې د ډېرو (تش به نوم) بابا ګانو ، دادا ګانو شعرونه او فکرونه يې د (لمر خصلته) احساس په مخ کې ډيوې ، ډيوې برېښي موږ که پخپلو کشرانو شاعرانو ملګرو کې په چا ډېر فخر ،ډېر وياړ او ناز کوو په هغو کې يو نن دا (بلاخياله) حسن باره شاعر (نظير الحق قريشي) دی چې دا خپل زور داره خيالات او احساسات به يې د سباني حسن رېزه غزل پلارولۍ ته رسوي.

زمـــا پـــه څلـــي بانـــدې جـــوړ کانـــدئ د کـــاڼو کتـــار
دامـــات منګـــي کـــړئ تـــرې چـــاربېر لکـــه د زاڼـــو کتـــار
مـــا د وطـــن پـــه هغـــه لـــرې ســـردرو کـــې خښ کـــړئ
چېرتـــه چـــې ګـــورئ د ګـــورګرو او ممـــاڼو کتـــار



مطالعه ولې او څنګه !

انعام الله ګوهر ، پېښور

د قلم د خاوند د پاره مطالعه دومره ضروري ده لکه د انسان ژوند د پاره خوراک او څښاک.پرته له مطالعې د قلم په ميدان کې يو قدم هم مخ په وړاندې تلل ګران دي.علم نه يوازې

د انسان ځانګړتيا ده بلکه دده يو بنيادي ضرورت هم دی او د علم د تکميل يوازې لار مطالعه ده.د چاپېريال او محيط پرمختګ هم د يوه لوستکونکي اهمه فريضه ده له همدې وجه مطالعه زمونږ يو سماجي ضرورت هم دی.که چېرې څوک له

کوم ښوونځي يا مدرسې نه له فراغت وروسته ارام کېني نو دده فکر او سوچ دايره تنګيږي. مطالعه په انسان کې د موجود استعداد او صلاحيتونو راپارولو يوه غوره وسيله ده،د مطالعې په ذريعه انسان کولای شي چې د خپل فکر او سوچ دايره پراخه او په خپلو معلوماتو کې وسعت پيدا کړي.مطالعه يو داسې دوربين دی په کوم کې چې انسان د نړۍ ګوټ ګوټ ليدلای شي او د هر ځای له سياسي او اقتصادي حالاتو ځان خبرولای شي .مولانا نورعالم خليل ليکي "نن سبا ليکوالان ډېر زيات شوي او لوستونکي کم شوي چې په نتيجه کې يې د خط او کتابت اغيز ختم شوی نو له دې کبله په ليکنه کې د اثر پيدا کولو لپاره ضروري دا ده چې د يوې صفحې ليکلو لپاره بايد د سلو صفحو مطالعه وشي "هر څومره چې د يوه ليکوال مطالعه ډېره او پراخه وي هم هومره به د هغه ليکنې اغېزناکې او په زړه پورې وي کنه نو ليکنه به يې کمزورې او بې روحه وي.د عربي مشهوره مقوله ده چې کتاب تر ټولو غوره ملګری دی لکه څنګه چې ارواښاد سورش ويلي چې د کتاب نه پرته بل اخلاص مند ملګری نشته. همدا راز يو بل دانشور وايي "د کتابونو مطالعه د انسان شخصيت د پرمختګ تر لوړو منزلونو تر رسولو يوه اهمه ذريعه،د معلوماتو لاس ته راوړلو ،خپله عملي کارکردګي له يوه نسل نه بل ته د انتقال او د ذهن او سوچ د فراخولو يو ښه ذريعه ده ".

طريقه: مطالعه يوه ښکلي باغ ته ورته ده،په دې کې خوشبوياني،رنګارنګ ګلان،زړه راښکونکي ښکلاګانې او اغزي لرونکي شاخونه هم شته.لکه څومره چې مطالعه ضروري ده، دومره د مطالعې کولو له طريقې ځخه ځان خبرول هم ضروري ده.يو کار هلته اغېزناک او موثر ثابتيږي کله چې هغه د اصولو مطابق وشي کنې نو د کتيې په ځای د نقصان خطره ده. د مثال په توګه له تاسره وخت هم ډېر دی او

په زړه پوري کتابونه هم لرې خو په ذهني فيشار دی دربانديی ،سترګي دي درد کوي او يا ښه موضوع ځای نشته اوس که ته


په دې حال کې د مطالعې کوشش وکړې نو صخت ته زيان لري ځکه د صحت خيال ساتل هم ضروري ده،باالخصوص د سترګو

:.

حاصلِ مطالعه: له مطالعې سره سره د مطالعې حاصل هم اهم دی.د علومو او معلوماتو مثال د يوه شکاري په څېر دی له دې کبله زر هغه په خپل قابو کې راوستل په کار دي لکه څنګه چې حضرت امام شافعي رحمه الله فرمايي " علم د شکار په څېر دی ،د کتابت په واسطه هغه قيد کړئ "نو په کار ده چې د مطالعې په وخت له ځان سره کاغذ او قلم کېږدئ تر څو ضروري نقطې له ځانه سره وليکئ او همدا راز په اهمو خبرو نشان کاږئ.له مطالعې وروسته کوښښ وکړئ هغه څه چې لوستلي مودي له ځان سره تکرار کړئ او په ياد يې کړئ تر څو په ښه توګه مو په مغزو کې پاتې شي .يوه بله مهمه خبره او هغه دا ده چې د مطالعې دپاره ښه ارام او ګوښه ځای انتخاب کړئ.

لکه شمع سوځېدم بـــــه تر سهاره
ستـــا فراق وه ،ژړېدم به تر سهاره
د هجران ترخې شيبې وې ،تنـــهايي وه
بې وسي وه ، کړېدم بـــــه تر سهاره
کړی شپه به ستـا په لارو په کوڅو کې
ليونی وم ، ګرځېدم بـــــه تر سهاره
د غـــمازاو ستا تر منځ به مرکې وې
زه به نـــاست وم، ځورېدم به تر سهاره
چې به يـــار په غېږ کې ونيولم کله
بـــيا به مست وم، زنګېدم به تر سهاره
هر شپه چې تېريده به ستـــا په غم کې
اف توبه ده ! مړ کېدم بـــــه تر سهاره
پـــاکه مينه وه ((ګوهر)) په يوه خوله
عجيبه ده ،شرمېدم به تر ســـــهاره

د ا احساس به هم ووژل شي



زيب منتظر

دجمعې ورځ وه ، مورېانديوالانو چې داوونـې پـه اوږدوکې دد فترد کارونو څخه ستړي ستومانه شوي وو ، پريکړه وکړه چې دښـــارکوم پـــارک يـــاکوم بـــل ښـکلي ځـــای تـــه لاړشو او د يو څو ګړيو لپاره هلته کينو تر څو مولږغونـدې ذهنونـه ارام وويښـي شـي. همداسې موو کړل او دپارک خواته روان شوو . کله چې پارک ته ورسيدو ،

پـه يـوه ګوښـه کـې موځـای ونيـوه ينا سـتو. لړغونـدې ګرمـي وه او موږتيږي شوي وونوځکه مودفانتا يولوی بوتـل اوڅو يوځلي ګلاسـونه راوخيسـتل چـې خپلـه تنـده پـرې ماتـه کـړو . فانتا موڅښله اوخولکت موهم کاوه ، پدې وخت کې يو ماشوم چې دڅلورياهم پنځوکالوبه وي راغی وويـې ويـل- : کاکا ! داخالي بوتـل خوبـه بيا ماتـه راکړئ؟ !!ما دسرپه ښورولوسره ورته وښودله چې سمه ده اوخالی بوتـل بـه ده تـه ورکـوو. موږپـه خبرولګيـا اوورو وروموورسـره فانتـاهم څښـلـه ،ماشـوم شااوخواتاويده راتاويده اوزموږ يلاسونو اوخولوتـه بـه يې پـه ډيرمعصومانه ښه کتل ، ماته داسې ښکاره شوه چې دنوموړي فانتاتـه ډيـرزړه کيـده. موږداندیوالانولـه منځـه يـوه کـس فانتاڅښـلـه اوهغـه دچاخبره ډيـره پـه ستايل اوخوند سره يـې دګيلاس نه غړپونه کول. ماشوم دهغـه خولې اوګيلاس تـه کتـل اوکله چې به زموږانديوال دګيلاس نـه غـړپ وکـړ، نـو ماشوم بـه ورسره لاړې تيرې کړې .مادغه حالت ونه شوزغملی نوماشوم تـه مې غږکړ -:راشه بچيه ! دغه بوتل درواخلـه . پـه بوتـل کـې لږڅه فانتاپاتې وه. ماشوم پـه ډيـره تلوسـه ، خوپـه مودبانـه ښه راغئ څوبوتل ورواخلی -:بچيه !واخله دافانتا مې هم درته پرې ايښې ده داوڅښه - ماشوم ته مې په مهربانه اوزړه سوانده لهجه وويل. ماشوم بوتل واخيست ، دبوتل خوله يې کلکه کړه. پـه لاسونو کې يې نوركوچني اولوی بوتلونه هم نيولي وو ، هغه دفانتابوتل يې پـه تخرګ کې ټينګ ونيوه اوپداسې حال کې چې يـوه عجيبـه غونـدې معصـومه خوښـي يـې پـرمخ خـوره شـوې وه ، روان شـو. مادډې لپـاره چـې دفانتادايويانيم ګلاس پاتې شونی وروسته ورنه نورماشومان وانخلي اويا خويې څوک ورپورې ونه ځوروي ،نوورتـه ومـې ويـل : کينـه بچيـه، همدلتـه يـې وڅښـه -.!نـه کاکااوس يـې نـه څښـم ، کورتـه يـې وړم تـه خوکينـه همدلتـه يـې وڅښـه ،کورتـه يـې دڅـه لپـاره وړې - ماوويـل -.کاکا !،خپلـې کـوچنۍ خـور تـه يـې وړم هغـه دتانـه کشـره ده ؟ -هوکاکا -!الکـه چـې ډيـره دربانـدې ګرانـه وي ؟!ماشـوم دسـرپه خورولوسـره وښودله چې ورکـۍ وربانـدې ګرانـه ده ډيرافرين بچيـه، زه غلـی شـوم ، سـوچ يـووړم اوهـک پـک شـوم .ماشـوم چـې ځـان يـې زمااحسان من ګڼه ، نوددی لپاره چې زماخبره يې پرځمکه نه وي غورځولې اوخوابدی کړی يې نه وم ،کيناست اودبوتل خوله يـې بيرته خلاصه کړه ،فانتايې پـه ګيلاس کـې تشـه کـړه. ګيلاس تـه دفانتادتويولوپـه مهـال يـې لاسـونه هـم لږغونـدې ريږيـدل ،شايد دابه دشرم احساس وو يا خوبه هم تلوسه اوډيره خوښـي وه چې فانتايې ترلاسه کړې وه فانتايې په ګيلاس کې واچلوله اوپه لـږ غونـدې ريږيدونکولاسـويې دخـولې خواتـه پورتـه کـړ، خپلومعصومو ،خړوپړوشونډوته يـې ورنـژدې کړ،موږتـه يـې داسې وښودله چې ګني څښـي يـې اوورو وروروان شو. لږچې ليري شو ، بيرته کيناست ، دخالي شوي بوتل خولـه يـې خلاصـه کړه اوپداسې حال کې چې نه يې غوښتل چې موږيې ووينو ، دګيلاسه نه يې فانتا بيرته په بوتل کې تويه کړه. دبوتل خوله يې کلکه کړه اوپداسې حال کې چې د يوې عجيبه اونه بيانيدونکې خوښـۍ احسـاس يـې پـه معصـومه اودبـې وزلـۍ پـه سـپيرودوړواوګردنوکې خـړې پـړې څيـرې بانـدې لـه ورايـه ښکاريده ، دکورپه لورپه ځغاسته شوترڅوفانتاخپلې کوچنۍ اوده تـه ګرانـې خـورکۍ تـه ورسـوي مـاچې ددغـه ماشـوم دغـه ژورانسـاني احسـاس وليـده ، هـک پـک پـاتې شـوم ، دبـدن وېښـتان زيږشـول داماشوم چې نـه خـويې ددولتونواوشـتمنۍ سره، چې لويـان يې دترلاسه ،ماشـومان يتيمـوي ،تـورې سرې کونـډوي ،او... وي ، څـه مينـه درلـوده ، نـه خودڅـوکۍ ولوړوپوسـتونواوځواک اوواک انديښـنه ورسره وه ، نـه خويې لادااوږدپکراوليرې ګتـود پـه نظرکـې يولواواتکـل کولونـاوړه صلاحيت درلوده ، نه خويې کوم اوږدمهاله ارمانونه اوهيلې پـه زړه کې ساتلې وې ، همدادفانتايوغړپ چې پـه بوتـل کـې پـاتې شوی اواوس دده پـه لاس کـې وو ، دده لپـاره هرڅه وو - دده لپـاره هـم ارمـان وواوهـم نـه پـوره کيـدونکې هيلـه.دده دغـه ارمـان اوناشـونې هيلـه نـابيره پـوره شـوې وه ، خـوده پرخپـل نفـس ، پلوخواهشاتو ،خپلوغوښتنوپښـه کيښـوده اودخپلـې خـورکۍ ديـوې ګـړۍ خوشـالي يـې چـې ددې غـړپ پـه ترلاسـه کولوسره بـه يـې احساس کړي ، غوره وګڼله.د انوداحساس انتهاده خودافسوس خبره داده چې دامعصوم ، پاک ،انساني !اوسپيڅلی احساس به هم دوخت پـه تيريدوسـره ددې پرځـای چـې لاوروزل شـي ، وده ورکـړی شـي اووهڅول شي ، دموږلويانولخوا وځپل شي ،ترپښوبه لاندې شـي ،وبه وژل شي اوهمدامعصوم اوسپيڅلی ماشوم به سبادځينونورولويانوپه شـان نـه دخپلـې خور،نـه دخپـل ولـس اونـه خـوهم دخپلـې خـاورې سـره دمينـې احسـاس ولـري. داټـول ارزښـتونه بـه دخپلـوورو اوبـې ارزښته خواهشاتو ،غوښتنواوګټونه ځاراوقربانوي.

د پوستکي د ژورو سوځېدنو په درملنه کې نوی پرمختګ

فضل محمود فضلي له ټول افغان نه په مننه

فرانسوي ځېړونکي وايي چې دوي داسې لارې چارې موندلې چې د انسان د امبريو د موروني حجرو (Human embryonic stem cells) په کارولو سره، په لابراتوار کې د پوستکي په جوړولو بريالي شوي چې دا به د پوستکي د ژورو سوځيدنو په درملنه کې لويه مرسته وکړي. دغه ځېړونکي وايي چې د انسان موروني حجرې په موږکانو کې د پيوند نه ۱۲ اونۍ وروسته په بشپړه توګه د انسان په پوستکي بدلون وموند. ځېړونکي د Lancet په مجله کې ليکي چې دغه پرمختګ به هغه ستونزه چې اوس د پوستکي د پيوند په برخه کې شته، حل کړي. په شته او سني ميتودونو کې د ناروغ بدن د هغه پيوند پر وړاندې چې د يو بل شخص څخه پيوند شوي وي کله کله غبرګون ښيي او په پايله کې پيوند ځان نه نيسي. د انسان د موروني حجرو يو کارپوه وايي چې دا د روغتيا په ډګر وروستی مهم پرمختګ دی.

د پوستکي د پراخو سوځيدنو په درملنه
اوسني شته تخنيکونه:

څه د پاسه دا شل کاله کيږي چې د ژورو سوځيدنو درملنه د داسې يو تخنيک پوسيله چې خپله د ناروغ د پوستکي حجرو ته په لابراتوار کې وده ورکول کيږي، ترسره کيږي. خو دغه تخنيک لږترلږه دری اونی وخت نيسی چې پدی موده کې د ناروغ ژوند د ډيهايډريشن او انتاناتو له امله د ګواښ سره مخ کيږي. په دغو دريو اونيو کې د ناروغ سوځيدلي برخې د نورو مړو اجسادو (Cadaver) د پوستکي پوسيله د لنډې مودې لپاره پوښل کيږي. خو د کاډاوير پوستکي ته هر وخت لاس رسی شونی ندی او که وي هم د ناروغ د معافيت پوسيله د دغه موقت پوښ د رد کيدو خطر خورا زيات دی ددغه ستونزې د حل لپاره يو ډول مصنوعي جالۍ هم کارول شوي. ددغو جاليو د پاسه د پوستکي حجرې وده کوي خو دا تخنيک د پراخو سوځيدنو لپاره کار نه ورکوي ځکه د ناروغ د معافيت پوسيله د رد کيدو خطر زيات دی او لامل يې دادی چې



ددغو جاليو په جوړښت کې د نورو انسانانو او غواګانو څخه مواد کارول شوي.

نوی تخنيک : ځېړونکي د امبريو د تکامل هغه بيولوژيکي پړاونه ګام په ګام عملي کړي چې د پوستکي د جوړښت سبب ګرځي. داسې چې دوی په اول سر کې د پوستکي حجرې د يو مصنوعي جال د پاسه کيښودل، دغه جال د حجرو سره مرسته وکړه ترڅو د پوستکي يوه نوی طبقه جوړه کړي. وروسته له هغې، د پوستکي دغه نوي طبقه په پنځو موږکانو باندې پيوند شو او ۱۲ اونۍ وروسته نوی پوستکی چې په بشپړه توګه د انسان د پوستکي سره ورته و، منځته راغی. د فرانسې په Evry ښار کې د Institute for Exploration of Monogenic Stem Cell Therapy and Disease د اداری يوی غړی ډاکټره Baldeschi Christine وايي چې د ځېړنې پايلې له هيلو ډک دي. هغې وويل چې دغه تخنيک به د پوستکي د پراخو سوځيدونو د پوښولو لپاره د يوی پراخی او بډايي سرچينې په توګه تر هغې چې د ناروغ د خپلو حجرو پوسيله د پوستکي پيوند په لابراتوار کې چمتو شي، رول ولوبوي. ځېړونکي غواړي چې دغه ځېړنه په انسانانو کې تجربه کړي. د استراليا په ملبورن کې د Peter MacCullum Cancer Centre يو غړی Holger Scluter وايي چې ځېړنه يو ډير ارزښتمن پرمختګ وړاندې کوي. ښاغلی Scluter وايي: "د ځېړنې راتلونکی ګام به د پوستکي د موروني حجرې جوړول وي". "دغه موندنی داسې وړانديز کوي چې د امبريو د موروني حجرې څخه جوړ شوی پوستکی کيدای شي د هغو ناروغانو د سوځيدنې په درملنه وکارول شي کوم چې د پيوند لپاره انتظار باسي، پدې ډول پيوند کې د ناروغ د معافيت د سيستم له خوا به د پيوند د رد کيدو خطر ډيرکم وي.